# ګردود پوهنه

لیکوال: پوهنیار عصمت الله میاخېل

# ګړدود پوهنه

(د پوهنتون له تحصیلي نصاب سره برابر)

پوهنیار عصمت الله میاخېل

Download from: https://liyanamiri.com

ددغه اثر ځانګړنې:
دکتاب نوم: ګړدودپوهنه (Dialectology)
لیکوال: پوهنیار عصمت الله میاخېل
کمپوزګر: په خپله لیکوال
برېښنالیک: Miakhilismatullah۳۰@gmail.com
چاپ وار: دوه یم
چاپ کال: ۱۳۹۷ لمریز
چاپشمېر: ۱۰۰۰
خپرندوی: لیان امیری بنسټ، هرات ښار.
اوډګر: د لیان امیري بنسټ فرهنګی څانګه.
د پښتی طرح: محمدواثق هاشمی
چاپ ځای: بصیرا اسلمی چاپخانه، هرات ښار، دګدام کوڅه. ۰۴۰-۲۲۲۰۲۰۲
یادونه: دچاپ ټول حقوق د کتاب د لیکوال په واک کې دي. څوک یې
دېرنټ او په خپل سر خپرولو واک نه لري.

Download from: https://liyanamiri.com

بسم الله الرحمن الرحیم



Download from: https://liyanamiri.com

## ډالۍ

زما ګران پلار او ټولې کورنۍ ته، خپلو استادانو او هم مسلکو ته.
ټول کړېدلي ولس او هغو ته چې د ستونزو له امله يې زده کړې نه دي کړي خو نورو ته يې د زده کړو زمينه برابره کړې.

Download from: https://liyanamiri.com

## مننه او کور ودانی

د لیان امیری بنسټ له مشرتابه په ځانګړي ډول د دغه بنسټ له مشر انجینیر سیداسماعیل امیري څخه مننه کوم چې ددغه کتاب د چاپ له پاره یې لېوالتیا وښوده او د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. دا یو نېک کار دی چې ده وکړ. د یادونې ده چې د نورو لیکوالو کتابونه هم ددوی له خوا په ورین تندي ددوی په لګښت چاپ شوي او زما کتاب (ګړدود پوهه) یې بله بېلګه ده چې تاسې یې نن په چاپي بڼه په لاس کې لرئ. بیا یې هم کور ودان!

پوهنیار عصمت الله میاخېل

Download from: https://liyanamiri.com

## تقریظ

زبانشناسی علم جدیدی است که سابقهٔ آن به بیشتر از دو قرن نمی‌رسد. هر چند مسایل و تحلیل‌های زبانشناسی در طول تاریخ و از دوره‌های ماقبل میلاد جسته گریخته در کتب و رسالات ذکر شده، ولی به گونهٔ علم مستقل فقط از قرن هیجدهم میلادی است که قدعلم نموده، تحقیق و تفحص‌های زیادی را به خود اختصاص داده است. در بیش از پانزده قرن مسایل زبانشناسی و تحلیل‌های مربوط به آن، در قالب علومی چون ریشه شناسی، دستور زبان، فلسفه، علوم طبیعی و سایر بخش‌ها مطالعه می‌شده، ولی از قرن هیجدهم به بعد زبانشناسی به صفت علمی مستقل معرفی گردیده است. تحقیقات پیرامون علم زبانشناسی از قرن هیجدهم به حدی زیاد شده که قرن نوزدهم بیشترین تحقیقات دانشمندان صرف علم زبانشناسی گردید. چنان‌چه قرن هیجدهم را به نام قرن زبانشناسی تاریخی یاد می‌کنند.

رابطهٔ علم زبانشناسی با علوم مختلفه به حدی است که گاه بعضی از این علوم را جزء علم زبانشناسی به حساب می‌آورند. در حالی‌که این علوم قایم به ذات خود بوده، علم مستقلی شمرده می‌شوند، ولی کارایی و مفیدیت آن‌ها در قالب علم زبانشناسی می‌باشد که رقم می‌خورد و تعریف می‌گردد. مثل آوا شناسی، واژه شناسی، لهجه‌شناسی، ریشه شناسی و همانند این‌ها. هر کدام با این‌که علم مستقلی هستند موجودیت شان تنها در کنار علم زبانشناسی قابلیت تعریف می‌یابند.

در عرصهٔ علم زبانشناسی در کشور ما و در مجموع در پوهنتون‌ها و مراکز تحقیقی ما کار کمتری صورت گرفته است و ما در راستای مسایل زبانشناسی در آغاز راه هستیم. نیاز است اساتید و محققان ما کار بیشتری در این عرصه انجام دهند تا محصلان ما توان آشنایی بیشتر با این علم نو پا را به دست بیاورند. از

Download from: https://liyanamiri.com

آن‌جایی که زبان به صفت یکی از نعمات بزرگ الهی، بی‌هیچ زحمتی در اختیار انسان قرار داده می‌شود، ما هم در طول تاریخ کمتر زحمت مطالعه و تحقیق پیرامون زبان را به خود داده‌ایم. یکی از دلایلی که انسان کمتر به تحقیق و تفحص پیرامون زبان و مسایل زبانی پرداخته، همین امر می‌تواند باشد.

اساتید ما باید که در قسمت مسایل زبانشناسی زحمت بیشتری را متحمل شده، تحقیقات در خور اهمیتی را انجام دهند چون ما در مقاطع مختلف تحصیلی نیاز شدید به مطالعات زبانی و مسایل مربوط به علم زبانشناسی است. رساله‌یی را که محترم پوهنیار استاد عصمت‌الله میاخیل زحمت تحقیق آن را به زبان پشتو داشته‌اند، نه تنها در دیپارمنت های پشتوی ما حایز اهمیت علمی است که در سایر دیپارتمنت‌ها نیز می‌شود از آن سود برده، طبعاً این رساله می‌تواند برای محققان مسایل زبانی کار درخور توجهی باشد. محصلان ما می‌توانند از آن استفاده بهینه داشته؛ در ضمن استادان بخش‌های زبانشناسی نیز می‌توانند در ساعات درسی‌شان از آن سود ببرند و به صفت کتاب درسی و ممد درسی از آن استفاده شود. در کنار آن یک منبع تحقیقی برای همه بوده می‌تواند. برای استاد محترم میاخیل آرزوی موفقیت می‌کنم. ان‌شاءالله که شاهد کارهای تحقیقی بیشتر شان در این زمینه باشیم.

با حرمت بی‌پایان

دکتور احمدغنی خسروی

رییس پوهنحی ادبیات و علوم بشری پوهنتون هرات

Download from: https://liyanamiri.com

## د پیل خبرې

د پوهنتون د محصلانو له پاره د (ګړدود پوهه) مضمون مواد د تحصیلي نصاب سره سم نه وو نو هڅه مې پیل کړه تر څو له نصاب سره سم ګرانو محصلانو ته یو څه برابر او ولیکم. له همدې امله مې د الله (ج) په مرسته دا کار تر سره کړ. د ملګرو دې کور ودان وي چې ځای یې مشورې راکړې او سرچینې هم.

زه دا دعوه نه لرم چې ګوندې هر څه به په دغه اثر کې سم وي او هیڅ ستونزه به ونه لري خو یوازې هڅه مې کړې تر څو له غوره سرچینو ګټه واخلم او خبرې مې مدللې اوسي.باید ووایم چې ددغه اثر د موادو په راټولولو کې ښه ستومانه شوی یم خو دا به هم اورېدلي وي چې: (( تر ویشتونکي نندارچي سړی باتور دی...))، نو ځکه په کره او پوره کولو کې یې تاسې هم راسره شئ! درانه لوستونکي کولی شي د سمونې له پاره یې ماته سلا راکړي او لاره را وښیي. دا به ددې لامل شي تر څو دغه اثر ښه کره شي او په تورېلو تورېلو ترې عیبونه پاک شي.

مینه او درناوی

پوهنیار عصمت الله میاخېل

Download from: https://liyanamiri.com

# لیکلړ

سریزه ۱۳

لومړی څپرکی

ژبـــه (LANGUAGE) ۱٦

ګـړدود (لهجـه) (DIALECT) ۲٥

الف: جغرافیایي لهجه ۳۲

ب: ټولنیزه لهجه ۳۲

د ګړدودونو په هکله نظریې ۳۳

الف: د پښتنو پوهانو له نظره ۳۳

ب: دنورو پوهانو نظرونه ۳٥

دوه یم څپرکی

د لهجې د مینځ ته راتلو لاملونه ۳۷

مورفو فونیمیکي بدلون) ٤٤

فونیمیکي تغییرات ٤٤

لغوي تغییرات (LEXICAL CHANGES) ٤۷

د ګړدودونو د راټولولو اړتیا ٤۷

د ګړدودونو (لهجو) د راټولولو لارې ٥۰

الف: د څېړنې له پاره وسایل ٥۱

ب: له کومو سرچینو څخه کار واخیستل شي ؟ ٥۳

Download from: https://liyanamiri.com

ج: له چا څخه څېړنه وشي؟ ۵۳

دریيم څپرکی

ګړدودپوهنه او د ژبو او ادبیاتو زده کړه ۵٦
د اوازونو د لیکنې دود (ترانسکربش) ٦۱
ګرامري څانګړنې ٦۵
د نومونو برخه ٦۹
د فعلونو برخه ۷۲
د صفتونو، قیدونو، اداتو برخه ۷۵
نحوي ځانګړنې ۷۹

څلورم څپرکی

د ژبې د لهجو ډلبندي ۸۲
معیاري ژبه:(formal language) ۸۲
ملي ژبه: (National language) ۸۲
نړیوالې ژبې (International language) ۸۳
مورنی یا اوله ژبه (First language): ۸۳
د پښتو ژبې د لهجو ډلبندي ۸٤
د داخلي پوهانو له نظره د پښتو لهجو ډلبندي: ۸۵

پنځم څپرکی

د افغانستان د ژبو او لهجو څېړنه ۹۰

Download from: https://liyanamiri.com

د ژبې په بدلاینه کې د لهجو ارزښت ۹۲
د پښتو ژبې د لهجوي وییونو ارزښت ۹۳
د لرې او برې پښتونخوا دلهجو څرنګوالی ۹٤
دژبی د بدلونونو ډولونه ۹۹
الف: لغوي توپیرونه ۹۹
ب) غږیز بدلونونه: PHONETICAL CHANGES ۱۰۱
ج) املایي بدلونونه ۱۰۳
د) معانیز بدلونونه ۱۰٤
نحوي بدلونونه ۱۰٥
دژبې دتغییر او مرګ لاملونه ۱۰۸
الف: دژبې دبدلون لاملونه ۱۰۸
ب: دیوي ژبې او لهجې دمرګ لاملونه ۱۰۹
پایله ۱۱۳
سرچینې ۱۱٤

Download from: https://liyanamiri.com

Download from: https://liyanamiri.com

## سریزه

دا چې ژبه د یو لړ وییزو او اوریزو سمبولونو سېستم دی او هر سېستم زمونږ د یوه ذهني انځور ښکارندویي کوي او دا انځورونه په خپل وار د انساني چاپېریال او مهال ځیزونه، پېښې او کړه وړه را اخلي نو جوته ده چې دغه چاپېریال، مهال، ځیزونه، پېښې او کړه وړه تل په اوښتنه کې دي او یا په خپله د وګړو تر مینځ فزیکي روحي،کلتوري او تولنیزې ځانګړتیاوې یوه جوته بڼه نه شي درلودی، نو همدغه اوښتنه د ژبنۍ اوښتنې؛ په بله وینا د یوې ژبې د رنګارنګۍ عامل او سرچینه ده او په یوه ژبه کې دا رنګارنګي د بېلابېلو بڼو یا ګړدودونو معنا لري.

د ژبې د استعمال څرنګوالی د ټولنې سره د فرد چلند او سلوک ښیي د ژبې ناوړه کارول د سلوک غلطي ده او صحیح استعمال یې د سلوک پر صحت دلالت کوي. څوک چې ژبه په صحیح او خواږه ډول کاروي، د هغه سلوک هم هرومرو مودب وي. همدا ډول انسان مهذب او متمدن انسان وي او د منلي شخصیت په توګه شهرت مومي. د مهذب انسان ژبه، سلوک او کړه وړه ټول ښکلي او سوچه وي. ژبه د پوهولو او پوهېدلو مهمه، ځوانه او پرمخ تللې وسیله ده.(پښتونزوی، ۱۳۸۶: ۳ــ۴)

د ژبو په کتار کې ډېرې هغه یې د اقتصادي،سیاسي، تاریخي او نورو عواملو له امله تغییر کوي، تر دې چې ډېرې یې له منځه ځي. ډېرې داسې ژبې شته چې ځینې ګړنې توپیرونه لري، چې مونږ هغه ته لهجوي توپیرونه وایو او هره یوه یې د لهجې په نامه یادوو. یعنې ژبه یوه ده، یوازې د ګړنیو توپیرونو له امله یې د هماغې ژبې د لهجې په نامه یادوو.

Download from: https://liyanamiri.com

د ژبې د بدلون موضوع د یو حقیقت په توګه د منلو وړ ده ځکه د زمانې سیلابونه، بېلابېل تاریخي پړاوونه او شرایط یې اړوي. نو دا چې ولې ژبې بدلون مومي پورته ځواب یې په لنډه کې پوره دی.

پښتو هم داسې ژبه ده چې د ټولنیزي پدیدي په توګه یې د تاریخ په بیلابیلو مرحلو کې بدلونونه منلي دي. پخوا (میرخمن) وه اوس (د ښمن ). د پښتو کلمې په اړه ویلي شو چې دا په ژبه کې یوه ځانګړنه ده چې د هر قوم له نوم سره د (و) په ډېروالي د هغه قوم د ژبې نوم جوړیږي. لکه (پکهت – پښت...) سره د (و) ډېروالی د پښتو کلمه رغوي پښتو ژبه نه له هندي او نه له پارسي ګروپ سره اړه لري. بلکې د دواړو څانګو ترمنځ د یوه اتصال کړۍ ده او مستقیماً له لرغونې باختري یا اریک ژبو څخه بېله شوې ده نو ځکه د سانسګریت خور ده.

لکه د (اندیکی) د کلمې (ی ) چې حذف شوې او (اندیکو) یا (اندکهو ) یې رغولې. داسې (پښتو) هم ده چې یوه اریایي یا (اریک ) ژبه ده. اریایان په اریاناوېجو کې اوسېدل چې په مرکزي اسیا کې یوه سیمه وه. یعنې د پامیر د لوړې څوکې شاو خوا. (اریا) د نجیبو او شریفو خلکو په معنی دی. (ویجه) د ځای معنی ورکوي. یعنی د (نجیبو او شریفو خلکو ځای)، (ویجه ) کلمه اوس هم د کندهار خلک کاروي او د ځای معنی ورکوي.

داریایي ژبو وېش دتاریخ له پلوه له هغې مرحلې نه شروع کیږي کله چې هندواریایان(باختریان او پارسیان)دهندواریایي ټولنې نه جلا کېږي او په ځانګړو پراختیاوو پیل کوي.تاریخي ژبپوهنه د اریایي ژبو دانکشاف دوره په درې پړاوونو ویشي:

<u>لومړی پړاو:</u> دا دلرغونو اریایي ژبوعصردی،چې دهندي ژبونه د بېلېدو څخه نیولې بیا قبل المیلاد څلورمې او درېیمې پېړۍ پورې رسي.

Download from: https://liyanamiri.com

لرغوني اریایي ژبې عبارت دی له: پښتو، زړه پارسي، ساکي، اوستا او داسې نورې...

دوه یم پړاو: منځنۍ اریایي ژبې د قبل المیلاد دځلورمې او دریيمې پېړۍ نه نیولې تر د اتمې،نهمې میلادي پېړۍ پورې رسیږي. په دغو ژبو کې (منځنۍ پارسي، سوغدي، پارتیاني، منځنۍ پښتو،باختري) لیکلي اسناد اوکتیبې موجودې دي. چې زیاته برخه یې ددغې مرحلې وروستیو ته منسوبیږي.

دریيم پړاو: داتمې، نهمې میلادي پېړۍ نه تر موجوده مرحلې پورې رارسي، چې ژبو ته یې تر مخه اشاره وشوه. دا هغه وخت و چې اریایي قبایل په خپل ټاټوبي کې اوسېدل او مهاجرت یې لاپخوا نه ترسره شوی و.

د ګړدود پوهنې په دغه څېړنه کې مې ډېرى بېلګې دننګرهار دخوږیانیو کارولي. یعني ګړدود مې هم په خپله څېړلی دی. په دغه لیکنه مې د ګړدود پوهې مضمون د تحصیلي نصاب ټول سرلیکونه په پام کې نیولي او دخپلې وسې کار مې پرې کړی.

ما په دغه اثر کې له (۲۵) غوره سرچینو ګټه اخیستې. په دغه سرچینو کې پر پښتو سربېره د دري او فارسي ژبو له کتابونوهم ګټه اخیستل شوې ده. که چېرې په ځینو ځایونوکې کوم زیاتی کمی شوی وي هغه به ټایپي تېروتنه وي،ځکه انسان له تېروتنو خالي نه دی. په ځینو ځایونو کې مې د اصلي ماخذ ژباړې هم راوستي خو پته مې یې سمه لیکلې. بیاهم که کومه تېروتنه وي زه یې په ورین تندي منم.

Download from: https://liyanamiri.com

## لومړی څپرکی

## ژبــــه (language)

په دې پوهیږو چې د ټولنې وګړي له پخوا په ټولنیز ډول اوسیږي او ددوی تر منځ د اړیکو ساتلو او فکر د لېږدولو وسیله هم موجوده وه. مونږ د اړیکو ساتلو او فکر د لېږدولو تر ټولو مهمه وسیله د وینا ژبه ګڼلی شو چې همدا ژبه ددوی تر منځ د پوهولو غوره وسیله ده.د وینا معنا دا چې د الفاظو ژبه ده چې په خوله ویل کیږي. هسې خو د پوهولو او مفاهمې نورې وسیلې هم شته،لکه: د یوه ټاکلي مفهوم د افادې له پاره د سر او لاس ښورول، د اوږو پورته کول، د سترګو کشول، پوزه بوچه نیول، شونډې کشول او نور چې هر یو په ښوونه کې مرسته کوي خو مونږ په ژبه کې یوازې غږیز سیستم په پام کې نیولی دی.

ژبه چې د انساني کلتور تر ټولو لوی او خورا ستر ارزښت دی، پوهانو یې په هکله ډېرې څېړنې کړې او دغه څېړنې لا روانې دي. اوس دا چې ژبه به چېرته زده کیږي او معیاري هغه یې کومه ده؟ وګورئ کله چې ماشوم لوییږي؛ ژبه زده کوي.په ده کې د ژبې د زده کولو وړتیا فطري پرته وي یعنې کله چې وایو انسان ناطق دی نو بیا دغه ژبه د انسان د نطق وسیله ګڼو. لومړی توري او کوچني کلمات یادوي بیا د وخت په تېرېدو په خوارۍ او کوښښ سره له کلماتو جملې جوړوي او خبرو کولو توان پیدا کوي یوازې په ځینو وختونو کې کولای شي چې په ځینې ساده مسایلو سره پوه شي. لکه د شاتو مچۍ چې د خوراک له پاره یو بل ته لاره ښیي او یا هم بېزوګانې او الوتونکي...د خطر سره د مخ کېدو په

Download from: https://liyanamiri.com

وخت د خپلې نورې ډلې د خبرولو له پاره ځینې اوازونه کوي او یا هم خاص حرکات سرته رسوي.دا نخښې محدودې دي او ژوي نه شي کولی چې جملې جوړې کړي او یا هم خپله ژبه ولري. هو دا د اړیکو یوه وسیله شوه خو پوره ژبه ځکه نه ده چې ژبه ځانته یو نظام او سیستم دی . د اړیکو نیولو له نورو وسیلو سره د انساني ژبې توپیر په دې کې دی چې ژبه د غږونو څخه جوړه شوې په دې معنا چې له غږونو څخه په ترتیب سره وړې او لویې کلمې جوړوي او کلمې بیا نور عبارتونه او جملې تشکیلوي.

مونږ د ژبې له کلمې څخه دوه معناوې اخلو. یوه معناداده چې د طب له نظره هغه د مخططو عضلو یوه کتله ده چې په خوله کې موقیعت لري. دخوند پېژندلو اساسي غړی دی. د خوړو په ژوولو او تېرولو کې هم رول لري. سطحه یې د مخاطي پوښ په وسیله پوښل شوې ده.دغه ژبه د ژوولو په وخت کې غذایي مواد غاښونو ته برابروي او د تېرولو په وخت کې هغه بلعوم ته تېله کوي. د ژبې رنګ په نورمال حالت کې سور ګلابي وي مګر په مرضي حالاتو کې خصوصاً په انتاني ناروغیو کې کم رنګه کیږي. ژبه څلور اساسي خوندونه د څلورو بېلابېلو برخو په واسطه احساسوي:

الف: تریخ خوند: د ژبې د شاتنۍ برخې په واسطه.

ب: تریووالی: شاته نږدې د ژبې د دواړو خواوو په واسطه.

ج: مالګین والی: مخکینۍ برخې ته نږدې د ژبې د دواړو خواوو په واسطه

د: خوږوالی: د ژبې د څوکې په واسطه. (اریانا دایرة المعارف: ۱۳۸۶: ۲۲۷)

Download from: https://liyanamiri.com

د الله د لوی ذات په قدرت دغه ژبه يوازې دا نه بلکې يوه بله دنده هم سرته رسوي هغه دا چې د غوږونو دغه کتله د خبرو کولو اساسي غړی هم دی او دخبرو کولو په وخت کې ډېر خوځنده غړی دی چې د تورو د تلفظ پر مهال په خوله کې اوړي راوړي. دارنګه د بېلا بېلو برخو (د ژبې ريښه، د ژبې وروستۍ برخه، د ژبې منځنۍ برخه، د ژبې مخنۍ برخه، د ژبې سر يا څوکه سره د غاښونو، شونډو او نورو صوتي غړو په يوځای کېدو بېلابېل توري توليديږي. اوس ښکاري چې د پوهولو په وسايلو کې غوره وسيله ژبه ده. د ژبې د پېژندنې له پاره بېلا بېل تعريفونه شوي چې زه يې يو څه دلته راوړم:

د ژبې علمي تعريف کانديد اکاډميسن پوهاند محمد رحيم الهام د ((روش جديد در تحقيق دستور زبان دري)) اثر په ۱۲ مخ کې د ژبې له ټولو تعريفونو څخه يو جامع تعريف داسې کښلی دی: ((ژبه د غږيزو سمبولونو داسې يو اکتسابي او ميثاقي سيستم دی،چې د ټولنې وګړي يې له يو بل سره د مفاهمې له پاره کاروي.)) (اريانا دايرة المعارف: ۱۳۸۶: ۲۲۷) د نوموړي په اند په دې تعريف کې د ((سيستم)) اصطلاح داسې تعبير کيږي چې ژبه ځانګړی جوړښتي نظام لري

ژبه د يو لړ اختياري وييزو غږونو څخه جوړ شوی سيستم دی چې دانسانانو تر منځ د پوهولو او راپوهولو غوره وسيله ګڼل کيږي. همدا ژبه ده چې د تاريخ په اوږدو کې ټولنو پرې خپل تاريخي دريځ، حيثيت او فکر نورو ته لېږدولی دی. وروسته بيا د ژبو پوهانو د ژبې په هکله څېړنې کړې او اصول يې ورته وضع کړي. دا ټول اصول د همدغې ژبې د وجود له برکته دي. که ژبه نه وی نو اصول به د څه له پاره جوړېدل. ژبه له تورو ،کلمو او جملو څخه تشکيل شوې چې هره برخه بيا د څېړنې ځانګړې اصول لري.

Download from: https://liyanamiri.com

ژبه د انساني غږونو یو رمزي سیستم دی چې د یوې ژبنۍ ټولنې غړي یې د مفاهمې له پاره کاروي. موږ د ژبې د غه ږغیز سیستم ته وینا وایو. انسانانو د خپلو وینایي ژبو د ثبتولو او ساتلو له پاره ګرافیک سیستمونه اختراع کړي دي چې مونږ یې لیک بولو. وینا او لیک په ماهیت کې دوه بېل سیستمونه دي. دوینا اساسي جوړونکي عناصر غږونه دي او دلیک اساسي جوړوونکي عناصر توري دي.غږونه داسې فزیکي پدیدې دي چې احساس یې دغوږونو په واسطه کیږي او توري بیا داسې بل ډول فزیکي پدیدې دي چې احساس یې د سترګو په واسطه کیږي.

ډاکټرعبدالرزاق پالوال هم د ژبې په اړه داسې لیکلي: ((پوهونې او پوهېدنې هغه صوتي سمبولیکه وسیله ده چې ودې او تکامل یې بشر د انسانیت تکاملي پړاو ته او د لیک ایجاد یې انسان د مدنیت تکاملي پړاو ته رسولی دی.

په ((ژبنۍ څېړنې)) نومي اثر کې چې ښاغلي پوهندوی نور احمد شاکر لیکلی، د ژبې په اړه داسې لیکل شوي: ((ژبه هغه اوازونه دي چې انسانان یې دخپلو افکارو او خیالاتو د څرګندولو په غرض تر یو خاص نظم او سیستم لاندې د صوتي غړو په واسطه له خولې راباسي او په دې توګه په خپلو منځو کې یو له بله سره رابطه پیداکوي.( شاکر، ۱۳۵۰: ۲)

استاد جاج پښتونزوی په ((ځلوربحثونه)) اثر کې لیکلي: ((ژبه د پوهولو او پوهېدلو مهمه ځوانه او پرمخ تللې وسیله ده. ددې مفاهموي وسیلې په واسطه ستر کارونه کېدای شي او ناممکنېدای شي. مهم کارونه چې حتی په قهر او غضب، زورزیاتي، جنګ او خونریزۍ ممکن نه وي، خوږه ژبه او صحیح مفاهمه یې ممکنوي.)) (پښتونزوی، ۱۳۸۲: ۴)

د ژبې د پېژندنې له پاره لاندې ټکي هم خورا مهم دي:

Download from: https://liyanamiri.com

ـــ ژبه د انسان له خولې وتلې هغې غږیزې بڼې ته وایي چې دی پرې بل چاته د خپلو خیالاتو څرګندونه کوي.

ـــ ژبه د خپلې ځانګړتیا له مخې یوه ټولنیزه پدیده ده او مهمه دنده یې په ټولنه کې پوهول راپوهول او د انسان په شعور کې د عینې واقیعت غبرګون دی.

ـــ ژبه هغه سیستم دی، چې په ټولو ټولنیزو عملیو او هغوی پورې په اړونده برخو کې ورګډه ده. هیڅ یوه داسې پروسه او جریان نشته چې د ژبې نه پرته پر مخ ولاړه شي.

ـــ ژه یوه ارتباطي وسیله ده چې د ټولنې د وګړو تر منځ په خبرو کې منظمه او سیستماتیکه دنده په غاړه لري.

ـــ د ژبپوهنې یو عالم او څېړونکي (ایبینګ هاوز) د ژبې په اړه وایي: ژبه په یوه رسم و رواج کې د نخښو نښانو د یوه سیستم مجموعه ده او دغه نخښې نښانې په هر وخت کې تولیدېدای او منځته راتلای شي. (تنهیوال، ۱۳۸۸: ۳۲)

ژبه د یو ملت ملي او معنوي پانګه ده.د کلتور او فرهنګ مرکزي محور او د ښوونې او روزنې اساس، دټولنې د وګړو تر منځ د افهام او تفهیم وسیله ګڼل کیږي. ګډه مشترکه ژبه د اتحاد ، اتفاق او یووالي مهم توکی دی.

پوهاند الهام په کابل مجله کې د (ژبه او ګړدود) تر سرلیک لاندې د ژبې د نظام جوړښت ته اشاره کړې او لیکلي یې دي: ((ژبه دنظامونو نظام دی چې د ژبې غږیز نظام، صرفي نظام، نحوي نظام، او معنایي نظام بلل کیږي. که دغه مساله لاهم په دقیقه توګه وسپړو ، کولای شو ووایو چې په واقعیت کې ژبه له شپږو اصلي او فرعي نظامونو څخه جوړه شوې ده:

(۱)فونیمي یا فونولوژیک نظام(phonemic system)

Download from: https://liyanamiri.com

دفونیمونو(جوړښتي غږیزو واحدونو) پانګه او د وقوع ترتیب
(۲)صرفي یا مورفولوژیک نظام: ( Morphemic system)
د مورفیمونو(دمعنا لرونکو جوړښتي واحدونو ) پانګه او دهغو دترتیب او تشکیل قوانین.
(۳)نحوي یا سینتاتیک نظام(Syntactic system)
د مورفیمونو پانګه او دهغوی د وقوع ترتیب
(۴)مورفوفونیمیک نظام(Morph phonemic system)
هغه قوانین چې مورفولوژیک، سیټاکټیک او فونولوژیک نظامونه سره مربوطوي.
(۵) معنایي یاسیمانتیک نظام.(Semantic system) چې ډول ډول مورفیمونه د مورفیمونو ترکیبونه او وقوع ترتیب له شیانو اقتضااتو یا د شیانو او اقتضااتو له ډولونو سره مربوطوي.
(۶)فونټیک نظام(Phonetic system). هغه دودونه چې د فونیمونو لړۍ او د ګړېدونکي له خوا دهغو حادثېدل په ږغیزو ځپو بدلوي او داسې ګړني رمزونه جوړوي چې اورېدونکی یې تفسیروي. (الهام، ۱۳۶۶: ۴)
له ژبې سره باید بې پروایي ونه شي ځکه دا ستر خیانت او جرم دی. که څوک په رښتیا هم غواړي ژبه بډایه کړي نو په کلک هوډ دې رښتینی کار ورته وکړي نه تقلید او نه هم ورانکاری. د یوې ژبې اصول په بله پلې کول هم زیاتی دی. ځیني لیکوال په لوی لاس خپلسري کلمات کاروي له خپل ځانه اصول وضع کوي چې دا ښه کار نه ښکاري. کله کله خو دغه خپلسري ژبې ته لوی تاوان هم اړوي او ژبې ته تاوان اړول خیانت ګڼم.
پوهاند مجاور احمد زیار په پښتو وییپوهنه کې دژبې په اړه څرګندونې کړې دي. دده په اند د نړۍ ټولې ژبې له څلورو برخو څخه رغېدلې یا جوړې شوې دي، چې لومړۍ برخه یې پنځه ویشت سلنه نوي لغات یا

Download from: https://liyanamiri.com

نیولوګېزم دی، پنځه ویشت سلنه زاړه لغات دي،پنځه ویشت سلنه پورویبیونه دي او پاتې پنځه ویشت سلنه ګړدودونه یا لهجې دي چې د معیار ژبه هم همدغه ژبې ته وایي.د هرې عصري ژبې پانګه پر دغو څلورګونو بنسټونو ولاړه ده. (لهجوي،متني،مصنوعي، عاریتي) (زیار، ۲۹:۱۳۸۵). دارنګه د معیاري ژبې د خرابوالي او ګډوډۍ لاملونه په لاندې توګه په ګوته کولی شو:

ــ د معیاري ژبې د خرابوالي او ګډوډۍ یو لوی لامل بې مسوولیته او ځینې ازاد لیکوال دي ځکه هر ډول لیک یې چې زړه وغواړي هغه کاږي

ــ ځینې لیکوال د یوې ژبې په پښویه نه پوهیږي ؛ ځانته د اسانۍ له پاره د خپلې سیمې یو ویی په لیکنه کې راوړي چې دا کار هم معیاري ژبې ته زیان اړوي. ګړدودي کلمات باید په ګړدودي قاموس کې راټول شي.

ــ د نورو ژبو کلمات هم که د خپلې ژبې په څېر تلفظ او ولیکو دا هم ښه نه ده. لکه: د (معلوم ) پر ځای (مالوم) او (یعني) پر ځای (یاني) او نور...

ــ هغه ژباړه چې معیاري نه وي او د خپلسرو کلماتو په کې کمی نه وي.

ــ له ځانه نوموني کارول هم له ژبې سره بې پروایي او جرم دی. دا کار باید دهغې مشخصې اکاډمۍ وي چې مسوولیت او صلاحیت یې لري.
(هوتک، ۱۳۹۰: ۳.۲)

ښکاره شوه چې ژبه په ټولنه کې څومره باارزښته نظام دی او ددغه نظام توکونه یو پر بل متقابلې اغېزې هم لري. که څوک په ټولنیز ژوند کې د ژبې ارزښت او اهمیت ته پام وکړي نو دا به ورته جوته شي چې هغه بریاوې لاسته راوړنې او موفقیتونه چې د انسان د فکر، زیار او هڅو محصول دی یوازې او یوازې د ژبې په واسطه تشریح،تفسیر او نورو خلکو ته ور انتقال کېدای شي. دا هغه شی دی چې د یوې خوا دې ته

Download from: https://liyanamiri.com

اشاره کوي چې انسان یو ټولنیز موجود دی او ژوند یې د انساني ټولنې سره تړلی دی او د بلې خوا دا څرګندوي چې ژبه یوه ټولنیزه پېښه یا پدیده ده. (تنیوال،۱۳۸۸:۳۳)

((هرینګر)) نومي عالم وایي: انساني ژبه د ټولنیزو قاعدو، اصولو یو سیستم دی چې په ټولنه کې ګډ ژوند ممکنوي. اوس نو معیاري ژبه اریانا دایرة المعارف څخه په دې توګه درپېژندلی شم: (( معیاري لهجه د نورو لهجو له پاسه یوه لهجه ده چې ادبي او فرهنګي جنبه یې پیدا کړې ده او ویونکو یې هم هغه د ملي ژبې په توګه منلې ده. یا د ژبې یوه بڼه چې د ټولنې په وسیله منلې شوې وي او دلوستو وګړو پر تعلیمي بنسټ ولاړه وي او په سیاسي او فرهنګي مراکزو کې کارول کیږي.یا مشترکه فرهنګي او ادبي ژبه چې تعلیم یافته وګړي،ورځپاڼه لیکونکي او د درسي،علمي،فني او څېړنیزو کتابونو لیکوالان یې کاروي... معیاري ژبه هغه منلې شوې ژبه ده چې دیوه ژبني قلمروپه هره جغرافیایي سیمه کې دپوهېدلووړوي.معیاري ژبه دادبیاتو او میډیاژبه وي اودا دیوې ژبې هغه ځانګړې نوعه (ویریتې) ده چې قانوني یا یوڅه قانوني دریځ ورکړه شوی وي.

ځیني په نړیواله سویه منلې شوې ځانګړتیاوې چې یوه معیاري ژبه پرې تشخیص کېږي،دادي:

ـــ یومنل شوی قاموس یاقاموسونه چې ټول معیاري شوي لغاتونه اودهغواملاء پکښې درج وي.

ـ یومنل شوی ګرامرچې دژبې ټول شکلونه، قاعدې اوجوړښتونه پکې ثبت سوي وي اوهم داخبره پکې څرګنده شوې وي،چې کوم شکلونه بایداستعمال سي اوکوم بایدنه سي.

Download from: https://liyanamiri.com

ـ د تلفظ یو معیاري او منل شوی سیستم چې ویونکي ورته د یوه علمي او مناسب تلفظ په سترګه وګوري او د غه راز له سیمه ییزو اغېزو څخه پاک وي.
ـ یوه موسسه چې د دغې ژبې د استعمال چاري پرمخ بیایي او د هغې د استعمال د نورمونو په ټاکلو کې واک (authority) ورکړل شوی وي. لکه د فرانسې اکاډمي (Acadmie francaise) یا رویال سپېنیش (Royal Spanish Acadmy) اکیډیمي چې صلاحیت لرونکي موسسې دي.
ـ د یوه داسې منشور یا قانون شته والی چې د غې ژبې ته د هېواد په قانوني سیستم کې رسمي قانوني ځای ورکړي.
ـ په عامه ژوند کې (په محاکمو او مقننه موسسو کې) د دغې ژبې کارول.
ـ د ادبیاتو یو مرکز درلودل.
ـ په همدې ژبه باندې د مهمو او مقدسو کتابو ژباړل چې د ویونکو له نظره سپېڅلي او معتبر وي.
ـ په ښوونځیو کې د ژبې د معیاري ګرامر او املاء تدریسول.
ـ بهرنیو زده کوونکو ته د تدریس له پاره د ژبې د غه ځانګړې بڼه یا لهجه ټاکل (تنیوال، ۱۳۸۸: ٦۷)

Download from: https://liyanamiri.com

## ګــړدود (لهجــه) (Dialect)

د ژبې له پېژندنې سره اشنا يو ، چې ژبه او عقل د الله (ج) له نعمتونو څخه دي او دا هغه نعمتونه دي،چې ددوی په وسیله انسان اشرف المخلوقات ګڼل شوی دی. ژبه په واقیعت کې یوه ټولنیزه اکتسابي او ثقافي پدیده ده نه عضوي، فطري او طبیعي. د ژبې د پیدا ینبت تاریخ د بشر د پیدا ینبت او د ټولنې او ډلو د جوړېدو سره اړه لري. د ځینو ژبو په داخلي ساختمان،البته په تقریري ژبه کې، ځینې بدلونونه لیدل کیږي، چې یا هم د سیمه ییېزو عواملو له امله وي، یا هم د جغرافیایې موقیعت له مخې.

لهجې ته په انګریزی کې ډیالکټ(Dialect) وایي، چې د یوناني لغت ډیالکتوس(Dialectos) څخه مشتقه کلمه ده او ډیالکټوس(Dialectos) د خبرو کولو طریقې ته ویل کیږي. لهجه د خبرو اترو کولو طرز یا د خبرو د افادې یو ډول دی. په پښتو پښتو تشریحي قاموس دوه یم ټوک کې د لهجې په اړه داسې راغلي دي: د یوځای محاوره، دیوې ژبې هغه فورم،چې په یوه خاصه منطقه اړه لري او د ژبې د معیاري یا اصلي فورم څخه د محلي لغوي پانګې،تلفظ او ګرامري جوړښت له مخې توپیر مومي.(تشریحي قاموس: ۱۳۲۰)

په پښتو ژبه کې لهجې د ټولنیزو طبقاتو په وسیله نه دي رامنځ ته شوي، بلکې په جغرافیایي او ټبرني بنسټونو ولاړې دي.

چېرته چې نوموړې رنګارنګې ډېره وي، هلته ژبنۍ رنګارنګي هم ډېره لیدله کیږي. د بېلګې په توګه د اوارو سیمو ښارونو په نسبت په لوړو او غرنیو سیمو کې له ډېرو لهجوي توپیرونو سره مخ کیږو.(شپون، ۱۳۸۹: ۱۰۰)

Download from: https://liyanamiri.com

ژبپوهان وايي کوم ګروپي تغيير ،چې د ژبې په وييز او غړيز سيستم او شکل کې ليدل کيږي يا پيښيږي هغه لهجه بلل کيږي.په دې ترتيب کوم ځانګړي توپيرونه چې د يوې ژبې د ويونکو په وينا کې ليدل کيږي، دهغې ژبې بېلابېلې لهجې دي. په دې معنا چې د ژبې هر ويونکی د لهجې ښکارندوی دی. کېدی شي دغه توپيرونه د ژبې په کلماتو کې وي،يا د تورو په کارونه کې او يا هم په جمله او فشار کې توپير وي. پښتون ولس ډېر خور وور پروت دی نو خامخا به د بېلا بېلو لاملونو له امله په ژبه کې توپير راځي. همدغه توپيرونه بيا د ډيالکتولوژي (dialeltoligy) په وسيله څېړل کيږي.

د ((لهجه پوهنې)) يا ((ګړدودپوهنې)) له نامه څخه ښکاري چې په ژبه کې ګروپي توپيرونه يا ګړدودونه څيړي. دوه برخې لري:

الف: ګړدود (dialect) ب: پوهنه(logy)

ګړدود پوهنه له اره د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې د تشريحي ژبپوهنې څانګه ده. دغه ژبنۍ پديده چې مونږ يې لهجه بولو ، په علمي لحاظ (مېتود) ژبپوهان هغه مطالعه او څيړي. دغې څانګې ته ډيالکټولوژي يا لهجه (ګړدود) پوهنه ويل کيږي.

کوم بدلونونه چې د وينا پرمهال په معياري ژبه کې وينو هغه ډيالکټ دی. ښاغلی استاد محمد صديق روهي وايي: په يوه ژبه کې واول تر کانسوننټ ډېر تغيير کوي. که څه هم لهجې پر جغرافيايي چاپېريال سربېره په ټولنه کې د يوې ژبې د ويونکو له ټولنيز او اقتصادي دريځ سره هم بدلون مومي. لکه: د کليوالو لهجه، د بزګرو لهجه، د مامورينو لهجه، د اشرافو لهجه او نور....

دغه تغيير يوازې د ژبې په وييزه برخه کې وي،خو ليکل بيا په معياري ژبه باندې کيږي. د نړۍ ژبې لکه پښتو، فارسي، روسي، فرانسوي،

Download from: https://liyanamiri.com

الماني او نورې ټولې ژبې لهجې لري. د ټولنیزو قشرونو او جغرافیوي سیمو د غړېدونکو د وینا په دودونو کې نا ورته والی ( ناهمرنګي ) لیدل کېږي او هغه د سیمو د بېلوالي په وجه طبقې د ( بې سواده او باسواده طبقو ) په وینا کې توپیرونه وینو؛ چې د دغو عیني شواهدو پر اساس ویلی شو چې د یوې ګړنۍ ټولنې د ګړېدو په دود کې توپیر شته او موږ دغه ډله ییزو وینایي توپیرونو ته لهجې ( ګړدودونه) وایو؛ او لهجه پوهنه د لهجو د مطالعې او څېړنې دنده لري.

د ژبې ویونکي په بېلا بېلو ټولنو کې یو ډول نه غږېږي بلکې د بېلا بېلو عواملو له امله یې په غږېدا کې لږ و ډېر توپیر لیدل کیږي. جوته خبره ده چې ژبه د انساني وګړو تر منځ یو غږیز، رمزي، ارتباطي نظام دی. نو ویلی شو چې ګړدود (لهجه )پوهنه د یوې ژبې د بشپړ نظام فرعي نظام دی.

مونږ پوهیږو چې د یوې ګړنۍ ټولنې ټول غړي یو شانته نه غږیږي. دغه یو شانته نه غږېدل بیخي یو څرګند واقعیت دی، که موږ او تاسی ته د کوم پښتون یا دري ژبی هستوګنځی هم معلوم نه وي او دوی په مورنی ژبه سره وګړیږي، نو د ګړېدو له دود څخه پوهیږو چې هراتی دی که کابلی، بامیانی دی که تخاری، ننګرهاری دی که کندهاری، او خوستی دی که بدخشی او داسی نور. د دغو عیني شواهدو پر بنا ویلای شو چې دیوې ګړنۍ ټولنې د ګړېدو په دود کې توپیرونه شته او موږ دغو ډلییزو وینایي توپیرونو ته ګړدود وایو.

که مونږ د ننګرهار ولایت په پام کې ونیسو؛ که څه هم ټول په پښتو غږیږي خو د مومند ګړدود د خوږیانېیو سره او د خوږیانېیو ګړدود بیا د شینوارو له ګړدود سره توپیر لري. ددغو لهجو په مینځ کې بیا نور ګړدودي توپیرونه هم لیدلای شو. د بېلګې په ډول په خوږیانېیو کې د

Download from: https://liyanamiri.com

زاوې خلک د وزیرو او د مرکخېلو خلک د کرېږ له خلکو سره په خبرو کې لږ و ډېر توپیر لري. مثلاً: په وزیرو کې ځینې وګړي د «وچوه«د واو په زورکي » د «واچولو» په مفهوم کاروي. په کره کې بیا دغه ډول تلفظ د «واچولو» په څېر تلفظ کوي او پورتنی تلفظ د «د یو شي دچاودولو یا ماتولو » په معنا کاروي. مثلاً: ما لرګي وچول، یا دوی مېنې کې زړونه وچول.

په افغانستان کې یوازې پښتو ژبه نه ده چې ګړدودونه لري بلکې که د دري ژبه په پام کې ونیسو نو دا یوه ژبه ده چې د ګران هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د وینا په برخه کې بېلا بېل ډول توپیرونه لري. د ننګرهار د سرخرود خلک د چپرهار د کنډې باغ د خلکو سره په خبرو کې لږ و ډېر توپیر لري. دوی بیا د کابل د خلکو دري ژبو سره په غږېدا کې څه نا څه توپیر لري. د هرات دري ژبو لهجه بیا ددوی ټولو سره د غږېدا پر مهال ځان ښکاره کوی او داسې نورې سیمې. «اصلاً خو فارسي دري یوه ژبه ده او د وینا کوم ډولونه چې یې په افغانستان، ایران او تاجکستان کې کارول کیږي؛ هره یوه د دغې فارسي ژبې لهجې ګڼل کیږي.» (ذاکر، ۱۳۹۴: ۳۰)

لهجې او ګړدود پوهنه د ژبپوهنې د یوې غوره او مهمې څانګې په توګه د ژبپوهنې د څېړنو په لړ کې اوچت ځای لري. د ګړ دودونو په هکله په هېواد کې دننه او بهرنیو پوهانو له خوا څېړنې شوي دي او څه نا څه کار هم ورته شوی دی.

د لهجې د پېژندنې په اړه که لاندې ټکي وګورو نو نوره به یې هم ښه وپېژنو:

- ✓ د ژبې په وییز او غږیز سیستم کې پیښ شوي تغییر ته لهجه وایي.

Download from: https://liyanamiri.com

- ✓ کوم ځانګړي توپيرونه چې د يوې ژبې د ويونکو له خوا ليدل کيږي لهجه ده
- ✓ د يوې ژبې د هر ويونکي وينا د لهجې ښکارندويي کوي.(منګل، ۱۳۸۱: ۴)
- ✓ د انسانانو ټولې ژبې دننه په خپل جوړښت کې لهجې لري.
- ✓ لهجه د ګړېدو هغه بڼه ده چې په فونيټيکي،لغوي او ګرامري لحاظ د نورو ټولنو يا هم د ملي ژبې سره توپيرولري.
- ✓ دګوېش، لهجه او شېوه (تاجيکي ) کلمات له پښتو ګړدود سره يوه معنا لري.

لهجه ځانګړې ليک او ليکدود نه لري يوازې د وينا يو ډول دی.

ځينې خلک وايي چې لهجه ليکلی شکل نه لري يوازې د وينا يو ډول دی او بله دا چې لهجه په يوه کوچنۍ سيمه کې کارول کيږي او د اعتبار اندازه يې د ژبې په نسبت کمه ده. دا پورته نظر لږ څه عيب هم لري. يو دا چې که د خط تاريخ ته نظر واچوو، ليدل کيږي چې ليک اوږد تاريخ نه لري او د خط ټول عمر (۴۰۰۰) کالو ته رسيږي. په داسې حال کې چې د ژبې مخينه د انسان په پيدا ينښت پورې اړه لري. نو کولای شو داسې ووايو چې: ايا د خط څخه مخکې ژبې، ژبې نه بلکې لهجې وې ؟ بله دا چې د خط څخه مخکې ژبو ته ژبې نه شو ويلای ؟ او ايا هغه ژبې چې اوس ژوندۍ دي او ليک نه لري ايا ژبې نه دي ؟

دويمه دا چې د يوې سيمې کوچنی والی د يوې ژبې او لهجې په ټاکنه کې هيڅ رول نه لري. د بېلګې په توګه: که د وړو سيمو ژبو ته لهجه ووايو نو په ځينو سيمو په ځانګړې توګه نورستان او د پامير په سيمو کې به ځانګړې ژبې نه وې بلکې ټولې به لهجې وې او دري ژبه به د افغانستان،ايران او تاجکستان په هېوادو کې د فارسي ګړدودونه نه

Download from: https://liyanamiri.com

بلکې ځانګړې ژبې به وي. دا سې ويلای شو چې د يوې سيمې کوچنی والی او پراخي په دې هکله هيڅ رول نه لري.

دربېمه دا چې د يوې ژبې ټول ډولونه يو ډول ارښت لري. هيڅ ژبه په بلې هغې لوړاوی نه لري. د ويکتوريا فرامکين په وينا: «هر ګړدود نه د يوه ګړدود څخه غوره دی او نه هم ناغوره، نه خالص دی نه فاسد، هر ګړدود صرفاً د نورو ګړدودو سره توپير لري.» (ذاکر، ۱۳۹۴: ۳۲)

لهجه هم په ټولنه کې د ژبې په څېر د پوهولو راپوهولو وسيله ده.لهجه هم د ځينو ځانګړتياوو په لرلو سره د ټولنې د وګړو اړتياوې پوره کوي.لهجې د کارونې له مخې يو له بل سره توپير لري خو کله کله بيا ځينې نږدې ورته والی هم په کې تر سترګو کېږي. د بېلګې په توګه په ننګرهار کې خوږيانې (نجلۍ) ته (جلکۍ) وايي او د منګلو په لهجه کې هم ورته (جلکۍ) وايي. خوږيانې (کاشوغه ) او منګل هم (کاشوغه) وايي. خوږيانې (اډوکۍ) او منګل هم (اډوکۍ) د (هډوکي ) له پاره کاروي.

که مونږ او تاسو دغه دوه نظره په پام کې ونيسو: ځينې وايي ګړدودونه هغه ويناوې دي چې له ژبې رازېږېدلي وي. بل دا چې له ګړدودونو څخه يوه هغه يې تاکل کېږي چې تر نورو ډېر مقبوليت ولري او د نورو ګړدودونو کلمات هم په کې شامل وي او بيا د معياري ګړدود په نامه يادېږي. دا دوه نظره يو د بل په وړاندې ښکاري.ځکه يو وايي ژبه له لهجو زېږېدلې، بل وايي لهجو ژبه رامنځته کړې. زه په خپله د دوه يم نظر پلوي يم ځکه چې که په رښتيا هم معياري لهجې يا ژبې ته وګورو نو ښکاري چې د وخت په تېرېدو وروسته معياري شوې او د ادب او ليک په خدمت کې شوې. يعنې لومړی لهجې وې وروسته ورته اصول جوړ شوي او معياري شوې بڼه يې ټاکل شوې او د ليک لوست ژبه ترې جوړه شوې. که داسې نه وي نو کومه ليکنه چې اوس په کتابونو ،مقالو او

Download from: https://liyanamiri.com

نورو خپرونو کې کیږي د افغانستان په کومه سیمه کې کارول کیږي ؟
دکندهار خلک بیا معیار خپله لهجه ګڼي او لیکنې پرې کوي. د ننګرهار او مرکز خلک په فعلونو کې د (راشه، وشو...) کاروي او د کندهار یې د کاروني پرته (راسه،وسو) لیکي هم. زه وایم که یو څوک د (ښکار،ښار،ږیره) کلمې د (خکار،خار،ګیره) په ډول او یا هم د(شکار،شار،ژیره) په ډول تلفظ کړي؛ پروا نه لري ځکه لهجې دي هر ډول چې یې تلفظ کړي باک نه لري خو لیکل بیا هغسې ښه دي چې ټول پرې ښه پوه شي او سم حق یې هم ادا شي.
اوس ژبه او لهجه څه ته وایي ؟په دې وپوهېدو چې ژبه هغې ته وایي چې په هغې لیک لوست کیږي، حقوقي مسایلو په لیکلو او نورو ادبي او ساینسي لیکنو کې ترې کار اخیستل کیږي. ددې ژبې لړ په توپیر سره د وینا او خبرو اترو ډولونه چې په بېلا بېلو ټولنو کې پرې خلک خبرې کوي د همدغې ژبې د لهجو په نامه سره یادیږي.
تر هغه وخته پورې چې د پښتو ژبې (ټولو پښتنو قومونو) لهجوي مواد د ژبپوهانو د څېړنې له پاره راغونډ شوي نه وي، تر هغې پورې یې د ګروپ بندۍ کار څه غور غواړي. له بلې خوا څخه هره ژبه چې په نظر کې ونیسو د جغرافیایي سیمو له مخې او هم د ټولنې د بېلابېلو اقتصادي صنف بندیو او ټولنیزو ګروپونو د ګړېدونکو او ویونکو په خبرو کې توپیرونه لیدل کیږي. په یوه ژبه کې دغه سره مغایر او متفاوت شکلونه چې اختلاف یې د تلفظ له لحاظه او یا دکلمې د خاص او لړ استعمال له لحاظه لیدل کیږي؛ که په سیمه پورې وي او که د ټولنیزو ګروپونو تر منځ وي لهجه ورته وایه شي. له همدې کبله لهجه په دوه ډوله ده.

Download from: https://liyanamiri.com

الف: جغرافيايي لهجه:

هغه لهجه چې په یوه خاصه سیمه او محل پورې اړه لري. لکه د شینډنډ پښتو لهجه، دکندهار پښتو لهجه، د پکتیا پښتو لهجه،د ننګرهار پښتو لهجه، د غزني پښتو لهجه، د پېښور پښتو لهجه، دوزیرستان پښتو لهجه، د سوات پښتو لهجه او داسې نور...

ب: ټولنیزه لهجه:

دا هغه لهجه ده چې د ټولنې د بېلابېلو ټولنیزو ډلو ،قشرونو ،دبېلابېلو اقتصادي طبقو او د بېلابېلو وظیفو او دندو درلودونکو له خوا ویل کیږي. لکه د مړو او ښتمنو لهجه،دخوارانو لهجه،د شپنو لهجه،مزدورانو لهجه،کارګرانو لهجه،استادانو لهجه،محصلینو لهجه،ښوونکو لهجه او نورو.

دخبرو اترو او ګړېدو ددغو ډلو تر څنګ په ژبني سېستم کې نورې ځانګړې بڼې هم وجود لري چې د (ګړېدا ژبه)،(د لیکلو ژبه)، (ادبي ژبه)،(اولسي ژبه) او په نورو سره یادیږي.(ملاتړ، ۱۳۹۴ : ۳۲ ــ۳۳)

که دهېواد بېلابېلو سیمو ته سفر وکړو نو دهرې سیمې د هر ویونکي خبرو ته ځير کېدلای شو. مثلاً: له کابله کندهار ته ځو. دخلکو د خبرو طرز یو ډول دی. بیا له هغه ځایه ننګرهار ته ځو. دکندهار د خلکو سره يې خبرې توپير کوي خو په ژبه يې پوهیږو ځکه ژبه یوه ده خو د ویلو طرز يې یو له بله سره توپیر کوي. که سفر ته د پکتیا او خوست په لوري دوام ورکړو نو بیا به د خبرو په طرز کې له نورو هغو سره نور توپیرونه هم ووینو. دلته به هم په ژبه پوه شو ځکه یوازې د وینا په طرز کې توپير لیدل کیږي.

په پای کې ډېرو توپیرونو ته متوجه کیږو. دغه توپیرونه بېلا بېل عوامل لري. کله کله کېدای شي ځینو توپیرونو ته په اسانۍ ځير شو.

Download from: https://liyanamiri.com

علت يې دهغې سيمې ځانګړی تلفظ او د وينا ډول دی. کېدای شي دخوست يا بلې کومې سيمې په خبرو سم ونه پوهېږو تردې چې ښه ورته ځير شو.

## د ګړدودونو په هکله نظريې

د ګړدودونو په اړه نظريې تر دوه سرليکونو لاندې (پښتو ژبپوهانو نظرونه، د نورو ژبو پوهانو نظرونه) راوړل شوي:

الف: د پښتنو پوهانو له نظره:

پوهاند تړی کاړي: کوم ګروپي تغيير چې په وييز او غږيز سېستم کې ليدل کيږي يا پيښيږي هغه لهجه شمېرل کېږي.بيا وايي زما په اند ددې توپير د ښودلو لپاره نژدې نه هم لا ښه لاره دا ده چې سړی ژبه يو سېستم وګڼي او کوم ډله ييز توپير چې په خپله سېستم کې ليدل کيږي هغه لهجه وبولي. اما کله که خپله سيستم بېل وي، هغه بېله ژبه وګڼي. لوی استاد پوهاند ريښتين د لهجې په باب داسې ويلي دي: د ژبې او لهجې په منځ کې توپير دومره جنجالي خبره نه ده، ژبه ديوې ونې د تنې او منډ حکم لري.

او لهجه يې د څانګو او ښاخونو سره مشابه کيږي. د مثال په توګه عربي د ټولو عربو شريکه ژبه ده خو لهجې يې د ملک او جغرافيې بدلون په وجه سره بېلې دي . په دغه اساس دمصر، شام، عراق او سعودي عربستان لهجې سره جلا او بېلې ګڼل کيږي. دغه شان د فارسي، اردو او نورو ژبو حال دی، په اساسي توګه د لهجو تر منځ اختلاف له دوو خواوو څخه څرګنديږي؛ يو صوتي او غږيزه خوا چې په يوه کلمه کې د ويون او غږونو شکل بدل شي. لکه

و= وسو

Download from: https://liyanamiri.com

مونږ = موږ یا میږ
او بله خوا د یوې کلمې د معنا او مفهوم اختلاف دی. لکه:
ډنګر چې په یوه سیمه کې د خوار په معنا او په بله سیمه کې د څاروي معنا ښندي.
مګر ځینو کسانو لغوي او ګرامري اختلافونه د لهجو اختلاف په سلسله کې راوړي او همېشه د خپل مطلب ثابتولو لپاره د لغوي اختلاف له مسایلو څخه کار اخلي.
پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار یې په اړه لیکي:
کوم ځانګړي توپیرونه چې د یوې ژبې د ویونکو لخوا لیدل کیږي د هغې ژبې ببلابېلې لهجې دي. په بله وینا د یوې ژبې هر ویونکی د دغې ژبې د یوې لهجې ښکارندویي کوي او یو له بله سره د بېلابېلو بیولوژیکي، سوسیولوژیکي او جغرافیوي دریځو په لرلو سره د هماغې یوې ژبې په استعمال او کارولو کې توپیرونه لري. مګر څنګه چې دا فردي توپیرونه په خپلو منځو کې دومره سره لوی نه وي او دې هر یوه ته موږ لهجه یا دیالیکټ نه بلکې ( Idiolect (فردي لهجه) وایو او په دې ډول مونږ له دغه فردي توپیرونو یا ایډي لکتونو هماغه ډلې ټپلې په پام کې نیسو چې سره یو راز او یو ګډ سیمه ییز یا ټولنیز خصوصیت ولري. نو وایو د پلانۍ سیمې ډلې یا ټبر لهجه...
کوم بریدونه چې د یوې ژبې ګړدودونه او لهجې سره بېلوي هغه ګړني غږیز (صوتي ) ګرامري او لکزیکي توپیرونه دي. د یوې ژبې د ویونکي په خبرو او ویناوو کې هم د تلفظ توپیرونه لیدل کیږي چې یو له بله په توپیر هم ولري. ددغه توپیرونو په اړه پوهندوی نوراحمد شاکر په ((ژبنۍ څېړنې)) کې لیکلي: ((هرکله چې دوه کسان په یوه ژبه خبرې سره کوي که سړی په ډېر غور ورته ځیر شي، ددوی په خبرو کې توپیر

Download from: https://liyanamiri.com

موجود وي. او هماغه يوه موضوع يو سړی په يو ډول او بل سړی په بل ډول کلمو کې ادا کوي. ممکن يو سړی په خپلو خبرو کې داسې کلمې استعمال کړي چې دهغه بل سړي دکلمو په پانګه کې نه وي، يا يې زده وي خو دهغوی د استعمال سره عادت و نه لري. دغه ډول د يوې کورنۍ لهجه د بلې کورنۍ ته څه نا څه توپير لري.»(شاکر، ۱۳۵۰: ۵۶)

محمد معصوم هوتک په «په معياري ژبه د معيار په ژبه يوه کتنه» نومي اثر کې ليکلي:

«لهجه دخبرو اترو طرز يا د خبرو د افادې يو ډول دی. لهجې ته په انګريزي کې (Dialect) وايي چې د يوناني لغت (Dialectos) څخه مشتقه کلمه ده او ډيالکتوس د خبرو کولو طريقې ته ويل کيږي. لهجه د يوې ژبې محلي نوعه هم بللای شو. لهجې ته فرېزيولوجي (phraseology) هم ويله شوې ده او هغه هم د افادې د څرګندولو لارې ته ويل کيږي.

ب: دنورو پوهانو نظرونه:

د روسي (پخواني شوروي) ژبپوه (اف ام برزين) وايي:

لهجه هغه وييزې او ليکل شوې ژبې ته وايي چې د اصلي ژبې او سېستم څخه په ځينو کلمو او تلفظونو کې ببله شوې وي. دا ببلتون د قبيلو سيمو ښارونو کليو باندېو پوهو او ناپوهو ( سواد لرونکو او بې سوادو) تر منځ د خبرو اترو په وخت کې جوتيږي او د ژبې عمومي جوړښت ساتي. (منګل، ۱۳۸۱: ۴-۵)

د کېمبرېج ډکشنرۍ په يوه برخه کې د (ډيالکټ) په اړه ليکل شوي:

(Dialect: A dialect is form of the language that is spoken in a particular part of the country or by a particular group of people.)

Download from: https://liyanamiri.com

په دې معنی چې ګړدود د يوې ټاکلې ډلې له خوا په يو ټاکلې سيمه کې ويل کيږي. پوهاند محمد حسين يمين په (درامدی بر لهجه شناسي در زبان فارسي دری) کې داسې وايي:

(( لفظ مردم محل معينی که از جهت فونيتيکي، دستوري و واژه گاني از ديگر محل ها و زبان ادبي و ملي تا اندازه يې فرق داشته باشد ،لهجه ناميده ميشود . )) (يمين،۱۳۸۸: ۳)

Download from: https://liyanamiri.com

## دوه یم څپرکی

## د لهجې د مينځ ته راتلو لاملونه

هره قبيله د يوې ځانګړې لهجې لرونکې ده. د قبيلې د وګړو ګڼه او شمېر د قبيلې د تکامل سره زياتېږي او د ځنډن استوګنځي څخه کډې کوي. کله چې دا نوي کورنۍ په نوي او ځانګړي چاپېريال کې ځای ونيسي هرو مرو د خپلې عنعنوي او مروجې ژبې څخه يا څه هېروي او يا څه وربانديې زياتوي. په دغه شان لېږد او يون کې د پېړيو او وخت په تېرېدو د دغو کډه شويو کورنيو ژبه او لهجه له خپلې پخوانۍ قبيلې او پلرينې سره ورو ورو توپير مومي. خو سره له دې هم د اصلي قبيلې رنګ او څېره او پلرنۍ ژبه او لهجه په لېږدېدونکو قبيلو او کورنيو کې څه پاتې کيږي. ددغو ملي قبيلو او کورنيو د سياسي،اقتصادي،چاپېريال او محيطي اغېزې د کمزوري کېدو په وجه د هغو ژبه او لهجه د بېلو شويو کورنيو او پلرينو د وګړو په مينځ کې کمزورې او پاشلې کيږي چې د وخت په بدلېدو سره تغيير مومي. ددې له پاره چې دا ملي ژبه او لهجې خپل قوت او سوچه توب په ځنډنه بڼه وساتلی شي د قبيلې سياسي او اقتصادي واکې او واک بايد ټينګ وي.

څرنګه چې ژبه د يوه لړ وييزو او اوريزو سېمولونه سېستم دی او هر سمبول زموږ د يوه ذهني انځور ښکارندوي کوي او دا انځورونه په خپل وار د انساني چاپيريال او مهال څيزونه پيښنې او کړه وړه را اخلي نو جوته ده، چې د هغه انساني چاپيريال مهال څيزونه کړه وړه تل په اوښتنه او تحول کې دي او يا په خپله د وګړو ترمنځ فزيکې، روحي، کلتوري، ټولنيزي او تېريزي ځانګړتياوي،يوه جوته بڼه نشي درلوداى، نو همدغه اوښتنه د ژبنۍ اوښتنې يا په بله وينا د ژبنۍ رنګارنګۍ لامل او

Download from: https://liyanamiri.com

سرچینه ده او په یوه ژبه کې دا رنګارنګي د بېلابېلو بڼو یا ګړدودنو مانا لري.(شپون، ۹۹:۱۳۸۹)
لهجې پر جغرافیایي ماحول سربېره په ټولنه کې د یوې ژبې د ویونکو له ټولنیز او اقتصادي دریځ سره هم بدلون مومي...د ژبې پوهان په دې عقیده دي،چې د ژبې لهجه هغه وخت منځ ته راځي چې ویونکي یې له خپل اصلي او طبیعي ټاټوبي څخه دبېلابېلو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نظامي عواملو له امله نورو سیمو ته ولېږدیږي او هورې د نورو ژبو په ګاونډ کې واقع شي او د نورو ژبو او ثقافت تر اغېزې لاندې راشي. د ځینو لهجو د انکشاف لړۍ دومره پسې اوږده شي چې یوه بله ژبه منځته راوړي.
څه وخت چې د ژبو تر مینځ د مقایسې او پرتله کولو علمي څېړنې په اروپا او امریکا کې پوهانو پیل کړې او په دې سره د ژبې د علم په برخه کې اساسي او میتودیکه مطالعه په علمي غوره اصولو بنا شوه پوهان دغې عقیدې ته ورسېدل چې د یوې ټولنې غړي په یوه سیمه کې یوه ژبه استعمالوي او پېړیو په تېرېدو سره په ژبه کې پرمختګ او تغییرونه راځي او هر نوی نسل ژبې ته نوي شیان ورزیاتوي چې دا نوي څیزونه د ژبې د بدلون سبب ګرځي. په دغه صورت کې په ژبه کې یا دژبې په ساختمان او جوړښت کې ځنډنۍ کلمې له منځه ځي او پر ځای یې نوې کلمې د ټولنې د احتیاج او ضرورت له مخې چې انساني جامعه ورته اړه ده اخلي. ژبه د پرمختګ او انکشاف په وخت کې کله ځانګړې بڼه غوره کوي او کله ځانګړتوب ته بدلون او تغییر ورکوي. د ژبې د تغییر او اختلاف عمل په عمومي سبستم کې په حقیقت کې په یوه ژبه کې د لهجو د مینځته راتللو او په اصطلاح د کوچنیو او وړو ژبو د پیدا کېدو له پاره لاره هواروي.( منګل، ۱۳۸۱: ۴ـ۵)

Download from: https://liyanamiri.com

ګړدودونه اوږد تاریخ لري. کله چې د ژبې د ویونکو تر منځ واټن پیدا شي نو ګړدودونه هم رامینځته کیږي. معیاري او ادبي ژبې له همدې ګړدودونو څخه مینځته راغلي دي. معیاري ژبې ډېر وروسته په ټولنه کې خپل ځای لاسته راوړی ؛ مخکې له هغې ګړدود کارېده.

پوهان دوکتور محمد حسین یمین په ((در امدی بر لهجه شناسي در زبان فارسي دری)) کې د ګړدودونو د رامنځته کېدلو لامل داسې بیانوي:

((زبان انسانی همېشه مانند سایر پدیده های اجتماعي در حال تغییر و تحول است. زبان ها همیشه در سطوح اوایي، واژګاني،دستوري و معنایي معروض به تحول و دګرګوني می شوند. هیچ زبانی در طی زمان به یک حال ویک صورت باقي نمی ماند. قومی که در سرزمین واحدی سکونت دارند و باهم امده شد و ارتباط کامل داشته باشند،زبان ایشان به صورت واحدی تحول می کند ؛ اما اګر این ارتباط سست تر شود و یا هم ګسیخته شود،در زبان واحد انان تغییراتي وارد شده وزبان شان به لهجه هایی تقسیم می شود. اګر این قطع ارتباط ادامه یابد این لهجه های به وجود امده اهسته اهسته با ګذشت زمان به زبان های مستقلی بدل خواهد شد. (یمین،۱۳۸۸: ۳۴)

سیمه ییز او تېري ویش، پوهه او نا پوهي، لږ عمر او ډېر عمر بډاینه او بېوزلي، نارینتوب او ښځینه توب او داسې نور سره ګړدودي توپیرونه راوړي. ان یواځني سړي څو ګړدودنه کاروي. له پوهو سره یو راز، له نا پوهه سره بل راز، له ورو سره یو راز او له زړو سره بل راز خبرې کوي. او داسې پېښې نور د مهال تېرېدنه هم د ګړدودیز بدلون سبب ګرځي. په یوه ټولنه کې دیوې ژبې ویونکي یو د بل سره لږ او ډېر توپیر لري. په عمومي ډول دا اختلافونو په درې طبقو کښې په څرګند ډول لیدل کېږي.

Download from: https://liyanamiri.com

۱- دیوه ټولنیزګروپ غړي دبل ټولنیزګروپ غړي که څه هم دواړه دیوي ژبې ویونکې وي، په خپل منځ کې د لهجې اختلاف لري.
۲- دنراوښځې لهجې اکثراً توپیرلري. دژبې دثبتولو په وخت کې هغه هم باید په نظر کې ونیسو.
۳- دزلمیانواوزړوپه ویناکې هم ځینې وخت توپیرلیدل کېږي. مثلاً دافریقا په ډېرو ژبوکې زلمیان دهغومذهبي اصطلاح ګانوسره، چې د دوی پلرونه او میندې پرې پوهیږي؛ دوی ورسره اشنایي نه لري. په ځانګړې توګه دا توپیرونه په هغوځایو کښې ډېر لیدل کېږي، چې زوړ کلتور په چټکتیا سره د بدلون په حال کښې وي.

د ژبې څخه د لهجې د راوتلو پروسه د څو ورځو، څو میاشتو او څو کلونو، حتی د څو ټاکلو پیړیو کار نه دی، بلکې دا پروسه زیات تاریخي وخت غواړي، څو له ژبې لهجې وزېږېږي. همدا رنګه د لهجو د منځته راتګ جریان د ژبې له پیدا ایښت څخه، تر نن ورځې پورې جاري دی. د ژبې څخه د لهجو منځته راتګ د پروسې تر څنګ، ژبه دا هڅه کوي چې د ژبې څخه د لهجو منځته راتګ او زیږېدلو قوت کم شي، تر څو ژبه خپل ځان ملي او له ملي څخه بین المللي پړاو ته ورسوي. یا په بله وینا: په هره اندازه چې یو ټولنه د تکامل په ابتدایي پړاو کې وي، په هماغه اندازه د یوې ژبې لهجې هم زیاتې وي. مګر څومره، چې ټولنه پر مخ ځي، په هماغه اندازه د ژبې څخه د لهجو جلاوالی کمیږي. له بلې خوا ژبپوهان وایي چې: ژبه او لهجې په خپل منځ کې نږدې اړیکې لري. په دې مانا، چې ژبې بې له لهجې او لهجې بې له ژبې څخه مانا نه لري.
له ژبې څخه د لهجې د منځته راتګ عوامل په دوه برخو وېشل کېږي:

Download from: https://liyanamiri.com

لومړی: د ژبې خارجي عوامل چې د ژبې مربوط خارجي محیط جوړوي، دغه عوامل عبارت دي له:جغرافیایي سیمه ییز عوامل،تجارتي او ټولنیزو تماسونو عوامل،سیاسي عوامل او داسې نور.

دوه یم: د ژبې په داخلي چاپیریال کښې فونیمیکي او مورفوفونیمیکي، صرفي، نحوي او نور تغیرات څېړل کېږي دژبې په داخلي چاپیریال کې دتغییراتو له ډلې څخه یوهم دفونیمیکي اومورفونیمیکي تغییرات دي.

لکه: د خپلواکو تورو بدلون، د بېواکو تورو بدلون، اسیملیشن،د تورو کموالی یا ډېروالی ...

څېړندوی وجیه الله شپون په خپل اثر (له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکې ) نومي اثر کې د پښتو لهجو د پیدایښت دلایل داسې په ګوته کړي:

((.... پخپله د خلکو او وګړو تر منځ فزیکي،اراوایي، کلتوري،ټولنیزې او اقتصادي ځانګړتیاوې یوه څرګنده بڼه نه شي درلودلای. نو همدغه بدلون او اوښتنه د ژبني بدلون او اوښتنې، یا په بل عبارت د ژبنۍ رنګارنګۍ لامل او منشا ده او په یوه ژبه کې دا رنګارنګي د بېلا بېلو بڼو یا لهجو معنا لري. )) (شپون، ۱۳۸۹ : ۹۹)

د لهجو په منځ ته راتګ کې د وخت د تېرېدو موضوع هم مهمه ده. د بېلګې په توګه که په کومه سیمه کې تر اسلام دمخه د پښتو متن پیدا شي،خامخا به ورباندې د هماغې ټاکلې سیمې وګړي غږېدای او پوهېدای نه شي،بیا خپلواکي مومي او بېلا بېلې ژبې ورته ویل کیږي.

د پښتنو غرنۍ،تېرنۍ او کوچیانۍ ژوند د دوی د لهجو د رامنځته کېدو بل لامل دی، چې راز راز توپیرونه یې پیدا کړي دي او په دې توګه په مختلفو لهجو وېشل شوي دي.

Download from: https://liyanamiri.com

پوهاند زیار د لهجو د رامینځته کېدو په هلکه داسې نظر لري:

«ښايي د ټاټوبي بدلېدل د ټبر د وېش او انشعاب سبب نه شي،مګر زيات کېدون شته،چې ګړدودي وېش يا بدلون رامنځته کړي او دا هم ازمېښتونو جوته کړې ده چې ګړدودي وېش او انشعاب تر قبيلوي هغه زيات ګړندی دی....»

ځينې بېلابېل لاملونه چې د ګړدودونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي داسې هم بيانولی شو:

- طبيعي خنډونه يا موانع: لکه: دريابونه، لوی سيندونه او لوړ سخت غرونه چې تګ راتګ پرې نه شي کېدی.
- د زده کړې نه شتون او د ښوونې او روزنې د سېستم نه شتون
- دملوک الطوايفي دولتونو شتون چې اړيکې په کې پرې وي او يا هم سستې وي نو ګړدودونه رامنځته کيږي.
- سياسي پولې: سياسي پولې هم د ګړدود په رامنځته کېدو کې رول لري، په تېره هغه هېوادونه چې سياسي ستونزې په کې ډېرې وي.
- مذهبي،نژادي، او طبقاتي مسايل هم د ګړدودونو د رامنځته کېدو لامل کېدی شي.(ذاکر،۱۳۹۴ : ۳۷)

د مطالعې او څېړنو پر بنسټ په ټولنه کې د لهجو د منځته راتګ عوامل په لاندې ډول ښودلی شو:

۱- جغرافيوي عوامل

۲ - تاريخي او سياسي عوامل

۳ - اکثريت او اقليت

۴ - سواد او بې سوادي

۵ - رسمي بيلتون ( په مختلفو سيمو کې اوسېدل)

Download from: https://liyanamiri.com

۶ – اجتماعي، قومي، نژادي، ديني او مذهبي عقايد
۷ – اقتصادي طبقات
۸ – د علمي او ادبي اثارو نشتوالی او نه خپرېدل
۹ – د نورو ژبو له اثارو څخه استفاده
۱۰ – رواني مسايل
۱۱- خارجي اغېزې چې يوه ژبه پر بلې ژبې مستقيماً تاثير کوي.
۱۲ – اقتصادي، سياسي، فرهنګي او کلتوري دودونه او دستورونه د ژبې په خارجي عواملو کې راځي. د ژبې په داخلي

عواملو کې د هغې داخلي چاپيريال،فونيميکي، موفولوژيکي، مورفوفونونيمکي،صرفي او نحوي تغييرات په پام کې نيول کيږي.(تنيوال، ۱۳۸۸: ۶)

ښاغلي غوربندي په (ګړدود پوهنه) کې د لهجو د رامنځته کېدو عوامل په دوه برخو ويشلي دي:

لومړی: د ژبې خارجي عوامل: دا هغه عوامل دي چې د يوې ژبې پورې مربوط خارجي چاپېريال او محيط جوړوي او دغه عوامل عبارت دی له تاريخي، جغرافيوي سياسي،کلتوري، اقتصادي او داسې نور...

دوه يم:د ژبې په داخلي چاپېريال کې دغه لاندې تغييرات او بدلونونه مينځته راځي:

الف: مورفو فونيميکي تغييرات

ب: فونيميکي تغييرات

ج: لغوي تغييرات (غوربندی، ۱۳۹۵: ۱۱)

Download from: https://liyanamiri.com

مورفو فونيميکي بدلون: (**morph phonological changes**)
دا بدلون د فونيم د بدلون نظام دی چې د چاپېريال له امله فونيمونه ځيني بدلونونه مني او بېلا بېلې بڼې غوره کوي.
((دغه اوښتنې په ځېيزو، مورفيميزو او لغوي چاپېريالونو کې دهغو فونيمونو تر منځ پيښيږي چې په عين وخت کې نا خپلواک مورفيمونه هم دي. له همدې کبله ورته مورفوفونيميکي اووښتنې وايي. دغه اوښتنې زياتره وختونه د مانا د تغيير سبب نه ګرځي بلکې په دغو اووښتنو کې فونيمونه د فونيټيکي خاصيتونو له مخې يا سره همرنګې کيږي يا سره اوړي يا په خپل مينځ کې نا همرنګي ښيي يا همرنګي غږونه يو په بل کې مدغميږي او يا هم يو فونيم غورځي. ځيني وختونه د ګرامري مانا د بدلون سبب هم ګرځي، لکه، د (خور) او (خوړ) په ويپونو کې چې (خور) د حال زماني ولې ده کله چې تېرې زمانې ته اوړي په (خوړ) بدليږي يعنې (ر) په (ړ) اوړي. دغسې (اغوند) او (اغوست) هم دراواخلئ. (خوښکی، ۱۳۹۵: ۵۴)
دغه رنګه په پښتو ژبه کې د (زما) او (ستا) په کلمو کې (ز) او (س) د مالکيت مورفيم دی. که نوموړی مورفيم تر (م) غږن فونيم څخه دمخه راشي په (س) يعنې بې غږن اواز سره ادا کيږي...(غوربندی، ۱۳۹۵: ۱۲)
په مورفو فونيميکي بدلونونو کې همرنګي او ناهمرنګي راځي. ځينې په کې د حذف، قلب او زياتېدنه عمليې هم راوړي.

فونيميکي تغييرات

د ژبې په داخلي چاپېريال کې د تغييراتو له جملې څخه يو هم فونيميکي تغييرات بلل کيږي، چې لاندې ډولونه لري:

Download from: https://liyanamiri.com

لومړی: د واولونو تغییر یو تر بله په خپل مینځ کې: لکه دغوږ او غېږ،(بازار) او (بازور) په کلمو کې د (ا ،و ، ی) تغییر یو په بل باندي.

دوه یم: د کانسوننټونو تغییر یو پر بل باندي: لکه د (نږدې) کلمه چې (نزدې) هم ویله کیږي، دلته د (ږ) غږ په (ز) غږ باندې بدلیږي یا (ژوندی) په (جمدی) کلمه کې د (ژ) بدلون په (ج).دارنګه (ژرژر) په (زرزر) او (لمر) په (نمر) کلمې.

دریيم: د کانسوننټونو بدلون په واولونو باندي. لکه په ویده (wida) او بیده(bida) کلمو کې.(وېره) او (بېره)کلمې یې هم بېلګې دي. ځیني خلک د (قحطی) پر ځای(قاتی) وایي چې (ح) په کې په(الف) اوښتې. دارنګه (ټکتونه) په (ټکسونه) هم وایي. (میاخیل،١٣٩٥: ٣٧)

د ښاغلي استاد غوربندي له کتاب ((ګړدودپوهنه)) څخه دا لاندې جدول راوړم

| فونیمیکي بڼه | ننګرهار لهجه | فونیمیکي بڼه | پکتیا لهجه |
|---|---|---|---|
| Andaza | اندازه | Anduza | اندوزه |
| wadə | وادہ | Wuda | وده |
| māt | مات | Mut | موت |
| māl | مال | Mul | مول |
| rāğay | راغی | Rugay | روغی |
| kāl | کال | Kul | کول |
| wāxə | واښه | wuxə | ووښه |
| wadān | ودان | Wedun | ویدون |
| tār | تار | Tur | تور |
| lās | لاس | Lus | لوس |
| Mor | مور | Mer | میر |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| خروب | Xarop | خراب | xarāb |
| دریوب | Dayup | دریاب | daryāb |
| کیڼ | kiṇ | کوڼ | kuṇ |
| خوړه | xuṛə | خواړه | xwāṛə |

دننګرهار کومه لهجه چې ښاغلي غوربندي ښودلې، ټوله په دغه ډول نه ده. که موږ شینواري، خوږیاڼي او مومند په پام کې ونیسو بیا په یوه کلمه د ننګرهار د ګړدود نوم ایښودلو باندې لږ فکر کوو او سم دلاسه یې د ټول ګړدود استازیتوب ته نه پرېږدو. دلته ښه فکر وکړئ! د ننګرهار خوږیاڼیو د زاوي سیمي خلک هم (اندازه) د (اندوزه)، (واده د وواده)،(مات د موت)، (مال د مول)، (راغی د روغی)، (کال د کول)، (لاس د لوس) او نور... په بڼه تلفظ کوي. یوازې توپیر یې د پکتیا له ګړدود سره دادی چې دوی (الف) په سخت (و) نه تلفظ کوي بلکې د (o) په خبر یې (الف) ته نږدې تلفظ کوي. لاندې جدول وګورئ:

| دخوړیاڼیو تلفظ | فونیمیکي بڼه | دخوړیاڼیو تلفظ | فونیمیکي بڼه |
|---|---|---|---|
| اندوزه | Andoza | کول | Kol |
| وواده | wodə | لاس | Los |
| موت | Mot | تور | Tor |
| کوبل | Kobal | | |

دارنګه (شپه د شپا) په خبر، (منه د منا ) او (شپږ د شپاړ یا شپاخ) په خبر تلفظ کوي. د یادونې ده چې دوردګو خلک هم دا ډول تلفظ لري.

Download from: https://liyanamiri.com

**لغوي تغييرات: (lexical changes)**

د ژبې په داخلي چاپېريال کې يو شمېر لغوي تغييرات د ژبو په مختلفو لهجو کې د مختلفو عواملو له کبله مينځته راځي. لکه: مړی، ډوډی، ټيکله.(غوربندی،۱۳۹۵: ۱۵)

د پښتو ژبې د لهجو رنګارنګی مونږ ته هغه وخت ښه ښکارېدی شي،چې مونږ د پښتنو په ټولو بېلابېلو سيمو کې وګرځو دهغه خلکو غږونه او د غږونو تر ټولو باريک فونيټيکي خصوصيات د الاتو په وسيله ثبت کړو او بيا پرې کار وکړو. ځکه په کوم ځای کې چې غرونه او درې وي د ښارونو او سمو اوارو ميدانونو په پرتله په کې ډېر لهجوي توپير ليدل کيږي. په اوارو سيمو او ښارونو کې د راز راز سيمو د خلکو اړيکې سره ټينګې شوي وي او لهجوي يووالي ته سره رسېدلي وي خو په غرونو رغونو او درو کې بيا د بېلوالي ډېرې موانع شته او خلک يې د غرونو او دېوالونو په وسيله سره لېرې کړي نو ځکه په کې لهجوي توپيرونه ډېر وي.

د تعليمي کچې لوړېدل او نورې خپرونې چې د ژبې په بشپړونه کې مرسته کوي ددې لامل کېدی شي چې لهجوي بېلوالی له مينځه يوسي او ژبه د معيار په لور يوسي. که چېرې د ژبې په لهجو کې د يوې لهجې رنګارنګي له پنځوسو سلنو واوښته هغه بيا بېله ژبه ګڼل کېدی شي.

## د ګړدودونو د راټولولو اړتيا

مونږ پوهيږو د ژبې ډېر سوچه لغات په ګړدودونو کې پيدا کيږي او که وغواړو د بلې کلمې پر ځای يې،چې زمونږ په ژبه کې يې ځای نيولی او سم هم نه برېښي، وکاروو نو سمه پرېکړه او سم کار به مو کړی وي. يوه ژبه هم هغه وخت بډايه وي چې خپل کلمات يې د نورو دخيلو کلماتو

Download from: https://liyanamiri.com

په پرتله ډېر وي یعنې خپل مال او لغوي پانګه یې ډېره وي په متن کې که مونږ د ګړدودونو ځینې ګړنې او څرګندنې وکاروو نو یو ډول هنریت او خوندور رنګ پیدا کوي.
له نورو ژبو سره که د یوې ژبې د ځینو ویبونو پرتلنه کوو یا یې اړیکې څرګندول وغواړو نو که په کاربدونکې ژبه کې پیدا نه شي، کېدای شي د همدغې کاربدونکې ژبې په ګړدودونو کې یې وموږو او کار مو هم بریالی بشپړ شي.
د ګړدودونو په ټولولو کې د ولسي خلکو اخلاق، روحیات او د ژوند بڼه هم معلومیږي. دارنګه ګړدودونه ژبه ثابته ساتي او ژبه رامنځته کوي. کله چې د ګړدودونو ټولونه دومره او تر دې هم ډېره ګټه لري نو ټولولو ته یې خامخا اړتیا شته.
ښاغلی پوهاندیمین په «درامدی بر لهجه شناسي در زبان فارسي دری» کې داسې لیکلي:
« تنوع قانون طبیعت است و از بین رفتن تنوع توازن جامعه انساني رابرهم می زند. مرګ یک لهجه از مرګ یک فرهنګ خبر می دهد.»
کله چې دیوې لهجې ساتل یو کلتور ساتلی شي نو ساتلو ته یې هم اړتیا شته. د هرې ټولنې خلک چې په ځمکه ژوند کوي، اړ دي چې یو له بل سره اړیکه ژوندی وساتي. دغه اړیکې ټولنیزې، اقتصادي او کلتوري اړیکې دي. نو که دغه اړیکه په معیاري ژبه وي دېره ښه ده که نه بیا خو ددوی تر منځ ګړدود د اړیکو ساتلو او غږېدو غوره وسیله ده ددې له پاره د ببلا ببلو لاملونو له امله ګړدودونه له منځه ځي نو په راټولولو کې یې باید ډېره پاملرنه او کار وکړو. بیا به د لهجې د له مینځه تللو وېره نه وي.د ګړدودونو راټولول ډېرې ګټې لري خو ددې ګټو

Download from: https://liyanamiri.com

د لاسته راوړلو له پاره باید د پوهانو وروستۍ ویناوې په پام کې ولرو.
د ګړدودونو د راټولولو ځینې نورې ګټې په لاندې ډول دي:

- د زړو او پخوانیو ویپونو پېژندل
- په بېلابېلو سیمو کې د غږیزو، صرفي،نحوي، معنایي او نورو بدلونونو څخه خبرېدل
- د ژبو او ګړدودونو سمه ډلبندي او د هغوی تر منځ د اړیکو پېژندل
- د وګړو د ټولنیزو،کلتوري مسایلو، ادابو او رواجونو پېژندل.
- د ژبني اطلس په سم ترتیب او جوړونه کې مرسته کوي
- د تطبیقي ـ تاریخي مطالعاتو له پاره ور مواد برابروي. د زړو کلماتو اصلي بڼه جوړول او نورې معنوي ځانګړنې د ګړدودونو څخه ښکاره کیږي.

د ګړدود ساتل ژبه له زوال څخه ساتي....

ژبې او ګړدودونه د فرهنګ د عمده عناصرو په توګه یوه انساني پانګه ده. که په داسې شرایطو کې وو چې ددغې پانګې (ګړدود یا ژبې) د له منځه تللو وېره وي او د هغو د ساتلو له پاره هم څه کولی شو نو اړینه ده چې د دغو پانګو ځانګړتیاوې له ځانه سره لیکلې وساتو او د دغو فرهنګي میراثونو د له منځه تللو مخنیوی وکړو. سربېره پردې ژبه او ګړدود هغه پدیده ده چې د انسان او د هغه له ژوند سره اړه لري. د بېلګې په توګه د انسان علمي پېژندګلوي لکه د نورو پدیدو د پېژندګلوۍ په څېر د انسان او نړۍ له پېژندګلوۍ سره مرسته کوي.

د یوې ژبې ګړدودونه د ویپونو او اصطلاحاتو خزانې دي. د ګړدودونو راټولول ستره اړتیا ده او ډېرې ګټې لري. لنډه دا چې ګړدود (لهجه) د ژبې یو ډول دی او د لهجې پېژندنه د ژبې پېژندنه ده خو که دژبې

Download from: https://liyanamiri.com

دمعیاري کېدواو د ټولنې دپرمختګ مخه نیسي نو بیا دې پرې فکر وشي.

## د ګړدودونو (لهجو) د راټولولو لارې

کله چې مونږ غواړو د یوه ګړدود په هکله څېړنه وکړو نو د ژبپوهنې له اصولو سره سم باید پر مخ ولاړ شو. هغه مواد چې د هغوی په واسطه موږ د نومونړې ژبې بېلابېلې لهجې او د هغوی توپیرونه وښودلای شو، دژبپوهنې دعلمي اساساتو له مخې راغونډوو.دغه مواد چې راټول شول او د خپرولو له پاره اماده شول،موږ کولای شو چې په بېلو بېلو طریقو سره هغه نشر کړو.

د لهجو راټولولو پر مهال باید د پوهانو له تجربو او مشورو ګټه واخلو. تجربو ښودلې ده چې لومړی باید یوه ډله وروزي او د ژبپوهنې په اصولو یې هم وپوهوي وروسته له دې یې باید دهغې نقشې له مخې،چې وارله مخه د څېړنې له پاره جوړه شوې،ښارونو او ابادیو ته ولېږي تر څو ټول په یو ډول اصولو کار
وکړي او سمه پایله هم په لاس راوړي.

په هغه سیمه کې چې محقق د لهجو تحقیق کوي،لومړی باید د نوموړې سیمې یوه جغرافیایي سروې وکړي څو په دې توګه څه عمومي او ابتدایي معلومات د هغو بېلو بېلو سیمو په باره کې لاسته راوړي چې په هغوی کې د ژبې د استعمال توپیرونه موجود وي. وروسته تر دې محقق دوه کاره کوي

یو دا چې د هغو جغرافیایي سیمو یو لست ترتیب کړي چې په هغوی کې د ژبې هغه عناصر چې یو له بله توپیر سره لري وروسته په غور سره

Download from: https://liyanamiri.com

وکتل شي. بل دا چې د هغو عناصرو لست ترتیب کړي چې په نوموړو سیمو کې باید دهغوی تحقیق وشي.
کوم ګړدودونه چې له فرهنګي، سیاسي، اقتصادي... لوریو غښتلي وي، هغه ګړدودونه له منځه وړي چې له یادو شرایطو برخمن نه وي. بل دا چې ځیني هېوادونه هم د ګړدودونو په له منځه وړلو کې لاس او پښې خوځوي تر څو نور ګړدودونه او ژبې یې ځای ونیسي. ټول ګړدودونه (لهجې) په خپل ځای د ارزښت وړ دي، باید چې په ساتلو کې یې ډېره هڅه وشي. په اوسنیو شرایطو کې که د ورکېدونکو ګړدودونو مخه نه نیول کیږي؛ تر ټولو لوی کار دادی چې ساتلو او ثبتولو ته یې متې راونغاړو. د لهجو مواد باید په ځیرتیا سره هماغسې لکه چې دي، ثبت او وساتل شي. خجونه، فشارونه، فونیټیکي او نورې ځانګړنې باید په پام کې ولرو. د ګړدودونو د ټولولو په لارو چارو کې باید لاندې خبرې په پام کې ولرو:

## الف: د خبرني له پاره وسایل

د ګړدودونو د څېړنو پر مهال باید د پوښتنو یو لست (پوښتنلیک) جوړ کړو. پوښتنې باید یو له بله منطقي تړاو ولري. د پوښتنو لوری باید ژر ژر بدلون ونه کړي. د څېړنې کولو له پاره بایده دي چې د نویو او عصري وسایلو لکه د غږ ساتلو دستګاه او حتی د کمرو څخه ګټه واخیستل شي. د څېړنې پر مهال د ټیپ ریکارډ څخه کار واخلو، ځکه دټایپ په واسطه ډېر داسې فونولوژیکي خواص څرګندیږي چې حتی یوه ډېره دقیقه فونیټیکي الفبا او سمبولونه یې هم نه شي څرګندولای، بل داچې په دې سره عروضي خصوصیات(خج او فشار) هم په لاس راځي.
د لهجې د څېړنې پر مهال باید خپل معلومات هم راسره وي که داسې نه وي نو هغه څه چې په هکله یې څېړنه کوو د ځوابونو په سم او ناسم کې

Download from: https://liyanamiri.com

هم پرېکړه نه شو کولی. دارنګه د ګړدود ټولونکي سره باید په پوره اندازه لویې او وړې پاڼې، قلمونه او پنسلونه موجود وي،ترڅو چې مهم یادښتونه واخلي او یا هم دنقشو په وسیله د ځینو سیمو ګړدودیزې ځانګړنې او کلمې ثبت کړي. د یادښتونو پرمهال که د ځانګړو پنسلونو څخه کار واخیستل شي غوره ده ځکه د قلم په پرتله د پنسل لیکي او یادښتونه په اوبو ژر له منځه نه ځي.

د ګړدود ثبتوونکي سره باید ساعت او یا هم داسې وسایل وي چې د څېړنې وخت ورته ښکاره شي. ځکه که له ټاکل شوي وخت څخه ډېره څېړنه وشي، کېدی شي ځوابوونکی تنګ شي او یا هم څېړونکی د دومره ځوابونو په سمولو او اوډلو و نه توانیږي. که د څېړنې له پاره په ورځ کې درې ځله د (۴۵) دقیقو پورې وخت ورکړل شي ښه ده.

د دغو یادښتونو د ساتلو له پاره وسیلې هم باید موجودې وي تر څو یادښتونه ورک نه شي. یو وخت ما (لیکوال) په ډېرو ستونزو د هرات شینډنډ ولسوالۍ ته د خوړیاڼیو قوم په هکله د معلوماتو راټولولو له پاره د تللو موقع بیا موندله. کله مې چې مواد راټول کړل نو په کومه وسیله کې چې ما مواد ټول کړي وو له ماڅخه هغه اله په اوبو کې ولوېده او بیا هغه مواد په لاس رانغلل. ما هغه ثبت کړي هم نه وو او د بیا ثبتولو له پاره هیڅ امکان هم نه و. ما خو مواد پیدا کړل خو ډېر یې وکړولم. د ثبت شویو موادو له پاره که بېلې بېلې کیستې ولرو او بیا یې په لیکلي ډول ښه ترتیب هم کړو ،ډېره به ښه وي. ټول هغه وسایل چې متن ساتلی شي اړین دي. دارنګه د رڼا ورکولو او نورې مادي وسیلې هم اړینې دي.

Download from: https://liyanamiri.com

ب: له کومو سرچينو څخه کار واخيستل شي ؟

د ګړدودونـو څېړنـه څـه سـاده خبـره نـه ده،بايـد ډېـرې اړينـې سرچينې،وسيلې او پـه اصـولو کې ښه پـوره پوهـه ولـرو. د ژبپـوهنې پـه تاريخ او د اوازپوهې په هکله له معلومـاتو پرتـه شـوني نـه ده. دارنګه لـه غږ پوهنې،لغت جوړونې،نحوې،او معناپوهنې سره بلدتيا هم ډېره اړينه ده. يـوې نـوې ټـولنې تـه د نابلـده سـړي ننوتل،پـه تېـره د بهرنيـو ، ډېرې ستونزې له ځانه سره لري.

د څېړنـې پـر مهـال د پوهانو،مشـرانو مشـورې او وينـاوې هـم مهمـې سرچينې دي. زمونږ له پاره په مسايلو پوه خلک هم سرچينې دي تر څو لومړنې او وروستنې سم او کره معلومات راکړي. کله چې مواد راټول کړو نو راټول کړي معلومات د بېلابېلو اصولو له مخې اوډنه غواړي. دغه تيوريکي اصول زمونږ له پاره سرچينه کېدی شي نو اړينه ده چې د ژبپوهنې له اصولو سره بلد اوسو.

ج: له چا څخه څېړنه وشي؟

کله چې ګړدود څېړونکي د پوښتنو لست برابر کړ، بيا په سيمه کې سفر پيل

کوي او هره سيمه چې يې د خپل ځان دتوقف له پاره ټاکلې ده پاتې کيږي. دڅېړنې له پاره بايد دا جغرافياوي سروې له ځانه سره د نقشې په بڼه ولرو. دبېلګې په توګه: دننګرهار دشينوارو لهجې په اړه څېړنه کوو. هلته ځانته دمه ځايونه او دڅېړنې سيمې جلا جلا په نښه کوو. په شينوارو کې ټاکلې سيمې مثلاً نازيان، غني خېل، هسکه مېنه، او نور په نښه کوو. په دغه سيمو کې بيا وړې سيمې، قريې او کلي په نښه کوو. بيا په هره سيمه کې وګړي او دهغوی ځانګړنې. په هغه ځای کې وړ ځواب ورکونکی څخه ځوابونه غواړو. په ټوله کې که په يوه سيمه دوه

Download from: https://liyanamiri.com

ځواب ورکونکي وټاکل شي ډېره ښه ده.دوی باید داسې کسان وي چې له کوچنیوالي څخه په هغه ځای کې لوی شوي وي او هغه مواد چې محقق یې په دغه سیمه کې راغونډوي دنومونړې ټولنې ټولې سیمې د خلکو د ژبې استازیتوب وکړي. محقق باید دنومونړو موادو راغونډولو نېټه ولیکي. دجواب ورکوونکي په ټاکلو کې د محقق ډېر غور لازم دی.

له چا چې پوښتنه ځینې کیږي؛ دهغه نوم،دهستوګنې ځای، دهستوګنې دځای بدلون،په نورو ژبوکې دده معلومات،سن او داسې نور معلومات،چې د ژبې په بدلون کې برخه لري باید ولیکل شي.

د ځواب ورکوونکي عمر باید تر شپاړسو کلونو زیات وي،ځکه چې بې له جزوي استثنااتو څخه هغه ثوک چې عمر یې تر شپاړسو کلونو کم وي په ژبه کې پوره تجربه او معلومات نه لري.په عمومي ډول نر ته د ځواب ورکوونکي په توګه دښځې په نسبت لوړاوی ورکول کیږي،ځکه چې نر نسبت ښځې ته په ټولنه کې په عمومي ډول له خلکو سره ډېر تماس لري.

د ځواب ورکوونکي فکري ذکاوت د ژبې په څېړنه کې ډېر اهمیت لري او هر څومره چې په ژبه کې ډېر معلومات ولري هغومره ګټوره نتیجه لاس ته راځي. دځواب ورکوونکي خوله او غاښونه باید نواقص ونه لري،ځکه چې که یې غاښونه وتلي وي یایې ژبه کوم عیب ولري،ممکن د ژبې اوازونه په سمه توګه سره ادا نه کړای شي. که یو محقق غواړي،چې سم مواد او سمه ډېټا لاس ته راوړي نوښایي،چې د ځواب ورکوونکي ټوله اوضاع او خواص مطالعه کړي او دهغه په خوی او بوی ځای پوه کړي.

لنډه داچې له هغه چا څېړنه وشي چې د ګړدود ، د سیمې د خلکو په دودونو ،تاریخ،د سیمې د جغرافیې، د خلکوپه هکله او نورو ډېرو مسایلو په هکله معلومات ولري تر څو د ګړدودڅېړنې حق ادا شي او رښتیني معلومات لاسته راغلي وي.که دا سړی لوستی وي ډېره ښه که

Download from: https://liyanamiri.com

داسې نه وي نو نالوستی بلد او پوهه سړی دې وي که داسې هم نه وي نو که ښځه وي باید د پوښتنو سم او کره ځوابونو په هکله یې باید ځان ډاډه کړو او د سیمو د نورو خلکو په خبرو کې دې سم او کره توب په هکله هم ډاډ ترلاسه شي.

Download from: https://liyanamiri.com

## دریېیم څپرکی

## ګړدودپوهنه او د ژبو او ادبیاتو زده کړه

ګړدودپوهنه (ډيالکتولوژي) يا لهجه پوهنه په اصل کې د تشريحي ژبپوهنې غوره څانګه ده. دغه پوهنه د ګړدود رامنځته کېدل،له منځه تلل،د ژبې او لهجې تر منځ توپير او د بېلتون پولې،د ژبې په معياري کېدو کې يې ونډه او اغېزه، د ژبې لهجې او نور څېړي.

د ګړدود او ګړدودپوهنې زده کړه علمي او عملي اهميت لري. په دې ډله کې د ګړدودپوهنې د بنسټونو پوهه،د ادبي معاصرې ژبې سره په اړيکه کې د کلمو په سمه ليکنه او املا او د تورو په سمو ويلو يا تلفظ کولو کې مرسته کوي. له همدې کبله د لهجه پوهنې او پښتو لهجه پوهنې په هکله پوهه د ژبو او ادبياتو ښوونکي يا استاد ته ډېره اړينه ده. د ژبو او ادبياتو د ښوونکي يوه دنده داده چې له زده کوونکو سره کار وکړي او د هغوی د خبرو کولو او ليکنې فن غښتلی کړي.

هڅه په کار ده تر څو زده کوونکی د ادبي ژبې په سم تلفظ وپوهول شي. اوس نو که د ګړدود او محلي ګړدودونو په ځانګړنو څوک ونه پوهيږي،زده کوونکي ته هم د ګړدود ځانګړنې نه شي ښودلای، نه د ادبي ژبې اصول او نه هم هغوی ته سمه ليکنه او املا. د ساري په توګه ښوونکی د ساري په توګه ښوونکی بايد په دې وپوهيږي چې په ځينو لهجو کې ځينې برخې په فشار او ځينې پرته له فشاره ويل کيږي او يا هم نه تلفظ کيږي. يا دا چې ځيني توري په نورو اوړي او بل ډول ويل کيږي.

د بېلګې په توګه: دمنګلو ډله(باغ په بوغ)، (اسمان په اسمون)، (کاغذ په کوغاز) تلفظ کوي. يا وزير (مور ته ميږ)، (کوږ ته کېږ)، (خوږ ته خېږ) وايي.

Download from: https://liyanamiri.com

((ساتي(sāti): ددغې کلمې مصدر ساتل دي، دا کلمه له دوو څپو څخه جوړه شوې ده چې په ځينو لهجو کې دلومړۍ څپې په فشار او ځينو نورو لهجو کې د وروستۍ څپې په فشار سره لوستل کيږي. که په غور وکتل شي دا کلمه د کندهار، پکتيا، ننګرهار، اپريديو، مومندو، وزيرو، مسيدو(مسودو)، اندړو او خروټو په لهجه کې په وروستي سېلاب باندې د فشار په راوړو سره تلفظ کيږي. لکه: احمد قلم ساتي. (ahmad qalam satí)په دغه مثال کې فشار د فعل په وروستۍ څپه(tí) باندې د فشار په راوړلو سره ادا کيږي. مګر د فراه، شينډنډ، او وردګو په پښتو لهجه کې په لومړۍ څپه باندې دفشار په راوړلو سره تلفظ کيږي. لکه: احمد قلم ساتي.(Ahmad qalam Śati ) چې دلته فشار د فعل په لومړۍ څپه (Śa) باندې راغلی دی. (منګل، ۱۳۸۱: ۳۰)
دا سې (ليکي) (liki) او (ليږي)(lizi) هم درواخله.

د ګړدود توپير يوازې په فونټيکې برخه کې نه وي بلکې د ژبې په هره ساحه کې ليدل کيږي. ښوونکې په تېره د مورنۍ ژبې ښوونکی بايد په دې وپوهيږي چې د دغو سيمو ګړدودونه په کومه برخه (په لغاتو کې، ګرامري، فونټيکې..)کې توپير لري. تر څو دمحلې وينا پر ځای د ادبي ژبې هغه زده کوونکو ته وښايي او هغوی ته پرمختګ ورکړي. ځکه نو د ژبو او ادبياتو د ښوونکي دنده د لهجوي تېروتنو سمونه او په زده کوونکو کې د يوازينۍ ادبي ژبې روزنه ده، تر څو هغوی د ژبپوهنې په هکله وپوهيږي. ګړدودونه د ادبي ژبې له پاره د پرمختګ مهمه سرچينه ده، چې له هره اړخه يې بډايه کوي.

د ګړدودونو د ژبنيو حقايقو زده کړه د پخوانيو خطي اثارو په پوهېدنه او د کلاسيکو او وروستنيو متونو په پوره پوهېدنه اود ژبې د نويو اثارو له پاره ډېره اړينه ده. د ژبې ويونکو او ليکونکو د ګړدود او

Download from: https://liyanamiri.com

ورپورې تړلې مسايلو څخه کمه ګټه اخيستې او اخلي يې. د ګړدودو د کلمو او يا عبارتونو کارول په ټاکلو مواردو کې بايد د لاندې موخو له پاره وکارول شي:

- ددې له پاره چې د اثر د قهرمان بهرني او دننني حالت ښه ځرګند شي، ليکونکی بايد هغه په خپله سيمه ييز ګړدود په خبرو راولي.

ليکوال اړ دی چې د سيمه ييزو وګړو د دودونو د انځورولو او د هغوی د روحي ځانګړنو د ځرګندولو پاره ګړدود وکاروي.

داخبره بايد په ياد ولرو چې ليکونکی په دغه دواړو حالتونو کې ډېره پاملرنه وکړي. يعنې تر څو چې شونې وي د ګړدودونو د ډېرو ځانګړو کلمو او عبارتونو له کارولو څخه ډډه وکړي. په هر حال دا چې ژبه په لومړيو کې د ګړدود په ښه ځرګندېدو دغې ته په پاملرنې سره د ښوونځيو زده کوونکو او د پوهنځيو زده کړيالانو ته د ژبې د ښوونې پرمهال يوه دنده د ادبي ژبې د جوړښتونو پرمختګ او غښتلي کول دي. (يمين، ۱۳۸۸: ۱۷-۱۸)

د ګړدودونو د څېړنې پرمهال څېر څېړونکی (کوم چې د ګړدود په ساتنه او ثبت کې ډېر څېر وي ) يوه ځانګړې موخه او دنده پر غاړه لري. څېړونکی په دې پسې ځي چې يو ګړدود له هره اړخه معرفي او وسپړي. يا هم د ګړدودونو د يوې ډلې شرح او پېژندګلوي، يو له بل سره د اړيکو درلودلو له کبله،دهغوی د ځای او ډلبندۍ سره په غاړه واخلي. يعنې د ګړدودونو ډلبندي هم وکولای شي او هم يې خلکو ته له سپړنې سره وروپېژني. د يادولو ده چې د ګړدودونو يا دګړدودونو ديوې ډلې د څېړنې پرمهال فونتيکي،پښوييزه ښه او هم د ګړدودونو جوړښت ته هم ارزښت ورکول کيږي. (رښتين، ۱۳۹۳: ۲۶)

Download from: https://liyanamiri.com

- همدارنګه ددې له پاره چې د کلو یا سیمو خلکو یا ځایي خلکو وینا پوره ثبت او وساتل شي نو مونږ د فونټیکي لیکدود (ترانسکربشن) څخه کار اخلو.

له همدې امله د کار د سم پرمختللو له پاره ځیرونکی(ځیر څېړونکی) د ګړدود د سمې پېژندنې له پاره له ټیپ ریکارډ یا د غږپوهنې له نورو توکو کار اخلي. په همدې کې د دوی د ویناېلابېلې بڼې ثبت او ساتل کیږي. د ساري په توګه: په عادي خبرو کې د کیسو په کولو کې او یا هم د بېلابېلو موضوعګانو کې، ځوابونو ورکولو کې او نورو کې...

د ګړدود د پلټنې او څېړنې پرمهال څېړونکی کولی شي دغه دندې ترسره کړي:

لومړی: د هماغه ټاکل شوي ګړدود د تاریخي بنسټ ټاکل.

دوه یم: د هغو بدلونونو شرح چې د پیدا کېدو په حال کې دي یا د اوسنې ګړدود د پرمختګ لاري چار ي ښوول.

ددغو دندو د سرته رسولو له پاره دې ځیرونکی سربېره پردې رښتینولۍ، تاریخي پېښو او ددوی پرتلنې ته پاملرنه وکړي.د ځایي خلکو تر منځ د وینا توپیرونو ته هم ځیر اوسي.ددې کار د سرته رسولو له پاره هغه باید داسې کسان وټاکي چې د هغوی له وینا څخه ساتل شوي مواد داسې وي چې په رښتیا هم د هماغه ګړدود د اوازونو،کلمو او عبارتونو د توپیرونو په ښوولو کې ګټور اوسي. په دغه ترتیب له ځایي خلکو څخه مواد په لاس راځي.د ځای یا سیمې مواد جلا لیکل کیږي او له هغه چا چې دغه مواد په لاس راځي،بېل ښودل کیږي. د ساري په توګه د هغه نوم، د پلار نوم،د زېږېدو نېټه او نور لاسته راغلي معلومات ثبتیږي. که ځایي اوسېدونکو لېږد یا کډې کړي وي دهغوی ځآی او مهال هم لیکل کیږي.

Download from: https://liyanamiri.com

په لهجه پوهنه کې د ګړدود څېړنې (لهجه څېړنې) پرمهال له دغو مېتودونو څخه کار اخیستل کیږي:

لومړی: د ژبپوه د څېړنې کتنې او مشاهدې مېتود.

دوه یم: د پوښتنو کولو مېتود یا د ځوابونو پیداکولو لاره.

درېیم: د یو چا د لیکنو له مخې د ګړدودونو د ځانګړنو د ښوولو او شرحې مېتود.

د لهجه څېړونکي په څېړنه کې ((ځیرتیا)) د لهجې د لغوي، دستوري، فونتیکي ځانګړنو په پوره تشریح کې ډېره اغېزه کوي. ګړدود د ملي ژبې یوه محلي او کلیواله بڼه ده چې ځانته خپل اصول او لارې چارې لري. په دې اړه بایدسړی ډېر ځیر اوسي. ځیني وخت ناسم او ناکره معلومات د یو ګړدود رښتینې بڼه نه شي ځرګندولای بلکې ځینې نیمګړي معلومات ډېرې بدې پایلې رازېږوي.(یمین،۱۳۸۸: ۲۶ــ۲۷)

که داسې کس وټاکو چې ناسم معلومات ورکړي یا یې لهجه ښاري شوې یا ګډه وډه شوې وي نو په رښتیا د هغه ګړدود استازیتوب نه شي کولی.

د یوې ژبې په اړه د ټولو رښتینولیو راټولول او هر اړخیزه تحلیل د یوه ګړدود تاریخ او دودیزې بڼې،همدارنګه د وړو او لویوګړدودونو او ژبو تر منځ خپلوي او نورو بنسټیزو لاملونو په ښکاره کولو کې مرسته کوي.

د پښتو ګړدودونو پېژندل او ګړدودیز اتلس جوړول یو اړین کار دی. باید چې په دې هکله ښه پوره کار وشي. ګړدودونه څېړنه غواړي او څېړنه کارکولو ته اړتیا لري باید کار ورته وشي او ګړدودونه ثبت او وساتل شي. ګړدودیز اتلس دګړدودونو دښکاره کولو یوه نقشه ده چې خورا اړینه ده.

Download from: https://liyanamiri.com

د یوه ګړدود په پېژندلو کې ګړدودیزې علمي تجربې هم لویه مرسته کولی شي چې په اړه یې یو څوک پوره معلومات ولري. که داسې نه وي چې د ګړدود په هکله تیوریکي یا عملي مطالعه ونه لري نو بیا ترې د کره کار کولو تمه په کار نه ده.

د ګړدود پوهنې استاد باید د ژبې د بېلابېلو پېښو په اړه معلومات راټول کړي او د خپلو تجربو له مخې دې د نظري پوهې برخه غښتلې کړي او زده کوونکو ته دې کار وکړي. (یمین. ۱۳۸۸: ۷ـ ۲۸)

که د ګړدودپوهنې په هکله کار وشي، په دې معنا چې د ژبپوهنې په تېره د تشریحي ژبپوهنې د تشو څخه به یوه تشه ډکه کړي. ددې له پاره خورا ډېر کار او زړورتیا ته اړتیا شته. په دغه برخه کې دولت هم باید مرسته وکړي تر څو د څېړونکو په وسیله د خبرو ځانګړې یا توپیر لرونکې بڼې او ګړدودونه ثبت کړي او دارنګه څېړونکو ته هر ډول مادي او نورې اسانتیاوې برابرې کړي.

## د اوازونو د لیکنې دود (ترانسکربش)

د یوه ګړدود یا ژبې د ټولو فونتیکي ځانګړنو د سمې او کره ښودلو له پاره د جلا او ځانګړو نښو څخه کار اخیستل کیږي. دغه شرطي نښې په ټوله کې د ژبو او ګړدودونو فونتیکي او جلا نظام جوړوي. په ژبه کې د تورو هر ډول حرکت او سمبولونه په دغو نښو کې شته او د ډول ډول افاده کولو له پاره دغه نظام بېلابېل اوازونه لري.

په لیک کې د یوې ژبې یا ګړدود د هرې بڼې او هر ډول تلفظ انځورېدلو ته ترانسکربشن یا د اوازونو د لیکنې دود وایي.

Download from: https://liyanamiri.com

د اوازونو د ليکنې دود په غږپوهې (فونټکس) پورې اړه لري. له همدې کبله ترانسکربشن هم بېلابېل ډولونه لري. د ساري په توګه فونټيکي ترانسکربشن، فونيمي ترانسکربشن او نور...

په لهجه څېړنه کې د فونټيکي ترانسکربشن (ليکدود) څخه کار اخيستل کيږي. په دغه ليکدود کې معمولاً هر يو توری يو اواز څرګندوي. (يمين،۱۳۸۸:۲۹)

ليکدود په اتکلي يا بې بنسټه توګه نه ترتيبيږي بلکې په نړۍ کې نړيوال او ملي ليکدود (ترانسکربشن) شته چې په هغو سره ژبې ليکل کيږي. (يمين، ۱۳۸۸:۳۰)

پښتو ژبه د نورو ژبو لکه عربي څخه اغېزمن شوي نو ليکدود يې هم نيمګړی ښکاري ځکه دنړيوال ترانسکربشن څخه ګټه اخلي. په لاندي ډول دپښتو خپلواک او بې واکه توري له خپلو فونټيکي نښو سره ښودل کيږي:

- الف(á): د رڼا په کلمه کې يا د سلام (salám) په کلمه کې
- زور(a) فتحه: د لښته (laxta) کلمې په پای کې.
- اوږد يا مجهول (و) (o): د مور (mor) کلمې په مينځ او د پښتو(paxto) کلمې په پای کې.
- څرګند (و) (u): د ځو (dzu) کلمې په پای کې.
- اوږده (ي) (e): د تېر (ter) کلمې په مينځ کې او د ځې (dze) (مخاطب شخص) په پای کې.
- څرګنده(ي) (i): د ځي (dzi) په پای او ځير (dzir)کلمې په مينځ کې.

زورکی (ه) ( ə ): د زره ( zrə) کلمې په پای او شل(səl)کلمې په مينځ کې.

ځيني (زېر) (i) يا(Σ) هم په خپلواکو کې شمېري. لکه اسلام(Σslam)

Download from: https://liyanamiri.com

په دري ژبه کې د زېر له پاره (i) او د څرګندې (ي) له پاره(ī)، د پېښ له پاره (u) او څرګند واو له پاره(ū) کاروي.

پوهاند دوکتور مجاوراحمد زيار په پښتو پښويه کې ليکي:

(( دا هم د يوې کره پښتو ټولو (٣۶)خپلواکو او بې واکو او دود غبرګغږونو (ی،ې) د سمبولونو(توريو) ليکلړ: (زيار، ١٣٨۴: ٧٩)

| غږيز | دوديز | نوم |
|---|---|---|
| a | /،فتحه،ع | زور فتحه |
| ā | آ | الف |
| b | بې | بې |
| c | څ | څې |
| č | چ | چې |
| d | د | دې(دال) |
| ḍ | ډ | ډې |
| ə | - | زورکی |
| g | ګ | ګې(ګاف) |
| ğ | ږ | ږې(ګغې) |
| ɣ | غ | غې(غَين) |
| h | هـ (ح) | هې |
| i | ي | لنډه (ي)<br>معروفه (ي) |
| j | ځ | ځې |
| ĵ | ج | جې (جيم) |
| k | ک | کې (کاف) |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | |
|---|---|---|
| لي | ل | l |
| مي (میم) | م | m |
| ني(نون) | ن | n |
| ڼي(نوڼ | ڼ | ṇ |
| واو. اورِد (و) مجهول (و) | و | o |
| پي | پ | p |
| ري | ر | r |
| ړي | ړ | ṛ |
| سي(سین) | س(ث، ص) | s |
| شین | ش | š |
| تي | ت (ط) | t |
| ټي | ټ | ṭ |
| لنډ معروف واو | و | u |
| بېواک، و (معدوله و) | و | w |
| خي | خ | x |
| ښي | ښ | ẋ |
| بېواکه (ی) | ی | y |
| زي | ز(ض،ظ) | z |
| ژي | ژ | ž |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | |
|---|---|---|
| زور واله (ی) | ی | ya |
| زورکيواله(ۍ) | ۍ | ∂y |

دارنګه د کلمو، عبارتونو او جملو د ليکلو پر مهال فشار هم بايد په نښه شي. په کلمه يا جمله کې که دنورو په پرتله يوه برخه په ډېر زور او فشار سره وويل شي،دې ته فشار (خج) وايي. فشار په ليکنه کې معمولاً د (ʹ) نښې په واسطه ښودل کيږي چې په هماغه خجنه برخه کې د نورو پر سر ليکل کيږي. لکه: پوهنتون (pohantún) په کلمه کې وروستۍ څپه خجنه ده.

دارنګه نورې نښې هم شته لکه: (˜) د پرتلنې يا يو لوري ښودلو له پاره لکه:کار˜کور. په ننګرهار کې (کار) او په خوست کې (کور) تلفظ کوي. يا (تويول˜تلول). په خوړياڼي ګړدود کې (تلول) د (تويولو) په معنا کارول کيږي. يا (وېزاند˜ځوړند)....

## ګرامري ځانګړنې

د يوه ګړدود د ګرامري ځانګړنو ښودلو له پاره اړينه ده چې ټولې ګرامري خواوې يې په پام کې ونيول شي او په اړه يې څرګندونې وشي. ددې موضوع له پاره ما خوړياڼي ګړدود په اړه کار کړی او ګرامري ځآنګړنې يې په ډاګه شوي چې تاسې يې په لاندې ډول ليدلی شئ. (د يادونې وړ ده چې دا برخه مې د مقالې په بڼه په (انديښه) مجله کې چاپ شوې ده او ما مقاله کټ مټ دلته راوړې):

د لهجو څېړل خورا ستونزمن خو ارزښتمن کار دی. ددې له پاره چې همدا ګړدودونه دي چې د ژبې پانګه جوړولی شي. نو د ژبې تر شا د ژبې لهجې وي چې تل يې اړتياوې ورپوره کړي. د ژبو د لهجو د څېړنې په اړه

Download from: https://liyanamiri.com

پوهاند محمد حسین یمین هم نیک نظر ښکاره کړی. دی په خپل اثر (در امدی برلهجه شناسي در زبان فارسي دری) کې لیکي:

((گرد اوری و ثبت لهجه های محلي فواید زیاد و متعدد دارد ، اما برای انکه ان فواید حاصل شود لازم است اصول و قواعد علمي راکه دانشمندان بزرگ زبانشناسي در یک قرن اخر به تجربه گرفته و وضع کرده اند از ان در این کار استفاده میشود .)) (یمین،۱۳۸۸ : ۳۷)

د پښتو ژبې د شاوخوا (۷۰) یا د ځینو په وینا یو سل او لس ګړدودونو په ډله کې یو هم خوږیانۍ ګړدود دی، چې مرکزي یا منځنیو لهجو ته نږدې والی لري. دا ګړدود سل په سلو کې کوم بېل ګړدود نه دی ولې د بېلا بېلو جغرافیایي لاملونو له امله یو څه بدلونونه لري. که چېرې دا توپیر ډېر وي بیا خو یې لهجه نه بلکې بېله ژبه ګڼلای شو.

د معیاري ژبې سره د ګړدود توپیرونه په غږپوهیزه (فونتېیکي، مورفولوژیکي او لغوي) برخه کې وي خو تر خپلې اندازې. ځینې وخت د اصلي کلمې په یوه توري کې توپیر وي، کله بیا یو توری په کې وړاندې وروسته شوی وي. دارنګه یو توری له اصلي کلمې څخه په ګړدود کې کله کله لوېږي خو د معنی ښاپېرۍ په خوب نه ځنډوي.

د ساري په ډول: ځینې خلک په تیرایي ژبه کې انسان ته (ادام) او ځینې (ادم) وایي. بعضې (ښه) ته (براډا) او ځینې (بریډا) وایي. ماشوم ته ځینې خلکه (بدانا) او ځینې (بدنا) وایي. (ملاتړ،۱۳۹۴: ۴۹) ددې له پاره چې خبره بلې خواته لاړه نه شي نو بېرته (خوږیانۍ لهجې ) ته ورګرځو.

د ژبپوهنې له مخې د یوې ژبې په تحول کې ږغیز (واول) توري تر چپ (کانسوننټ) توریو ډېر ژر تغییر کوي. دغه تغییر د پښتو په لهجو کې عموما او د خوست په لهجو کې مخصوصا د یادونې وړ دی. (منګل، ۱۳۸۱ : ۲۰)

Download from: https://liyanamiri.com

زه دلته د هغو خوږیانیو په ګړدود غږېږم چې د ننګرهار په ولایت کې استوګن دي. د غزني خوږیانۍ ګړدود دغه ځانګړنې نه لري ځکه د لویدیځ او شاوخوا ګړدودونو په پل یې پل ایښی دی.

په خوږیانیي ګړدود کې کله کله په کلمه کې یو بېواک توری کم او کله هم ډېر شي. په ډېرو کلمو کې یو بېواک توری په بل اوړي. لکه په حصارکي ګړدود کې چې د (ژبه) کلمې پر ځای د (زبه) کلمه کاروي(جبارخېل،۱۳۹۴: ۲) د (ژبه) کلمې تلفظ په (خوږیانیي ګړدود ) کې (جبه) دی.دلته د (ژ) بېواک په (ج) اوښتی دی. د (ولې ) پوښتنیز نومځري پر ځای یې(وېلې) کاروي چې د (ې) توری په کې ډېر شوی. دا رنګه د (ملګری) کلمه د (مرګلی) او ځینې یې د (مرګلای) په بڼه وایي چې توري یې وړاندې وروسته تلفظ کوي. په خوږیانیي ګړدود کې یو خپلواک په بل هغه اوړي. خوږیانیي د (و) خپلواک په (ی) اړوي. لکه: (غوړي) په (غیړي) او (خولۍ) په (خېله) سره تلفظ کوي.

خوږیانۍ ګړدود د پښتو ژبې د نورو ګړدودونو په څېر یو فرعي ګړدود دی. پوهاند صدیق الله (رښتین) په خپل اثر ((پښتو ګرامر)) کې پښتو لهجې په دوه ډلو (اصلي او فرعي) وېشلي دي. اصلي لهجې په درې ډوله دي چې په لاندې ډول دي:

الف: لویدیځه لهجه (کندهارۍ لهجه): د افغانستان په لویدیځو او جنوبي (سویلي) سیمو کې ویل کیږي.

ب: مرکزي لهجه: د افغانستان په مرکزي سیمو کې لکه: غزني، وردګ،لوګر،پکتیا،پکتیکا او نورو کې ویله کیږي.

ج:ختیځه لهجه (ننګرهارۍ لهجه): د ننګرهار،مومند،باجوړ، اشنغر او یو سفزو په سیمه کې ویله کیږي.

Download from: https://liyanamiri.com

فرعي لهجې په پښتو کې ډېر ډولونه لري چې ځينې يې دادي: وزيرۍ لهجه، د خټکو لهجه، کاکړۍ لهجه، د احمدزيو لهجه، د وردګو لهجه، د پکتيا لهجه، د اپريدو لهجه، د يوسفزيو لهجه، د باجوړو لهجه، د مومندو لهجه، د خوږيانيو لهجه، د شينوارو لهجه. (رښتين، ۱۳۷۲: ۴۱۲)

په خوږيانۍ ګړدود کې دننه ځينې نور کليوالي ګړدودونه شته چې په خپل منځ کې هم څه نا څه توپيرونه ترې په ډاګه کيږي. لکه: د (زاوې) خلک د (شپږ) پر ځای (شپاږ) يا (شپاخ) وايي.(منه) ته (منا) وايي. دې ته ورته نور فونتيکي توپيرونه چې په نوموړي ګړدود کې شته، د خوږيانۍ ګړدود ګرامري ځانګړنې ترې څرګنديږي. په دغه ګړدود کې (هـ) په (الف) اوړي. لکه: (هلته ـ الته). (هله ـ اله)، (هګۍ ـ اګۍ). دارنګه د عربي توري د نورو په څېر سم نه شي ادا کولی. (ق ته ک)، (ص، ث ته (س) کاروي. د (ط) پر ځآی (ت)، د (ظ،ض) پر ځای (ز) کاروي. (ح) په (هـ) او (ع) په (الف) تلفظ کوي.

خوږيانۍ د (ږ) توری په (ګ)، (ښ) په (خ)، د (ڼ) توری په (ړ) تلفظ کوي. لکه: موږک (ميګک)، تږی (تګی)، مونږ(مينګ) په کلمو کې. لکه مخکې مو چې يادونه وکړه ځينې خوږيانۍ (زور) يا فتحه په (الف) اړوي. لکه: (کچا) د (کچه) پر ځای. دارنګه (يېچا يا يېچو) د (د چا) پر ځای چې (الف) په (و) اړوي. يا (پلار ) په (پلور) سره تلفظ کوي. دا ځانګړنې يې د اپريدۍ لهجې سره ورته والی لري.((د اپريدو لهجه يوه له هغو لهجو نه ده چې د نورو ختيځو لهجو په مينځ کې پوره بېلوالی لري. د (پلار) پر ځای (پلور) وايي. د (کار ) پر ځای (کور) استعمالوي. د (لاس) په ځای (لوس) وايي. (غوربندی، ۵۷: ۱۳۹۵)

Download from: https://liyanamiri.com

د کلماتو تغییرونه او اوښتنې په هره ژبه کې یو طبیعي او ضروري شی دی. دغه کلمې چې په خبرو اترو کې استعمالیږي، ضرور به د ځایونو د اختلاف او د زمانې د تیریدو په وجه تغییرونه او تبدیلونه په کې پېښیږي. (رښتین، ۱۳۷۲: ۱۵). په ګړدودونو کې چې کوم بدلونونه وینو، کوم معیاري بدلون نه دی، یوازې په وینا کې کارول کیږي او په لیکنۍ پښتو کې داسې نه لیکل کیږي خو که ثبت او وساتل شي نو د ژبې د ساتنې دنده پر ځای کولی شي.

د خوږیانۍ ګړدود په غږپوهنه کې دغه څو ټکي څکه بس ګڼم چې ګران لوستونکي به زما په موخه پوه شوي وي.

## د نومونو برخه

په خوږیانۍ ګړدود کې ډېرې داسې کلمې شته چې یوازې همدوی یې کاروي او په ډېرو ګړدودونو کې دغه ځانګړنې نشته. نوموړی ګړدود د پکتیا د یو شمېر سیمو، د خوست یو شمېر سیمو، د وردګو، اپریدیو او ځینو نورو ګړدودونو سره په تلفظ کې ورته والی لري. د نومونو په برخه کې ویلای شم چې خوږیانۍ ځینو ځیزونو ته ځانګړي نومونه اخلي چې له معیاري ژبې سره پوره لفظي توپیر لري. ډېر وختونه د معیاري ژبې دوي(قواعد) ځاري او اوږه په اوږه ورسره ځي. نوموړی ګړدود د نومونو په برخه کې د معیاري ژبې ملاتړې او ښه وییزېرمه (لغوي ذخیره) ورته برابروي. کله چې د خپلې ژبې په بېلابېلو ګړدودونو کې د ټولنیزو پدیدو او ځیزونو له پاره نوم ولرو بیا نو کله په پردۍ تله او تیره تول کوو. ګړدودونه د ژبې اره پانګه ده چې د معیاري ژبې په جوړښت کې پوره ونډه لري خو بایده دي چې خپل ګړدودیز ار (اصلي) وییونه او نومونه دود کړو.

معاصر ژبپوهاند پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار د ګړدودیزو

Download from: https://liyanamiri.com

کلمو (٪۲۵) سلنه په پښتو ژبه کې اړین بولي او په پښتو وییپوهنه کې داسې کاږي: (( لکه څنګه چې انګریزي، جرمني، پرانسي، روسي،او نورو یادو ژبو د خپل علمي ژوند په پیل او اغاز کې له درو، په بله وینا ځلورو لارو څخه خپله پانګه رابشپړه کړې او هغه دا چې لومړی وار خپله اره پانګه له ګړدود (لهجو) او زړو متنو څخه راترلاسه کړي، بیا نو یوازې په علمي، تخنیکي او مدني ډګر کې د پښتو وییپوهنې او ویي رغاونې بنسټونو له مخې ټاکنې وکړي او تر ټولو وروسته بیا پردیو ژبنیو (وارداتو) ته غبږ پرانیځي. په دې هڅه مو تر دا منځ د یوه انډول او تناسب د ټینګولو له پاره سمدلاسه د (یوې نګه ـ بشپړې کره) لیکنۍ یا علمي پښتو د رامنځ ته کولو له پاره د فیصدۍ ارو معیار وټاکه:

په سلو کې (۲۵) له اوسنیو ګړدودو(لهجو) ـ (۲۵) له زړو ادبي متنونو ـ (۲۵) له ټاکنو او (۲۵) له نورو ژبو څخه د پورونو په توګه. هو د هرې عصري ژبې پانګه پر دغو ځلور ګونو بنسټونو ولاړه ده. (لهجوي ـ متني ـ مصنوعي ـ عاریتي). (زیار،؟: ۲۸ـ ۲۹)

دا مې د خپلې خبرې له پاره یو کره دلیل راووړ. اوس بېرته راځم، په خوربیانۍ لهجه کې د نومونو برخې ته.

خوربیانې د ځینو کلمو او پدیدو په وړاندې ځانګړي نومونه کاروي. لکه: (مېږ) د (لمر) له پاره. (خېټه) د (ګېډه ) له پاره. (تروې) د (شړومبې) له پاره. (ماړۍ) د (ډوډۍ) له پاره. (کپله ـ نوړۍ)، (اوبه ـ ووبه)، (اویه یا وویه ـ هګۍ)،(غړپ ـ ګوټ)، (دنۍ ـ ګشنیز)، (سکختی ـ د ټوکر یا رخت کوچنۍ ټوټه )، (وړکی ـ هلک)، (جلکۍ ـ نجلۍ)،(دروږ ـ نسل یا قبیله)، (ادومکی ـ ورون)، (ګوړکی ـ له خاورې څخه جوړ شوی لوښی یا ګړی ځیني یې هغه کس ته هم کاروي چې ډېرې اوبه څښي)،(میسه ـ ماشی یا غوماشی)،(لبرکی ـ د ډوډۍ د ټیکلې یوه لویه برخه)، (توکرکی

Download from: https://liyanamiri.com

ـ د ډوډۍ د ټيکلي وړې وړې برخې)،(روکی ـ کشر ورور)، (جيناکۍ ـ نجونې)، (ادو بدو ـ ټنډ پړسېدلی)،(سبَيل ـ سهار )،(شلې(د ش په زورکي) ـ يو ډول پراټه ده چې اوړه ښه نرم وي او بيا يې په غوړيو کې د پراټې په بڼه پخوي)، (ګروی ـ ګرېوان)،(وستاکار- ترکاڼ يا نجار)،( سوم ناری ـ د سهار ناری يا د سهار چای.(د سپين ږيرو په اند چې دا به د (صبر ناری ) وي. )،(هها ـ شورماشور)، (برُوس ـ خپه)، (پېنډه ـ ډله)،(شک ـ تيار،چمتو، اماده،متوجه او ځير)، (څک ـ تيار، چمتو، اماده، متوجه او ځير)،(ستېکی ـ د لرګي کونده، منډلی سړی يعنې هغه سړی چې ګرد مرد او چاغ وي کېدای شي ونه يې هم ټيټه وي )،(پراوېز ـ څنډې، د پردې څنډې، د زړ نه جوړېدونکي ټپ له پاره هم کارول کيږي.

دا او په سلګونه نور دې ته ورته نومونه د پښتو ژبې وييزېرمه ده چې د اړتيا پرمهال د پښتو ژبې تشه ډکولی شي.

په خوږيانۍ لهجه کې د نومونو په مفرد او جمع کولو کې خاص توپير نشته خو په ځينو ځانګړتياوو يې سترګې نه شو پټولی. لکه: (جلکۍ) چې يو ګړی ښځينه نوم دی، جمع يې (جلکينې) يا (جيناکۍ) ده.داسې ښکاري چې د (نجونې) کلمې په څېر يې (نې) د جمع کولو له پاره خپله کړې. دارنګه (لمسينې ) هم دراواخلئ. د (وړکی) يو ګړی نارينه نوم بيا د اصولو سره سم په (وړکي) جمع کوي. يعنې هغه نوم دی چې په (ی) پای شوی او په (ي) جمع کيږي.

نور نو هغه ګړدوديز نومونه چې په (α) پای شوي په (e) جمع کيږي. په (aY) پای شوي په (i) او نور... خوږيانۍ ګړدود د کړنومونو (فعلي مشتقاتو) په ډله کې ونډه لري خو يو څه نا څه يې په تلفظ کې توږلی راتوږلی وي. لکه: (لنډون)،(لمسون)،(رغېدن د پرې کېدنې او قطع ارتباط خبرو پر مهال کارول کيږي)،(ختنه )،(روونکی يعنې رودونکی،

Download from: https://liyanamiri.com

(ګرځِدا يعنې ګرځېدا يا ګرځېدل)، (جړا د ژړا په معنی )، (ګډِدا د ګډېدا په معنی)، (سترِی د سترِیا په معنی )، (چوپی(چوپیا لکه چوپه چوپی)، (ګرځنده )، (ګټهندوی)، (پړسوب) او نور کړنومونه...

لنډه دا چې د نوم ټول ډولونه لکه د نورو پښتنو په څېر کاروي.ځینې نور خاص نومونه لکه:

ګډلی(د غنمو او اوړو ګډه پخه شوې ډوډۍ)، وړین(مې په مېچن کې اچوي او مرچ او ځیني نور د خوند څیزونه په کې ګډوي. بیا دغه مخلوط څخه د کوفتې د غونډارو په څېر کوچني غونډاري جوړوي. هغه وچوي او بیا یې د اړتیا پر مهال پخوي )، کخکرکي(وچه کړې یا ویلې کړې وازګه. کله چې وازګه په دېګ کې واچوي له هغې غوړي ویلي کې کیږي او دغه وازګه سره کړې وچه پاتې کیږي. هغه ټوټو ته کخکرکي وايي، چې بیا په سابو او سبزیجاتو کې د پخولو پرمهال ګډیږي او ښه خواړه ترې جوړیږي)، چګس، پاستی، لیتې، اتوب (چټک شوروا)، بلاغون یا بلاغونډ( د نصوارو لرګین ډبلی دی چې مرتبان ته ورته بڼه لري )، خیړلن (د تنور مړه ایره) او نور... چې د مفرد څخه د جمع کولو دوې(قاعدې) هم خپلولی شي. د نوم کوچني کولو یا مصغر ښودلو پرمهال د (ککنکی) یا (ګکنکی) وروستاړی هم ورسره کاروي. لکه: (جلکی) څخه (جلککنکې)، له (وړکی) څخه (وړککنکی) يعنې په غبرګ غړ پای شوی نارینه نوم، له( کور) څخه (کور ګکنکی ) او نور...

## د فعلونو برخه

فعل د وينا د عمده جز په توګه په يوه زمانه کې د کار په کولو او يا ديوې پېښې پر پېښېدلو دلالت کوي يا په بل عبارت فعل هغه کلمې ته وايي چې په يوه زمانه کې د يوه کار او پېښې پر کېدو دلالت

Download from: https://liyanamiri.com

کوي.(خوېشکی، ۱۳۸۶: ۸۵) په خوږیانې ګړدود کې هم د فعلونو (لازمي او متعدي ) بڼې شته. ځینو فعلونو ته خو یې ځانګړې کلمې خوندي ساتلې دي:

تلول: د (تویول) په معنی یې کاروي.

لکه: اوبه تلې که! چی تل که! شودې تلوې!

ټنګول: د (په څپېړه وهلو معنی ورکوي. لکه: وړکی یې ښه وټنګولو.

دارنګه د

اوسپنیز یا نکلي څیز وهلو ته هم (ټنګول) کاروي. لکه: لګن مه ټنګوه! جام مه ټنګوه!

دارنګه (کړنګول) هم په دغه وخت کې کارول کیږي. (کړنګول)د (ازارولو) په معنی هم کاروي. لکه: (مه مې کړنګوه! مازغه مې مه کړنګوه! )

څلکېدل:د (ځلېدلو) په معنی دی. په لازمي بڼه یې د (تندی یې څلکیږي) په بڼه کاروي.

کولِدل(کولېدل: د (رغړېدل) په معنی دی. لکه: غوندېسکه را وکولوه!

| ګڼه | د خوږیانې ګړدود فعل | د فعل په اړه څرګندونې |
|---|---|---|
| ۱ | ارتل | د (ر) په زورکي د (پرانیستل) معنی ورکوي.(دروازه یې ارتې ده.). کله چې یې د امرفعل په بڼه کاروو نو بیا داسې راځي: (دروازه وارینځه! |
| ۲ | زَرېوَل | د (شاربل) په معنی دی. لکه: تروې وزرېوه! |
| ۳ | اشتول | د (لېرې غورځول) یا (ګوزارول) په معنی دی. |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | ترکول | معنی یې یو څه (غوښه) کې اوبه وچول. غوښه په دیګ کې اچوي تر هغې چې د غوښې خپلې اوبه وچې شي. تقریباً د (وریتولو) معنی وکوي. |
| ۵ | غپول | لکه له نامه چې ښکاري هسې معنی نه ورکوي. متعدي بڼه لري خو د یو چا د وهلو او ډبولو په معنی کارول کیږي. لکه: احمد مې ښه وغپوو(ووهلو). |
| ۶ | چنګول | د (زورولو) په معنی یې کاروي. لازمي بڼه یې (چنګېدل) ده. |

خوږیانې ساده او ترېنتي دواړه فعلونه کاروي. ځيني يې د خپلې لهجې تابع کوي او ځيني يې بيا ګرد سره په بله بڼه کاروي. لکه: هها کول، لاندې وتل، لغتې ويل...

تولې ويل: تېزه منډه وهل. د ماشوم يا بل چا تېزه منډه. لکه: (زوی مې تولې ويې اندسې. ) د (اندسې) کلمه هسې د اهنګ او خوند له پاره ورسره يو ځآی کوي. په دغه جمله کې (اندسې) دمعنی له مخې رول نه لري خو د تاکيد له پاره يې کاروي او له فعل څخه يې وروسته کارولی. بله بېلګه: ورختا دی اندسې. يا کله کله (اندسې ورختا دی.) هم کاروي.

زدويل: سولول: په قورتمال کې د قورتو سولول او ويلې کولو په معنی کارول کيږي.

(جک ويل) د (بدکولو ) په معنی او (دلاسا کول ) د (پخلا کولو) په معنی کاروي. دلته ګورو چې هره برخه يې جلا خپله معنی بايلي. دارنګه (دربول) هم د (غپولو) په څېر د (وهلو او ډبولو) معنی ورکوي.

Download from: https://liyanamiri.com

خوږیاڼی ګړدود د فعلونو په کارونه کې له ژبې څخه جلا او له ژبې سره ګډې ځانګړنې لري چې په پورته بېلګو کې مو ورته لنډه اشاره وکړه. د فعلونو په برخه کې همدا څو بېلګې بسنه کوي.

## د صفتونو، قیدونو، اداتو برخه

**الف**: ستاینومونه: ((نومونه پر څلورو (ګروپونو) وېشل کېږي.
- څیز نومونه (اسما)
- ستاینومونه(صفات)
- شمېر نومونه (اعداد)
- نومځري (ضمایر) (زیار، ۱۳۸۴: ۸۷)

ستاینوم د نوم ښه والی، بدوالی، سپین والی او توروالی، تیتوالی،چاغوالی،نری والی، روغوالی، ناروغوالی... او نور بیانوي. ((صفت په مستقله توګه د یو څه نوم نه دی خو د یو شي څرنګوالی ښیي. لکه: روغ، غښتلی، کمزوری، ښایسته...(خوېشکی، ۱۳۹۵ : ۵۸)

خوږیاڼي هم د پښتو ژبې د یوې څانګورې په توګه نومورې ځانګړنه لري او په خپلو غونډونو او غونډلو کې ستاینومونه له نوم سره نږدې او یا لېرې کاروي. د ځینو ستاینومونو له پاره جلا کلمې لري چې په ژبه کې نه خو په ځینو ګړدودونو کې خوږیاڼي ګړدود ته ځانګړې بلل کېږي. لاندې د یو څو ستاینومونو په اړه توري کرښې وګورئ:

| ګڼه | د خوږیاڼي ګړدود ستاینوم | د ستاینوم په اړه څرګند ونې |
| --- | --- | --- |
| ۱ | بدامسونی | د حریص او وږسترګي په معنی کارول کېږي. |
| ۲ | وږسولی | دا هم د بخیل، حریص او وږسترګي |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | |
|---|---|---|
| | | معنی ورکوي. |
| ۳ | ډډ | د لومړي (ډ) په (زور) د خفه او ګیله من یا په غصه حالت له پاره کارول کیږي. لکه: (وېلې ډډ روان یې؟) |
| ۴ | سوپلی | د تور رنګه نارینه له پاره کارول کیږي.د زاوي (په خوږیانیو کې یوه سیمه ده) خلک ورته (سوپلای) وایي. لکه: سوپلی وړکی، سوپلای وړکای، سوپلۍ جلکۍ |
| ۵ | خسته | د (ښایسته) په معنی د فونتیکي بدلون په خپلولو سره کاروي. ځیني یې بیا د (خیسته) په ډول هم کاروي خو یوازې د (ښ) په (خ) اړولو او (الف) په کمولو سره. |
| ٦ | کچه | د (ک) او (چ) په (زور) د (بد)،(وران)، او (نه منونکی) معناوې لري. |
| ۷ | ناړامه | د سرزوري او بې احتیاطه په معنی دی. |
| ۸ | کاواکه | دغه ستاینوم د (سست پست) یا کوږ ووږ، یا هغه څه چې پرې ډاډه نه اوسې ) په معنی کارول کیږي. دارنګه د بې احتیاطه معنی هم ورکوي. |
| ۹ | ناولی | پوهاند رښتین ورته په (پښتو |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | |
|---|---|---|
| | | اشتقاقونه او ترکیبونه ) کې اشاره کړې او د (ناوللې) بڼه یې ورته اټکلي بیان کړې. باید ووایو چې خوږیاڼي یې په خپله بڼه ناولی کاروي. |
| ۱۰ | بړوس | د خفه په معنی کارول کیږي. لکه: احمد بړوس دی. |
| ۱۱ | ویښیر | دا کلمه هم په فونټیکي بدلون د (هوښیار) په معنی دی.د کلمې (هـ ) لېرې شوې، له (و) وروسته (ي) ډېره شوې بیا د (الف) خپلواک لېرې شوی او له (هوښیار) څخه (ویښیر) جوړ او همدا (ویښیر) کاروي. |
| ۱۲ | شکه | دا ستاینوم د ښځینه یو ګړي له پاره د (څیر، اماده، تیار، چمتو، چست) په معنی کارول کیږي. دار نګه (څکه) هم همداسې درواخله. |
| ۱۴ | منډلی | د (غوښن) او (چاغ) په معنی کاروي. لکه: (منډلی سړی، منډلې ښځه). دارنګه (ستېکی) هم په همدغه معنی کارول کیږي. |

په خوږیاڼي ګړدود کې (خچ پچ) (د خ او پ په زورکیو) او (جو جو) د (ج) په زور سره د ستړي ستومانه معنی ورکوي. دارنګه د (اوبله زن د اوبلن)،(شیته پیته د لوند خیشت)، (ویتکی د کړتن او پوخ پتیر یا هغه

Download from: https://liyanamiri.com

چې ډېر غرېږي او پخې پخې خبرې کوي)، (رېنجارې د شړت پرت )، (خينډې دټيټکي سړي )، (زبزب يا زب زب د سترې ستومانه )، (لولنګر د لالهانده ) په معنی کاروي.

خوړيانۍ دغه ستاينومونه له نوم سره ايښيز يا لنډ او خبري يا ليري هم کاروي. له بېلګو کتو مخکې بايد ووايو چې پوهاند مجاور احمد زيار د ستاينوم ډولونه دوه ښودلي دي. الف:لنډ ب:لر

۱ـ لنډ يا ايښيز ستاينوم: هغه دی چې دمختاکي په توګه تر څيز نوم له مخه او ورسره پتليز راځي او لنډ په لنډه يې ټاکي او ستايي. لکه: توره دړه، روغ سړی

۲ـ لر يا خبري ستاينوم : هغه دی چې د وسترټاکي په توګه تر څيز نوم وروسته راځي او له کړوالې برخې(مُسند) سره پيوستون لري. که څه هم هماغه څيز نوم ستايي، هغه هم په نوموالو غونډلو کې. لکه: دړه توره د ه. سړی روغ دی. (خوېشکی،۱۳۹۵: ۹۸)

اوس د خوړيانۍ لهجې يو څو بېلګې وګورئ!

لنډ ستاينوم: بېلګې يې: خينډی وړکی رَروان دی. شلم سړی مې ودربولو. لولنګر ايوان مې نه خوښېږي.

لر يا خبري ستاينوم: سړی خو ښه منډلی دی. وړکی ويتکی دی. جلکۍ بړوسه ناسته ده.

اوس نو که له ډېرې سپړنې تېر شو نو د څيزنومونو په ډله کې هم خوړيانۍ ګړدود تر يوه تر يوه ځايه خپلې ځانګړنې لري.

د شمېر نومومون په برخه کې د(يو) پر ځای کله کله (يوا) او د (دوه) پر ځآی (دوا) کاروي. دارنګه ډېر وخت د (شلو) حساب هم کوي. لکه: (څلوېښت= دوه شلې، شپېته= درې شلې، اتيا=څلور شلې، سل = پنځه شلې، يوسل شل=شپږ شلې او نور...)

Download from: https://liyanamiri.com

د ضمیرونو (نومځرو) په اړه ویلی شم چې خوړیانۍ د ملکي ضایرو په ډله کې د (ز) (د) او (س) پر ځای (يې) کاروي. د ساري په ډول:
(زمونږ= ییمیږ یا یېمنونګ، ستا( یېتا یا یېتو، دده= یې ده...) په دې اړه مخکې څه نا څه غږېدلی یم.

## نحوي ځانګړنې

نحوي رغاونه په ټولو ګړدودو کې کابو یو راز ده او کوم توپیر که لیدل کیږي، هغه به زیات د جملې د رغنده توکونو له مانیزو یا چاریزو توپیرو څخه سرچینه اخلي. لکه (ځکه) چې په کندهاري ګړدود کې له (چې) سره د (زیراکه) په مانا نه، بلکې د (طوریکه) په مانا راځي. په بله وینا د نورو ګړدودو غوندې په غبرګو جملو کې د دوه یمې (اریې) په سر کې نه راځي بلکې د لومړي (څېرمه) یا فرعي جملې په سر کې راځي. لکه:

((ځکه چې ته نه وې نو زه بېرته لاړم.))

په نوروګړدودو کې دا غبرګغونډله (غبرګه جمله)داسې وایي:

(څنګه چې ته نه وې ځکه زه بېرته لاړم.) (جبارخېل، ۱۳۹۴ : ۲۳)

په دې توګه کندهارۍ ډله د نورو ګړدودي ډلو (څنګه) په وړاندې کاروي او د (ځکه) په وړاندې(نو).

ښه موضوع بلې خواته نه بیایم. په خوړیانۍ لهجه کې د نحوي ځانګړنو د ښودلو له پاره یو څو بېلګې راوړم او خبرې پرې کوم خو ډېر یې نه شم سپړلی ځکه چې موضوع اوږدیږي:

په لازمي غونډلو کې:

((زه بې لږ سر ور ښکاره کم.))

ددې جملې معنی داده چې: زه به یو ځای ته د یو چا د کتلو له پاره ورشم.

Download from: https://liyanamiri.com

((ما او تا څو.))

دلته ددې پر ځای چې اصلي جمله: (زه او ته څو) وکاروي، پرځای یې د زه په وړاندې (ما) اوښتي بڼه او د (ته) په وړاندې د (تا) اوښتي بڼه چې یوازې په تېر مهال کې باید واوړي، کارولې ده.

((ما ته یې کړه چې راشه.)) (معنی یې ما ته یې ویل چې راشه.)

په خوږیانې لهجه کې دغه ډول جملې نورې هم شته چې د مبتدا او خبر په ځینو توکو یا هم په خپله د فاعل او نورو برخو کې بدلونونه لیدل کیږي.

په متعدي غونډلو کې:

((وس یې څوک پانړه ام نه اړوي.))

دا جمله هغه وخت کارول کیږي چې یو څوک د یو چا په اړه وایي: اوس د پلاني کس پوښتنه هم څوک نه کوي په داسې حال کې چې پخوا یې ډېرې پوښتنې کېدلې او یا هم ډېر مطرح و.

((یې خپو په سر یې ګورم.))

په دغه جمله کې د مبتدا په برخه کې (یې) او د خبر په برخه کې (یې) یو له بل سره توپیر لري. لومړی (یې) د اضافت د (د) پر ځای او د خبري برخې (یې) د غایب شخص (مفعول) له پاره کارول شوی دی. یعنې: پلانی سړی په بیړه او لږ وخت کې ګورم.

((وچ لینګي دې نیولي.))

د (نیولي) فعل د نورو کلمو سره ډېر وخت کاروي او معنا یې د (درلودلو) ده. ددې جملې معنی د اده چې: (ته وچ لینګي لرې.)

((چا پسې اخیستی یې.))

Download from: https://liyanamiri.com

په دغه جمله کې مفعول (يې) د جملې پای ته تللی دی او فعل ترې مخکې شوی دی. يعنې: ولې په بيړه يې ؟ يا ولې وارخطا يې؟ يا څوک درپسې دی ؟ او نور...

Download from: https://liyanamiri.com

# څلورم څپرکی
# د ژبې د لهجو ډلبندي

مخکې له دې باید معیاري ژبه، رسمي ژبه، ملي ژبه، نړیوالې ژبې او په ځانګړې ډول مورنۍ یا اوله ژبه وپېژنو.

**معیاري ژبه:(formal language)**

د نورو لهجو له پاسه یوه لهجه ده چې ادبي او فرهنګي جنبه یې پیدا کړې ده او ویونکي یې هم هغه دملي ژبې په توګه منلې ده. یا د ژبې یوه بڼه ده چې د ټولنې په وسیله منلې شوې وي او د لوستو وګړو پر تعلیمي بنسټ ولاړه وي او په سیاسي او فرهنګي مراکزو کې کارول کیږي. یا مشترکه او ادبي ژبه چې تعلیم یافته وګړي، ورځپاڼه لیکونکي او د درسي، علمي، فني او څېړنیزو کتابونو لیکوالان یې کاروي. پرهغې باندې لیکنه کوي، خپل مقصد وربانديې افاده کوي. دې ډول ژبې ته معیاري ژبه ویل کیږي.

**ملي ژبه: (National language)**

یوه ژبه چې د یو ملت اصلي ژبه وي دهماغه دولت رسمي ژبه ده. د بېلګې په ډول الماني ژبه د المان هېواد ملي ژبه ده. یو دولت ښایي یوه خاصه ژبه یا لهجه د یو هېوادملي یا رسمي ژبه او یا ملي او رسمي ژبه اعلام کړي. لکه په مالیزیا کې مالیزیایي باهاسا او په فیلیپین کې فیلیپیني. معمولاً ملي ژبه د یوه هېوادرسمي ژبه هم ده.لکه فرانسوي چې د فرانسې هېواد ملي ژبه او هم رسمي ژبه ده یعنې په عمومي ځایونو کې لکه محاکمو، دولتي ادارو او بیانیو کې کارول کیږي.

Download from: https://liyanamiri.com

نړیوالې ژبې (International language)

دملګرو ملتونو سازمان شپږ ژبې په رسمیت پېژني چې دنړۍ د رسمي ژبو له منځ څخه دنړیوالو ژبو په توګه منل شوې دي. لکه: انګلیسي، فرانسوي،اسپانوي،روسي،عربي او چیني. (دایرة المعارف، ۱۳۸۲: ۲۳۱)

مورنۍ یا اوله ژبه (First language):

په عمومي توګه مورنۍ ژبه د شخص ژبه ده یا هغه ژبه چې لومړی ځل زده کول کیږي خو په څو ژبنیو ټولنو کې کېدای شي ماشوم په تدریجي ډول سره دمورنۍ ژبې د اساسي کلماتو له استعمال څخه د بلې ژبې دکلماتو استعمال ته میلان پیدا کړي. د مثال په توګه د ښوونځي او ورکتون دژبې دنفوذ له امله. په دې صورت کې ښایي اوله ژبه هغې ژبې ته وویل شي چې ماشوم یې په ویلو او خبرو کې د زیاتې ارامۍ احساس وکاندي. د اولې ژبې اصطلاح اکثراً له بومي ژبې(Native language) سره مترادفه کارول کیږي.(دایرة المعارف، ۱۳۸۶ : ۲۳۲)

په ژبو کې مثبت او منفي تحولات دوخت سره تړلي دي او دوخت لړۍ او زماني مرحلې هغه څه دي چې ټولنیز او ژبني تحولات په کې واقع کیږي. ځکه نو پوهان ژبه یوه تاریخي کټګوري بولي.(تڼیوال، ۱۳۸۸: ۸۷)

په ژبه کې د لهجو ډلبندي باید داسې وي، چې کومې ژبې چې سره ډله ډله شوې، باید له یوې ژبې څخه زیږېدلې وي او په خپلو کې سره ژبنۍ نږدې ځانګړنې او نږدېوالی ولري. که دا ډول نږدې والی ونه لري بیا خو به له ټاکلې ډلې ووځي. ژبپوهانو د هغې محاسبې پر بنسټ چې په (۱۹۶۴م) کال یې کړې ده، د نړۍ د ژبو شمېر له درېوو تر اوو زرو پورې اټکل کړی دی. په دې ژبو کې داسې ژبې هم شته چې تر (۵۰۰۰)زیات

Download from: https://liyanamiri.com

ویونکي یې کاروي. ژبپوهان باوري دي چې دې ټولو اوسنیو ډول ډول او ژوندیو ژبو له یو شمېر ټاکلو مشخصو او د ګوتو په شمار ژبو څخه چې مورینې یې ګڼل کیږي، په خپل ځانګړي ډول سره تکامل او انشعاب کړی دی. ځینو ژبپوهانو ژبې د هغوی د صرفي او نحوي جوړښتونو له مخې ډلبندي کړي دي. له دې مېتود سره سم ډلبندي چې اصطلاحاً (نوعي) او یا (جوړښتي) ورته ویل کیږي په درېوو ګروپونو یو هجایي،پیوندي او تصریفي ویشل کیږي. (اریانا دایرة المعارف، ۱۳۸۶: ۲۳۲)

په عمومي ډول د ګړدودونو د ډلبندۍ له پاره دژبې پوهان اړ دي چې ټاکلې ځانګړنې یې په پام کې ونیسي.هغه توپیرونه چې یو له بله سره یې په وینا کې لري،کره په ډاګه کړي. دتورو تلفظ ډول، دمورفیمونو او وییونو توپیر، دارنګه په کلمو او وییونو کې دځینو تورو ځانګړي بدلونونه(لوېدنه، ډېرېدنه، مخکې وروسته کېدنه، اوښتنه...) باید په پام کې ونیول شي. کله چې دا ډول توپیرونه په یوه ژبه کې پیدا شول او په خپلو کې یې توپیر هم درلود نو بیا دغه ګړدودونه دهمدغې ژبې ډولونه دي. کولای شو چې د ژبنیو ځانګړنو په پام کې نیولو سره یې ډلبندي کړو.

## د پښتو ژبې د لهجو ډلبندي

د پښتو ژبې د لهجو په هکله چې څومره څېړنې شوي دي ؛ دا په ګوته کوي چې لسګونه لهجې په پښتو ژبه کې شته. څوک یې اویا لهجې ګڼي. د پښتو ژبې د لهجو ډلبندي هم پوهانو په بېلا بېل ډول کړې چا په

Download from: https://liyanamiri.com

دوه، چاپه درې او ځينو هم په څلورو ډولو وېشلي دي او ځينې يې لا د ډلبندۍ په اړه په يوه خوله دي.

د بهرنيو پوهانو په اند د پښتو ژبې د لهجو ډلبندي داسې وړاندې کيږي:

ناروېژی ژبپوهاند پروفيسور مارګنستيرن پښتو لهجې په دوه عمده برخو ويشلي دي. نوموړی وايي: د پښتو لهجو ډلبندي اسان کار نه دی،ځکه د لهجو سيمې يو پربل باندې واقع دي. د پښتو ژبې ددوو لهجو موجوديت مشهور دی: يوه نرمه لهجه(ښ، ږ) او بله سخته لهجه (خ،ګ)

اسلانف هم پښتو لهجې په دوو ګروپونو ،ختيځ او لوېديځ ويشلي دي او په دې اړه يې د نورو خارجي پوهانو په څېر څېړنې او نظريات وړاندې کړي دي. نوموړی وايي پښتو ډېرې لهجې لري،خو په دوو لهجو کې سره خلاصه کيږي،چې يوه ختيځه او بله لوېديځه ده. ددې دوو لهجو توپير په (ښ) کې دی،چې لويديځ يې تقريباً د (ش) په څېر وايي او په ختيځه هغه کې يې د (خ) په شان ادا کوي او بل په (ږ) کې دی،چې په لوېديځه لهجه کې د (ژ) په څېرويل کيږي او په ختيځه هغه کې د (ګ) په شان ادا کيږي.

## د داخلي پوهانو له نظره د پښتو لهجو ډلبندي:

ښاغلي استاد روهي د پښتو لهجې په اړه په کابل مجله کې د (خوست محلي لهجې ) تر سرليک لاندې يوه ليکنه کړې. دی هم د پښتو لهجو د دوه ګروپونو پلوی دی او وايي: (( د ژبپوهنې له مخې د يوې ژبې په تحول کې غږيز (واول) توري تر چوپ(کانسوننټ )تورو ډېر ژر تغيير کوي. دغه تغيير د پښتو په لهجو کې عموماً او د خوست په لهجو کې مخصوصاً د يادونې وړ دی. که مونږ د لرې او برې پښتونخوا ټولې

Download from: https://liyanamiri.com

لهجې تر کتنې لاندې ونیسو په لومړي نظر ددغو لهجو په منځ کې یو ځرګند توپیر وینو، نو د پښتو لهجې په دوو ګروپونو او ډلو وېشل کیږي. لومړۍ ډله هغه لهجې دي،چې د هغو لیک او لوست په ښوونځیو،ورځپاڼو او نورو خپرونو کې تعمیم شوی دی او ځان ته یې معیاري بڼه غوره کړې ده. دوه یمه هغه لهجې دي،چې د لومړیو لهجو(الف) په مجهول (واو) بدلوي او تر اوسه پورې په دغه ژبه (لهجه) لیکنې او خپرونې نه دي شوي.

پوهاند صدیق الله (رشتین) په خپل اثر (پښتو ګرامر) کې د (پښتو لهجې) تر سرلیک لاندې هم په دې خبره بحث کړی. پښتو لهجې په دوو سترو اصلي او فرعي ډلو وېشل کیږي ، چې په دې به وروسته بحث وکړو.

پوهاند مجاور احمد زیار د (سملاسي وېش ) تر سرلیک لاندې پښتو لهجې په درې ډلو ویشي: (( د ستونزو او ربړو له کتنې څخه راته جوته شوه،چې ټبرنی او سیمه ییز وېش دواړه په ګډه د پښتو ګړدودونو (لهجو) بریدونه ټاکي،مګر دا چې ټبرونه لړ و ډېر خپل ټاټوبی بدلوي او یا ګرد سره د کوچیانو او پوونده وو په توګه ټاکلی ټاټوبی نه لري او په دې توګه دغه دواړه ځېزونه په ګړدودي وېش کې سره سمون نه خوري، یا په بله وینا ، پوره برابره برخه نه اخلي. هر ګوره دا اټکل کېدی شي،چې د پښتو په هماغه لومړي ټبرني وېش (سړبني،غرغښتي،بېټني، متوزي،کرلاڼي....)ګړدودي شمېر له ټبریز هغه سره سمون درلود....د افغانستان ټول پښتو ګړدودونه په کندهارۍ ډلې،منځنۍ ډلې او ننګرهارۍ ډلې ویشو، هغه هم سمدلاسه د یوه یوازیني بېواکغږ (ښ) له مخې.

Download from: https://liyanamiri.com

استاد زیار ددې درې ډلو تر څنګ دیوې بلې ډلې (وزیري )یادونه هم کوي، چې د زرملې له مموزو او مینزو، دښرنې له علي خېلو، دخوست له ګربزو او د اورګون له خروټو پرته نور ښکارندویه ته‌برونه په افغانستان کې نه بلکې په منځني پښتونستان پورې اړه لري. لکه وزیر،مسید، دوړ، ببټني،اورکزي،اپریدي، بنګښ، بنوڅي، خټک.... دا څلورم ګروپ د (ښ) او دغه راز د (ړ) د وییننګ له پلوه زیاتره له کندهارۍ هغه سره نږدې کیږي...

نوموړی د درې ګوني وېش له پاره د (ښ) درې ډوله بڼې په پام کې نیسي او وايي،چې د موښلي غبرګژبيز اواز Š په بڼه په کندهاري ګړدودونو او مښلي ناغږن منځتالوييز اواز ş په بڼه په منځني ګړدودونواو د مښلي نرم تالوييز X په بڼه په ننګرهاري ګړدودونو پورې اړه لري.

څېړندوی وجیه الله شپون بیا د وزیرۍ لهجې داخلول د لهجو په ډله کې اړین بولي. ښاغلی شپون داسې وايي: « زه په دې باور یم،چې په دوی کې د څلورمې لهجې په توګه د وزیري لهجې شاملول یوه مهمه موضوع ده او باید له پامه ونه غورځول شي که چېرې مونږ د پښتو ژبې د لهجو په بحث کې وزیرۍ لهجه د افغانستان له پولې ها خوا وګڼو او په وېش او ډلبندۍ کې یې له پامه وغورځوو، نو بیا خو په درې ګونې وېش کې د ننګرهاري یا ختیځ ګړدود له پاره له درونتې څخه تر اټک پورې لهجوي سیمه ټاکل او تثبیتول زما په اند د تامل وړ بریښي.

د پښتو ژبې ډلبندي د څېړنپوه دوکتور خلیل الله اورمړ په درسي لکچرنوټ کې هم په دوه ډوله (شمال ختیځه(پېښوري) او جنوب لوېدیځه(یوسفزۍ یا کندهاري) ښودل شوې. په دغه ځای کې یوه بله

Download from: https://liyanamiri.com

ډلبندي هم وړاندې شوې ده،چې دا ژبه په لاندې څلورو لهجو ویشي:

(۱)جنوب لویدیځه: د افغانستان په جنوب لویدیځ یعنې کندهار کې.

(۲)شمال لویدیځه: د افغانستان په ختیځ او شمال ختیځ کې یعنې ختیځو ولایتونو،کابل او د افغانستان شمال (ختیځ) او مرکزي غلزایي کې.

(۳)جنوب ختیځه: په بلوچستان کې یعنې بنو،وزیر،کاکړي،شرني،سپین او تور ترین.

(۴)شمال ختیځه: د پاکستان په شمال لوېدیځ کې یعنې پېښور، یوسفزي،مومند،شمال ختیځ غلزایي،افریدي،بنګښ او اورکزي.

لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه ؛پوهاند صدیق الله (رشتین) په خپل اثر (پښتو ګرامر) کې د (پښتو لهجې) تر سرلیک لاندې هم په دې خبره بحث کړی او پښتو لهجې یې په دوو سترو اصلي او فرعي ډلو وېشلي دي:

اصلي لهجې:

په درې ډوله دي،چې په لاندې ډول دي:

الف: لویدیځه لهجه(کندهارۍ لهجه): د افغانستان په لویدیځو او جنوبي (سوېلي) سیمو کې ویل کیږي.

ب: مرکزي لهجه: د افغانستان په مرکزي سیمو لکه: غزني،وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، او نورو کې ویله کیږي.

ج: ختیځه لهجه (ننګرهارۍ لهجه): د ننګرهار،مومند، باجوړ، اشنغراو یوسفزو په سیمه کې ویله کیږي.

فرعي لهجې په پښتو کې ډېر ډولونه لري،چې ځینې یې دادي: وزیرۍ لهجه، د خټکو لهجه، کاکړۍ لهجه، د احمد زیو لهجه، د وردګو لهجه،

Download from: https://liyanamiri.com

د پکتیـا لهجـه، د اپریـدو لهجـه، د یوسـفزو لهجـه، دبـاجوړو لهجـه،د مومندو لهجه، د خوږیانیو لهجه، د شینوارو لهجه.

Download from: https://liyanamiri.com

## پنځم څپرکی
## د افغانستان د ژبو او لهجو څېړنه

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د ګړدودونو په اړه منظمې څېړنې نه دي شوي او نه هم ټول راټول شوي دي. ژبنۍ څېړنې او د ګړدودونو ساتل او ثبتول، د هغوی له پاره ژبنی اتلس جوړول د یوه هېواد د دودونو او تاریخ په پېژندنه کې ستر رول لري، زموږ هېواد د اریایي ژبو څېړنې او ددغو ژبو د روزنې زانګو ده نو په همدغه اساس په (۱۳۴۱) کال کې د ادبیاتو پوهنځي د ((ژبپوهنې انستیتیوټ)) په نوم د ژبپوهنې یوه څانګه جوړه کړه.

دغه څانګه له بهرنیو او کورنیو ژبپوهانو څخه جوړه وه چې د نړیوالو موسسو او د یونسکو له خوا هم ورسره مرسته کېده. ددغې څانګې څېړونکي د بېلابېلو ګړدودونو د راټولولو په موخه د هېواد (۲۶۸) بېلابېلو سیمو ته ولاړل او دلاندې ګړدودونو په اړه یې کار کړی:

((ازبکي،ترکمني، پشه یي، پراچي، ګجري، اشکوني، اورمړي، هروي، مغلي سنګلیچي، بلوچي، منجي، روشاني، اشکاشمي، واخي، پنجابي، عربي، ترکمني، ترکي افشاري، زیباکي، کلنګي، کردي، پښتو، دري، او نور... (یمین، ۱۳۸۸ : ۴۲) ژباړه په لومړیو کې داسې وو چې د ژبپوهنې اتلس دې په دوه پړاوونو کې بشپړ او خپرولو ته چمتو شي. په لومړي پړاو کې له ټولو سیمو د اړتیا وړ مواد راټول او په دوه یم پړاو کې نوموړي مواد ولوستل شي او بیا دې د ژبپوهنې اتلس جوړ شي، په همدې ترتیب د ژبپوهنې دغه اتلس په درې ټوکونو کې جوړ او خپرېده. په لومړي ټوک کې د ځواب ورکوونکي معلومات او د څېړنې سیمې، د ګړدودونو د ثبت نېټه، د پوښتنلیک ډولونه او نور... په دوه

Download from: https://liyanamiri.com

یم ټوک کې د ژبپوهنې شاوخوا یو نیم زر (۱۵۰۰) نقشې، په دریم ټوک کې یو نیم سل (۱۵۰) انځورونه وو. په یوه راپور کې، چې پنځه کاله وروسته په یوه مجله کې خپور شوی دی، راغلي چې د لومړۍ مرحلې پنځه اتیا سلنه کار بشپړ شوی او د دوه یمې مرحلې شاوخوا پنځوس سلنه کار بشپړ شوی دی.داسې اټکل کېده چې یو دوه کاله وروسته یې د چاپولو تیاری نیول کیږي، خو له بده مرغه دغه موسسه د ناخرګندو عواملو له امله له منځه ولاړه.

اوس بایده دي چې که څه مواد لرو هغه راواخیستل شي او دولت د نورو څېړنو له پاره څېړونکي چمتو کړي(داسې چمتووالی چې دولت یې له هره اړخه بسیا کړي). ځکه څېړنې سرسري نه وي بلکې لګښت او نورې اسانتیاوې د څېړنې بشپړولو او پوره سرته رسولو کې مرسته کوي د تګ راتګ وسیله، مرستندویه خلک، د ولس مخور،د غږ ثبتولو الې، بېلابېل قلمونه اوکاغذونه، نورې تخنیکي وسیلې، خوراک څښاک، د اوسېدو ځای او نورې اسانتیاوې ددې لامل ګرځي چې څېړونکی په ارام مغز څېړنه وکړي. او بیا نورو سیمو ته د نورو او نویو معلوماتو راټولولو له پاره ولاړ شي.

کوم مواد چې د ژبپوهنې د اتلس له پاره راټول شوي + نورې کره څېړنې او خپرول. نو دا به مساوي شي په ژبپوهنه کې د ډېرو ګونګو پوښتنو ځواب او ژبې ته کار سره. په دې به هم سترګې نه پټوو چې ځینو لیکوالو د ترفیع په موخه دمقالو چاپ او نورو... له پاره ګړدودونه څېړلي دي. چې داهم یوستر ګام دی. پښتو لهجې دبېلا بېلو ژبپوهانو او ژبڅېړونکو له خوا څه نا څه راټولې شوي خو داسې منظم کار او څېړنه، چې نیمګړتیا ونه لري؛ تر اوسه نه دی تر سره شوی.

Download from: https://liyanamiri.com

## د ژبې په بډاینه کې د لهجو ارزښت

بډایه ژبې بډای ادبیات لري. ځیني وخت د ډېرو ګړدودونو له منځه یو هغه د سیاسي، کلتوري او ټولنیز پرمختګ په وجه یا د نورو لاملونو له امله پرمختګ کوي او ځان د نورو په سر کې دروي. هغه نو بیا معیاري ګړدود شي.

دګړدودونو د ارزښت له پاره لاندې ټکي د پام وړ دي:

- ګړدودونو ژبه رامنځته کړې نو خپل او ساتل یې اړین دي.
- ګړدودونه ژبه بډایه کوي.
- ډېر وخت داسې کیږي چې د یوې ژبې اصلي کلمې په ګړدودونو کې پیدا کیږي.
- د یوې ټولنې د وګړو دودونه او روحیات د هغوی دګړېدو څخه هم بشپړېدای او ښکاره کېدای شي.
- د ګړدودونو په وسیله ژبه ثابته پاتې کېدای شي، نو ارزښت یې همدا دی. د ژبې لغوي زېرمه ده.

ژبې او ګړدودونه د فرهنګ عمده توکي او د انساني ژوند لویه سرمایه ده. په داسې وخت کې چې دغه عمده توکي او سترې سرمایې له منځه ځي نو بایده دي چې د دغې پانګې ځانګړنې ثبت کړو او دله منځه تللو دمخنیوي له پاره یې متې را ونغاړو او ویې ساتو. سربېره پردې ژبه یا ګړدود هغه څه دي چې د انسان له ژوندانه سره پوره اړیکه لري.

ښاغلی (علي اکبر شیري) په (درامدی بر ګویش شناسی) کې د ګړدود پېژندنې ارزښت ته اشاره کړې چې زه یې دلته دوه ببلا ببل پراګرافونه را اخلم.

((تنوع و ګوناګوني قانون طبیعت است و از بین رفتن تنوع در فرهنګ و تفکر زمینه رشد و تعالی جوامع انساني را نیز از بین می برد و توازن

Download from: https://liyanamiri.com

جامعه ی انسانی را برهم می زند. مرگ یک گویش از مرگ یک فرهنگ خبر می دهد....)) ((... علاوه بر ان گویش های محلی گنجینه های ارزشمندی از واژه ها و اصطلاحات هستند که هم باعث غنای زبان وگویش معیار می شوند وهم در
شناسايي گذشته زبان و سیر تحولات ان محققان را یاری خواهند کرد.))

یوه ورځ مې په فیسبوک کې له یوه ملګري واورېدل چې د بېر خلک د (برف کوچ) کلمه کاروي. تاسې څه ورته وایئ؟ هر چا ورته بېلابېل نومونه لیکلي وو، ما ورته ولیکل چې د واورې خوېېدنې له پاره مونږ (خوړېيانې) د (راشی) کلمه کاروو. دا یوه سمه او په ځای کارونه ده. دا خبره مې د ګړدودونو دکلمو د ارزښت په اړه وکړه ځکه یې د ژبې لغوي زېرمه بولو. لیکوال او شاعران خامخا دلیکنې پر مهال د ګړدودیزو کلمو څخه کار اخلي او دا کلمات د ژبې لغوي زېرمه ګرځي نو د هرې اصطلاح، متل او کلمې په ډېروالي ژبه لا بډایه کیږي. د هر ګړدود شاعر او لیکوال د نثر یا نظم ښکلا د ګړدودیزو اصطلاحاتواو کلمو په کارولو کې هم وي. څرنګه چې دغه لیکنې او اثار د ټولنې پانګه ګرځي نو ګړدودیزې کلمې هم د ټولنې د ژبې پانګه ده. دا سمه ده چې تولنه پرمختګ کوي، ژبې هم. خو دګړدود مرګ د ټولنې له مرګ څخه کم نه دی. سربېره په دې هر څه؛ عامیانه لهجې د ادبي او معیاري ژبې د بډاییتوب تر ټولو مهمه سرچینه ده.

## د پښتو ژبې د لهجوي ویيونو ارزښت

پښتو ژبه د داسې قام د خولې او زړه ژبه ده چې په جغرافیایي لحاظ یې تر منځ بېلابېل خنډونه شته دی. غرونه، سیندونه، دښتې،درې او نور موانع یې هم د ګړدودیزې رنګارنګۍ لاملونه دي. دغه رنګارنګي په

Download from: https://liyanamiri.com

ژبه کې ځانګړې ارزښت لري. پښتو ژبه لسګونه ګړدودونه لري. تر اوسه یوه هغه یې داسې معیاري بڼه نه ده غوره کړې چې ټول پښتانه دې پرې سره سلا شي. دکندهار والا یې په کندهارۍ، دننګرهار والا یې په ننګرهارۍ او پېښوري یې په پېښورۍ لهجه لیکي.
دلته مو باید د لهجوي ویونو ارزښت ته پام وي چې که وساتل شي ژبه پرې بډایه وي. لکه مخکې مو چې وویل همدا ګړدودونه د ژبې له پاره مهمه سرچینه ده. لهجوي کلمات کولی شي د یوې داسې کلمې پرځای د هماغې ژبې اصلي کلمه اوسي چې پردۍ وي. که د پردۍ کلمې پر ځای دود او خپله کلمه وکاروو، که هغه ګړدودیزه هم وي. دا به په ځای کار وي. یعنې همدا لهجوي کلمات کولی شي چې دژبې فقر کم او یا له منځه یوسي.

## د لرې او برې پښتونخوا دلهجو څرنګوالی

په پښتو ژبه کې دبېلا بېلو طبیعي او غیرطبیعي خنډونو له امله دګړدودونو ډېروالی ددې لامل دی چې معیاري لهجه یې په اسانۍ نشو تاکلی او موندلی.که مونږ دننګرهارۍ یا ختیځې لهجې او کندهارۍ لهجې لیکنې وګورو، هلته ځینې توپیرونه لیدلای شو. لکه:(ښ،ږ،وسو،پېزندل...). اوس په بره پښتونخوا کې معیاري کوم ګړدود وګڼو او په کوزه پښتونخوا کې کوم یو. لومړی به د لرې او برې پښتونخوا دځینو ګړدودونو په ځینو ځانګړنو لنډې خبرې وکړم بیا به په معیاري هغو هم رڼا واچول شي.
د لرې او برې پښتونخوا دګړدودونو ځانګړنې:
د لرې پښتونخوا ګړدودونه له ځینو ژبو لکه انګریزي، اردو څخه ډېر اغېزمن دي. دوینا ژبه خو یې کله داسې شي چې سړی فکر وکړي که دغه

Download from: https://liyanamiri.com

د نورو ژبو اغېز پرې لړ دوام وکړي نو دغه کښتنۍ پښتو ګړدود یا ژبه د له مینځه تللو په حال کې دی. ددغې لهجې کاروونکي(لوستي او نالوستي)د پردي اغېز دومره پام نه ساتي. د ژبې دله منځه تللو یولامل دا هم دی چې تر حده ډېر اغېز ومني او بیا د وخت په تېرېدو سره د خلکو دغه پېژند له منځه ولاړ شي او ژبه بلې ژبې ته خپله ځای پرېږدي.
زه د کوزې پښتونخوا د لهجې یوه کوچنۍ بېلګه راوړم: یو زده کوونکی ټولګي ته ناوخته راغی نو استاد ورته وایي چې: ته ډسپلین سینګ نه فالو کوې؟ زده کوونکي ورته وویل: (سر پن کې مې انک اچولو راباندې لېټ شو). نو دا خبره داسې هم کېدای شي چې ووایي: (ښوونکیه قلم ته مې رنګ اخیسته یا په کې اچولو نو ځکه ځنډ شوم).
دا اغېز د وخت په تېرېدو سره ډېرېدای شي. یو څو لنډې جملې نورې هم وګورئ!
ـ هلکه سله ټنشن کې یې؟ دا جمله دبرې پښتونخوا خلک داسې وایي: هلکه ولې په تشویش کې یې؟ یا ولې فکر من ناست یې؟
ـ (سو روځې رېګولر باران اوشو.) په بره پښتونخوا کې بیا دا جمله داسې وایي: څو(سو) ورځې (روځې) پرله پسې (مسلسل) باران وشو.یا دا لاندې جملې وګورئ!
ټول خلک سرنډر شول، په شونډو یې مسکراهټ ولیدی شو، دوی په خپلو کې مټنګ اوکړو، رور له مې هاټ اټېک(هارټ اټېک) اوشو،دی کېنسر دی، سلو سلو ځه! ،سټاپ شه! ، کټ یې که! ، اکسیډنټ یې اوکه.
دا ډول اغېز دبرې پښتونخوا په هغو پښتنو هم شوی چې د هجرت (لېږد) له امله یې په کوزه پښتونخوا کې وخت تېر کړی. ددې جملې پر ځای چې چلوونکي ته ووایي:(غاړې ته یې ودروه یا موټړ ودروه!. نو

Download from: https://liyanamiri.com

ورته وايي: ډرايوره سيټ له به يو بريک واخلې). دغه ډول خبرو ته بايد ځير اوسو.

اوس نو د کوزې پښتونخوا د ګړدود په ځينو کلمو کې لفظي بدلونونو ته ځير شئ! او تر ځنګ يې معياري ټکي هم راوړم:

وله(wala): د (ورته) پر ځای. دلته داسې ښکاري چې(ر) توری لوېدلی او (ت) توری په (ل) اوښتی دی.

رالل(raləl): د راغلل پر ځای. دلته (غ) بې واکه توری لوېدلی دی.

اوخَو(oxaw): د (وښود) پرځای. د (د) توری لوېدلی او (خ) زور اخيستی. دا د مطلق(بشپړ) فعل بنه لري، چې استمراري(نابشپړه) بنه يې (خَو) يا (ښوده) ده. (وخولو) هم د (وښوده) پر ځای کاروي.

راځی(rādzay):د راځئ (radzəy) پرځای. دلته د(əy) پر ځای د (ay) په ځېر تلفظ کوي.دارنګه (کوی، ځی، کينی...)

د برې پښتونخوا ګړدود په ځېرد لرې پښتونخوا وګړي هم د(کړه) پرځای (که)(امري) وايي. په دوارو ګړدودونو کې (جړل) د (ژړل) پرځای کاروي. يعنې (ژ) په (ج) اړوي.په لره لهجه کې (راسرې) د (راسره) پر ځای کاروي. لره او بره پښتو لهجه په خپلو کې ورته والی هم لري. دننګرهار دکامې، مومندرې او نور خلک هم د دوی په ځېر غږيږي.

دارنګه دا لاندې کلمې وګورئ! لفظي بدلون يې لوستونکي خپله پېژندلای شي. لومړی کلمې د لرې پښتو لهجې دي:

رالی ـ راغی، دله ـ درته، اوکي ـ وکړي، ووچت ـ اوچت، وبخ ـ ببخ، روځ ـ ورځ، روستو ـ وروسته، تلی ـ تللی، پې ـ پرې، يوورړه ـ وبوړه، اګی (ها)ـ هګۍ، کمتره(کونتره) ـ کوتره(کونتره)، ووچت ـ اوچت، سواره ـ سپاره، جوندی (جمدی) ـ ژوندی، پربزګار ـ پرهېزګار، ځانله ـ ځانته،اينختی ـ نښتی، پېجندل ـ پېژندل، پزول ـ فضول، جګړې(ګاف

ته زور ورکوي) ـ جګړې، رورسېدـ راورسېد ، اوم ـ هم، مشران(ش ته فتحه ورکوي.ـ مشران، رورـ ورور ، مرګرى ـ ملګرى يامرګرى، اغه ـ هغه، سينګ ـ ځنګه، سو ـ څو ، موليان ـ مولايان، ګبرچاپېرـ ګردچاپېريا شاوخوا ، پى ـ پوهـ، مونتل ـ موندل، کوېدن ـ کوږدن، شيزونه ـ ځيزونه، لوې ـ لوى، جبريل ـ جبراييل، روجې ـ وريجې، اومداسې ـ همداسې، جون يا جوندـ ژوند ، لاوله ـ له اوله، ترندست ـ تندرست، روانه ـ ورانه، سادرـ څادر ، سملاستل ـ څملاستل، ګورې ـ ګوره، وال ـ وهل، سرمن ـ څرمن، سپلى ـ څپلۍ، ړه ـ زړه، نېم ـ نه يم، يره ـ وېره، رويت ـ وريت، رواره ـ وراره اونورې ډېرې کلمې چې په ځينو کلمو کې بره پښتو لهجه هم يو شان ده.

په پورته کلموکې ځينې توري لوېدلي، يو په بل اوښتي، مخکې وروسته شوي، ډېر شوي. دغه تلفظ دننګرهار د مومندو او ځينو نورو په ګړدود کې ليدل کيږي.

اوس ځينې لغوي ځانګړني او توپيرونه هم ګورو:

| | |
|---|---|
| مېلاوېدل | سترې مه شې کول يا مخامخ کېدل.يا له چا سره کتل |
| واپس | د بېرته پر ځاى يې کاروي. (هغوى واپس رالل.) |
| ونوله | د (وشينده) پر ځاى. يا (نوستل)د (شيندل) پر ځاى. (شګې يې ونوستلې) |
| پوتۍ، پوتېينى | د (لږ) يا کوچني په معنى. (پوتۍ دمه اوکه.) (پوتېينى ماشوم و.) |
| خشته | د ښايسته پر ځاى يې کاروي. (خشته ښکلى مخ وله الله ورکړى و. |
| لړه | د(غورځېدل) يا غورځېدو په معنى. (الک د ګاډي نه را لړه شو.) |

Download from: https://liyanamiri.com

| | |
|---|---|
| کونتې | امسا.د برې پښتونخوا ځينې خلک هم (کونتې ) ورته وايي. |
| اوخکل | د ويستلو په معنی. (اغه يې د کوره اوخکلو.)(ونه يې د وېخه اوښکله) |
| شابه | ژر شه! (هله! ) امري بڼه لري او جمع يې (شابئ) کيږي.(شابه کښه!) |
| ګوټ | د (واو) په شدت سره (غړپ )ته وايي. (يو ګوټ اوبه مې اوسکلې.) |
| ګوټ | د (واو) په اوږدوالي دتار يا ګوټک په معنی |
| ګُټ | دکونج يا کنار معنی ورکوي.(اغه يو ګُټ له ولاړ و) |
| نوتړه | دنطفې او ځاځکي په معنی. (انسان مې دوينې له يوې نوتړې نه پيدا کو.) |

دارنګه (ډاکه ـ يرغل،ډاکوان ـ غله او نورې ډېرې کلمې.

دغـه ډول لفظي او لغـوي بدلونونـه پـه ګړدودونـو کـې شـته دي. دبـرې پښتونخوا ځيني وګړي (هګۍ ) ته (اويه ) يا (وويه) يا هم (يېيه) وايي. (هلک) ته (وړکی) وايي. د غزني خلک پښـنمې (پرشمې) تـه (پېسمی) وايي.پکتياوال(ميدان) ته (منديون) وايي. (منګل، ۱۳۸۱ : ۹۲) دننګرهار جبارخېل د(ماهيان) پر ځای (مَيان) وايـي. خوږيـاڼي (ايبت) د (هيبت) پـر ځای کـاروي. شينواري(ماشي) تـه (مياشی) وايـي. (لار) تـه (ليار) وايـي. (ورمېږ) ته (ورمږ) وايي. د (اخوا) پر ځای (الې) او (دېخوا) پر ځای (دلې) کاروي. (درم پيا) د (زينې) پر ځای کاروي. (پـزې) تـه (سونګه) او(وره) تـه (دوره) وايي. د وردګو او ننګرهار خوږياڼي (ښکنځل) ته (زېږې) وايي.

دا يـو څـو بېلګې دلـرې او بـرې پښـتونخوا د لهجو استازيتوب نـه شي کولی خو په همدې به قناعت وکړو. دبرې پښتونخوا ډېرى کتابونه پـه

Download from: https://liyanamiri.com

ختيځه لهجه يا مرکزي لهجه،چې نسبتاً معياري بڼه يې غوره کړې، ليکل شوې. دکندهار دليکوالو په ليکنه کې کندهارى ګړدود ځان ځرګندوي. زما له نظره په معياري ګړدود کې بايد محلي هغه يعنې تلفظي کلمې ونه اوسي ځکه کوم ډول چې تلفظ کيږي هغسې خو بايد ونه ليکل شي.

## دژبې د بدلونونو ډولونه

په ژبه کې دبدلونونو په اړه مو څه نا څه خبرې کړي.اوس دبدلونو په دغه ډولونو غږيږم چې د تاريخ په اوږدو کې يوې ژبې منلي او يا ورپېښ شوي دي.دلته به په ژبه کې دبدلونونو(وييز بدلون،فونيتيکي بدلون، املايي بدلون،نحوي او معانيز بدلون په اړه څه نا څه وغږيږم.

## الف: لغوي توپيرونه

کله کله داسې وي چې د ژبې په ګړدودو کې داسې توپيرونه موجود وي چې هماغسې کلمې ته د ژبې په يو ګړدود کې يو او په بل کې بل نوم اخلي.لاندې بېلګې وګورئ:

۱)د دري ژبې (برف پاک)کلمې ته په بېلابېلو پښتني سيمو کې ځانګړي نومونه وجود لري

| منګل | خوستی | وزير | وردګ | اپريدي | سلمانخېل | کندهارى |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ييم | خوی | پلن<br>سری | پورو | يم | پارو | راشپېل |

۲)د دري ژبې د(زاغ)کلمې ته د پښتنو په بېلابېلو سيمو کې ګوښې ګوښې نومونه وجود لري:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مڼ | خوستی | وزير | ورد | اپر | باجوړ | سلمانخ | غزن |

Download from: https://liyanamiri.com

| ګل | | | ک | يدي | | بل | ي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وروغ | کارغه،ګوړ اغ | کوړا غ | وراغ | کاغه | کاغه | کاغ | کار ګه |

۳) د دري ژبې د (لحاف)لغت ته په پښتو کې دغه کلمې شته:

| منګل | کاکړ | وزير | کندهاری | باجوړ |
|---|---|---|---|---|
| بړستن | کنځڼ | شيرک | تلتک | التک |

۴) د دري ژبې د (توکمه) کلمې ته په پښتو ژبه کې دا لاندې کلمې وجود لري:

| منګل | سره کمرساپی | خوست | وزير |
|---|---|---|---|
| تنۍ،سدپ | تکمه | سپينکۍ | ګروې |

د وييز او لغوي توپير په اړه ويلای شو چې په ژبه کې هماغه يوې کلمې ته څو نورې کلمې شته چې وګړي يې په خپل منځ کې دهماغه مفهوم له پاره کاروی. خوړياني(شړومبې) ته (تروې)، (ډوډۍ) ته (ماړۍ)،(نوړۍ) ته (کپله)، هګۍ ته (اويه يا وويه)وايي.دا رنګه (ګوټ) ته (غړپ)، ملۍ ته (ترپ)، هلک ته (وړکی)، نجلۍ ته (جلکۍ) وايي.

نو دغه بېلابېل ويی په ژبه کې وييز يا لغوي بدلونونه څرګندوي او دا ښکاره خبره ده چې د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېل عوامل يې دليل دی. د وييز بدلون لپاره لاندې څو نورې بېلګې هم د معلوماتو لپاره وګورئ

| منګل | وزير | خوړياني | |
|---|---|---|---|
| ګوډۍ | ګيداره | ګوډۍ | (دبوسو خوسی) |
| توند(خوشت) | ليمد | خيشت | (لوند) |

Download from: https://liyanamiri.com

| | | | |
|---|---|---|---|
| داري(دانګي) | داسي | دسي | (داسي) |
| خولي | ټوپي | خپله | (خولۍ) |
| منګريته | ټمټر | شلغم | (شلغم) |
| ووبه | يبېه | ووبه | (اوبه) |

### ب) غږيز بدلونونه: **Phonetical Changes**

غږيز بدلونونه هم د ژبنيو بدلونونو يو ډول دی چې په بېلابېلو ګړدودونو کې د يوې کلمې يو توری په بل غږ تلفظ کيږي.دلته د معنی مانيې نه رنګيږي يوازې په تلفظ پورې اړه پيدا کوي په فونيټيکي توپير کې ډېر وخت خپلواک توري په ګړدودونو کې په نورو هغو اوړي او معنی يې نه اوړي.کله داسې هم وي چې که د يوې کلمې يو توری په بل توري واوړی معنی يې هم اوړي. دا بيا فونيميکي موضوع ده چې يو فونيم د کلمې پوره معنی اړوي.

لکه:خور(xor) – پور(por) ـ مور (mor) ـ لور (lor) – زور(zor) – سور(sor) – يور(yor) – نور(nor) – شور(Sor).

دلته چې په کومو بدلونونو خبره کيږي هغه فونيټيکې توپيرونه دي چې د يوې ژبې په بېلابېلو ګروپي توپيرونو(ګړدودونو)کې ښکاره کيږي.

۱)الوتی – الوتل:خوږياني د(الوتی)تېرمهال کړ پر ځای(اولتی)کاروي. دلته ځينې توري وړاندې وروسته شوي.يا د(الوتل) پرځای(اولتل)کاروي خو معنی يې يوه ده.

۲)غوجل:خوږياني اوځينې نوري د (خوست او پکتيا)لهجې دکلمې د منځ (و)په (ی)اړوي او (غيجل)تلفظ کوي چې دلته (و)توری په (ي)اوښتې او معنې يې يوه ده.

Download from: https://liyanamiri.com

۳)ژوند: ددغې کلمې توپیرونو ته که د غزني (زوند)، ننګرهار(جوند)، پکتیا(زوند)په کلمو کې ځیر شو نو د (ژ)ناخپلواک په (ز) او (ج)اوښتې دی.

۴)کتاب، دپکتیا(کتوب)، د خوږیانیو پورتنۍ لهجې (کتوب)او نورې (کتاب)وایي.دلته (الف)خپلواک په (و)خپلواک اوښتی دی.چې یوه ګړدودیزه موضوع ده.

۵)غوښه: دننګرهار(غوخه)، پکتیا(غښه،غوخه)، کندهار(غوشه) او وزیرستان (غیشه)کې یې توپیر دا دی چې د(غوښه) دکلمې (ښ) په (خ)تلفظ کیږي.

دا رنګه په خوږیانۍ او ځینې نورو لهجو کې د سمتي نومځرو (در،ور) پرځای (دېر،وېر)کارول کیږي.د وزیرستان خلک (موږ)ته (میژ)، د کندهار خلک (موژ)، غزنی(موګ)، پکتیا (میګ) خوږییانې (مینګ) کاروی.دلته وینو چې خپلواک او ناخپلواک توري اوښتي راواوښتي دي خو دمعنی ملکه لا هماغسې ښکلې ده.نودا رنګارنګي یوازې په وینا پورې اړه لري.

لاندې یو څو بېلګې نورې هم وګورئ:

۱ـبخښل:- بخښل(کندهار) بخشل(وزیرستانیان) (بخل) ننګرهار

۲ـغاښ:ـ غاښ // غوش // غاخ //

۳ـپورته:- پورته // پیړته //

۴ـړوند:ـ وړوند(خوږیانې) ړیند (وزیر)

۵ـولې:- وېلې // وېلې //

او نور....

Download from: https://liyanamiri.com

## ج) املايي بدلونونه

د ژبنيو بدلونو په ډله کې يو هم املايي بدلون راغلی دی. دا يو ليکدودي توپير دی يعنې املايي توپير زما په اند که املايي تېروتنې ورته په اوسني وخت کې وويل شي، بده به نه وي. ځکه ځينې کلمې ځينې خلک داسې ليکي چې معنی اړوي. په دې اړه به سر نه خوږوو، په ژبه کې د املايي بدلونونو يو څو بېلګې وګورئ:

۱)د کندهارخلک د (دی ولاړ)پرځای(دی ولاړئ)ليکي.

۲)دپوهاند حبيبي په (پښتو ادبياتو تاريخ )کې مې د (اوس به تاسو پوه شوي ياست)جملې پرځای دا جمله وليدله(اوس به تاسو پوه سوي واست).

۳)په کندهارکې د مرستيال کړ(شول)، (شوې) د(ش) پرځای (س) يعنې (سول)، (سوې) کاروي، او ليکي. د رشاد صيب،حبيبي صاحب او ببنوا صيب په ليکنو کې يې هم ليدلی شئ.

۴)ځينې خلک د(معنی)کلمې پرځای (معنا)،(مانا)ليکي،چې دليل يې هم نه لري.

۵)په پښتو ژبه کې د (کې) وستربل پرځای کله (کي) او کله د(کښې)په بڼه راغلی دی.

۶) د(صاحب) کلمه ډېر خلک په (سيب) او (صيب)ليکي.

په يوکتاب (تشريحي ژبپوهنه) کې مې يو څه کلمې وليدې. لومړی مې فکر وکړ چې دا به د ټايپ تېروتنې وي. خو دا چې بيا ځلې بياځلې مې مخې ته راتللې نو ما ورته د املايي تېروتنې نوم ورکړ. هغه داسې ده چې (ښوول کيږي) يې په (ښوولکيږي)، د (بلل کيږي) يې په (بللکيږي)، د (څېړل کيږي) يې په (څېړلکيږي)، (وړل کيږي)يې په (وړلکيږي) او نور...سره ليکلي وو. په داسې حال کې چې(ښوول، بلل،

Download from: https://liyanamiri.com

ځېرل،وړل)خپلواک فعلي نومونه او فعلونه دي او (کيږي) ورسره مرستيال فعل دی.

نو که داسې مسايلو ته پام وشی، ښه به وی کنه زما په ځېر زده کوونکي به لاره ورکه کړي او هيڅ به هم ياد نه کړي.

د کندهارچاپ په کتابونو کې په ځينو کتابونو کې (مځکه)، (قندهار)، (کښل) راغلي دي. خو دا بيا د ختيځې لهجې په اشارو کې د (ځمکه)(کندهار)(ليکل)په بڼه ليدل کيږي.

(ځانته)کلمې پرځای د کوزې(پښتونخوا) او ځينې نور ليکوال(ځانله) ليکي.

## د) معانيز بدلونونه

ځينې وخت په بېلابېلو ژبو يا ګړدودونو کې يوه کلمه په بېلابېلو معنی ګانو سره کاروي دغه کلمه چې په بېلابېلو سيمو کې بېلابېل مفهوم لري معانيز بدلون کې راتلی شي. زما په اند که په معانيزو بدلونونو کې دغه لاندې کلمې وشمېرو بده به نه وي.

۱)د انګريزي ژبې باډي(body)کلمه په پښتو ژبه کې د ښکلي او قوي اندام لپاره کارول کيږي. (څه ښه باډي لری.) خو په کندهار او ځينو نورو سيمو کې ځينې نورې معنا ګانې لري.

۲)ځاځی: د يو قوم نوم دی، خو په ځينو سيمو کې لکه خوږيانې، (ځاځی) دوږې تږي او حريص معنی لري.

۳)غلجی: دننګرهار په روداتو کې غلجی کلمه د وږي تږي او حريص معنی لري په داسې حال کې چې د دپښتون ټبر يوه لويه پښنه ده.

۴)لالا: زمونږ په ټولنه کې مشرور ورته (لالا) وايي خو ځينې وخت بيا په بله معنی هم کارول کيږي. يعنې.(ناپوهه او بې خبره). مثلاً:له يو چا څخه

Download from: https://liyanamiri.com

څه پوشتې او هغه غلی شي.بل کس درته ووايي چې (دا څه لالا دی). په کونړ کې بیا هر مشر ته (لالا)وایي.

۵)واړه: زمونږ په ټولنې کې (واړه) کشرانو او کوچنیانو معنی ورکوي. ځینې وخت د (بچیانو)، (ښځې) معنی هم ورکوي. لکه: (واړه دې ښه دي؟)(بچیان.ښځه)

په کونړ کې کې نارینه جنس(هلکان)، که په ښوونځی کې وي که په پوهنتون کې، ټولو ته د (واړه)کلمه کارول کیږي.

دا رنګه د (مسلمان)کلمه چې د(اسلام سم پیرو)معنی لري،ځینې وخت دې ته ورته نورې معنا ګانې ورکوي. دظلم او زیاتي پر وخت چاته ویل: (ته والله ښه مسلمان یې)یعنې زیاتی دی وکړ، انصاف دې ونه کړ، یا وکړ او نور....

## نحوي بدلونونه

دژبنیوبدلونونه په لړکې یوهم نحوي بدلونونه دي چې یوه جمله یا یې اساسي ارکان کله کله په توپیرسره ویل کیږي. دلته هم معنی نه اوړي یوازې دجملې دویلو بدلون دی.

نحوي رغاونه په ټولوپښتوګړدودونوکې کابویو راز ده اوکوم توپیرکه لیدل کیږي هغه به زیات دجملې درغنده توکونوله ما نیزو یا چاریزو(functinal)توپیرونوڅخه سرچینه اخلي. لکه څکه(jaka) چې په کندهاري ګړدودکې له ((چې ))سره د((زیراکه))په مانا نه بلکې د ((طوریکه )) په معنا راځي. په بله وینا دنورو ګړدودوغوندې په غبرګو جملو کې د دوه یمې ((ارې)) په سر کې نه راځي. بلکې دلومړۍ((خیرمه))یا فرعي جملې په سر کې راځي. لکه: څکه چې ته نه وې نو زه ببرته لاړم.

Download from: https://liyanamiri.com

په نورو ګړدودو کې دا غبرګه غونډله (غبرګه جمله) داسې وايي:
((څنګه چې ته نه وې ((ځکه زه ببرته لاړم.))
په دې توګه کندهارې ډله دنورو ګړدودي ډلو ((څنګه ))په وراندې ((ځکه ))کاروي او د(ځکه )په وراندې (نو ).(جبارخېل، ۱۳۹۴ : ۲۳)
دجملې دتوکو په اوډون کې که کوم توپېر راځي. هغه ښايي لږو ډېرهر چېرې په فردي ګړدود Idiolect کې ولیدل شي. مګر که عمومي سېستم په په پام کې ونیسو، ټول پښتو ګړدودونه په عبارتولکه توصیفی،اضافی،قیدي،اداتي ترکیبواو هم په جملو کې دننه یو راز اوډون او ترتیب لري. دساری په توګه به هیڅ پښتون داونه وايي:کور زما –دېوال سپین-...
یا په جملو کې:ځلمی ما وهلی،ما وهلی ځلمی،زه ونیولم تبې...
البته شعري ژبه هم دیوې داسې غیر عادی ژبې یو مثال ګڼل کیږي.(جبارخېل، ۱۳۹۴ : ۱۳۰)
یا لکه دغه لاندې منظومه جمله کې:
چرګ زما چرګان زما ګرځي په ډېران زما
کېدای شي د (وروسته له دې)د (له دې وروسته )په څېر،د (وروسته تر هغې )د (تر هغه وروسته ) ولیکل شي.یا( سر ببره پر دې ) د (پر دې سر ببره )په بڼه او نور...
که کوم دود ((معمول)) حالت څخه اوړې هرو مرو به په کې دویونکي یو ځانګړي مطلب پروت وي او داسې پېښې کوم ګړدودي توپیر او تقابل مینځ ته نه راوړي.
دایښي او ایښوني (مبتدا او خبر) ترمنځه سمون زیاتره دننګرهار خواته پېښیږي.لکه چې وايي: غنم غله ده.ځلمی توره بلا ده.پلوشه تور ښامار دی

Download from: https://liyanamiri.com

او داسې نور...(جبارخېل،۱۳۹۴: ۲۴) (لیکوال ورږمه مجله په پته کې ورکړې.) دغلجایي حصارک ګړدود کې دا ځانګرتیا هم شته چې د نوړې (جنس )له مخې په غوندله کې د (دی)او د(ده) یو ډول کاروي.لکه:سکندر زما ورور ده.

په خوږیانۍ لهجه کې د (زه ) متکلم ضمیر کله کله دلازمي په فاعلی حالت کې په (ما) اوړي. داسی تا هم دي. لکه: (ما او تا ځو) اره بڼه یې (زه او ته ځو )(ما او تا خبرې کوو.)(زه او ته خبرې کوو.)..(ما اوتا خط لیکو )د(زه اوته خط لیکو)یو ځای کاروي. ګورو چې داوسمهال په متعدی جمله (مااوتا خط لیکو )کې هم(زه )او

(ته)ضمیرونه په فاعلي حالت کې په (ما)او (تا)اوښتي دي.چې دا یو نحوي توپیر ګڼلی نشو.

یا لاندې جملې وګورئ او توپیر یې هم وڅېړئ:

۱:احمد لیک لیکي. لیک احمد لیکي.(احمد =فاعل،لیک (مفعول) لیکل (فعل)

۲:احمد محمود وهي محمود احمد وهي((احمد (فاعل )،محمود (مفعول )،وهل(فعل).

۳:احمد ښه سړی دی ښه سړی دی احمد.

۶: تاسو هم ښار ته شوئ. تاسو هم دښار لوري روان شوئ

دا او دي ته ورته ډېرې نورې بېلګې چې نحوي توپیرونه په ګوته کوي دژبنیو بدلونونو مثالونه دي.ما خو هسې دا یو څو ګډي وډې لیکنې سره راټولې کړې دي.

دتاریخ په بېلابېلو پړاوونوکې ژبه هم دسختوفرهنګي او سیاسي سېلابونو ښکار کیږي.او یا هم ځینې نور په خپله خوښه بدلونونه مني

Download from: https://liyanamiri.com

چې ځینې یې په معنې کې توپیرراولې او ځینې هسې سرسري او دتلفظ یا وینا توپیرونه دي.

۴:احمد راغلی ده ده (دی)،ملالۍ راغلې ده.(ده)

۵: سبیي چې دلته راوړه (خوړیانۍ) سهار چای له ما سره وڅښه

## دژبې دتغییر او مرګ لاملونه

### الف: دژبې دبدلون لاملونه

په ژبه کې دبدلون په اړه مخکې څه ناڅه غږېدلی یم خو یو څو ټکو ته باید اشاره وکړم.که دیوې ژبې تېر وخت (تاریخ)ته پام وکړو نو د(۲۰۰)کاله مخکې او اوسنې بڼې ترمنځ به یې هرومرو توپیر وي. ژبه دپوهونې راپوهونې یوه وسیله ده.چې دوخت په تېرېدو نور ګروپې بدلونونه په کې پیدا او نورې ژبې یا لهجې شي.که ګړدود معیاری کېدل وي چې وګړي پرې وپوهېږي نو دهماغې ژبې ګړدودونه دي او که توپیرونه ډېر وي هغه نو بیا بېله ژبه ده. لکه: د هرات او کابل دري. خو له ایرانۍ ژبې سره توپیرلري.دا چې وخت بدلون مومي، له دې سره انساني ټولې پدیدې هم بدلون مومي.

دالله (ج)له ذات پرته هیڅ هم په خپل حال ثابت نه پاتې کیږي. ماشوم لویږي ژبه یې هم بدلون مومي.دماشوم او ځوان یا لوی سړي ژبه او خبرې هم توپیر لري.ځکه دلغاتو زېرمه یې پراخیږي نوي نومونه یادوي. ژبه هم انساني او ټولنیزه پدیده ده نو بدلون مني. ژبه دپرمختګ پړاوونه هم مني نوځکه خو د لوستي او نالوستي ژبه توپیر لري. په ټولنه کې صنعت پرمخ روان دي نو صنعت هم ژبې ته بدلون او یا پرمختګ ورکوي. لکه:دکمپیوتر،موبایل، فلش، سی دي، فیسبوک، وایبر، مسنجر، ایمو

Download from: https://liyanamiri.com

او نورې کلمې چې نوې ژبې ته راننوتې دي. څومره چې ژبه کارول کیږي او ژوندۍ وي پرمخ ځي.

په ژبه کې ډېرې متروکې کلمې هم شته چې پخوا وې او اوس نشته یا یې پر ځای نورې کلمې کارول کیږي.یا یې بڼې دوخت په تیرېدو سره اوښتې دي.

د(مېرخمن)کلمه اوس نه کارول کیږي،پر ځای یې (دښمن )کارول کیږي.(اوجاړ)چې اوس په لږ لفظي بدلون سره د(خراب،ړنګ او ویجار )په معنې کارول کیږي..(یون،۱۳۹۴-۵۰۶)

مستعارې یا پردۍ کلمې هم په ژبه کې زیاتوالي رامنځته کوي او نور...

له ساده کلمو ویې جوړښت (ترکیبي –اشتقاقي)او نیو لوګېزم هم په ژبه کې بدلون او پرمختګ رامنځته کوي.

ب: دیوي ژبې او لهجې دمرګ لاملونه

کومې ژبې چې ونه کارول شي هغه مري.هیڅوک په دې خوښه نه دی چې په زوره خپل هویت او پېژندګلوي (ژبه )له لاسه ورکړي.دبشریت په تاریخ کې به داسې مثال نه وي چې مونږ ته داسې ولس راوښیي،چې خپله مورنۍ ژبه په رضا او خوښه له لاسه ورکړي. دیوي ژوندي او طبیعي ژبې زوال،مړینه او باالاخره له منځه تلل داسي یوه پروسه ده چې بېلابېل عوامل لري.دغو عواملو ته په (تیرایان او ژبه یې )نومي اثر کې اشاره شوي چې زه یې دلته راوړم:

((کله چې دیوي ژبې دویونکو شمېر داسې حد او مرحلې ته ورسیږي،چې نور دورکېدو په حال کې وي. په داسې حال کې دا ژبه دژوندیو ژبو له کتاره ووځي او کرار کرار خپل نوم او مقام له لاسه ورکوي.

Download from: https://liyanamiri.com

(کله داسې هم کیږي چې دځینو وجوهاتو له امله یوه ژبه دبلې ژبې ځای نیسي.هغه ژبه چې خپل ځای یې له لاسه ورکړي وي، نور نو دخلکو په مینځ کې دپوهولو راپوهولو دیوې وسیلې په توګه فعالیت نه شي کولای او ولس نور دخپل منځي اړیکو له پاره یوه بله ژبه دپوهولو راپوهولو د وسیلې په توګه په خپل منځ کې استعمالوي. ځکه یوه بشري ټولنه دژبې څخه پرته اصلا ژوند نه شي کولي.دا هغه څه دي چې په پخوا وختونو کې په مصر کې شوي او دمصري ژبې ځای عربي ژبې نیولی دی.

همدا شان هغه ولسونه یا نظامونه چې دخپلو موخو دترلاسه کولو له پاره په نورو ولسونو تیری کوي.دنورو ډېرو زیانونو په څنګ کې یې یو زیان داوي چې ددوی ژبه هم کرار کرار له منځه وړي او پر ځای یې خپله ژبه رامنځته کوي. مړې ژبې هغو ژبو ته وایي چې څوک یې نه کاروي.نو داسې ویلای شو چې دولس اوقام ژبه هغه وخت مري چې دوخت جابر او ظالم ځواکونه یې په ستوني او مرۍ چاړه راکاږي. نو له دې امله دا کمزوری ولس مجبور دی چې بله ژبه دخپل مینځې اړیکو دساتلو له پاره دیوې وسیلې په توګه وکاروي. ځکه بې له ژبې ژوند ګران کار دی او ټول انسانان دې ته اړ دي چې دخپل ژوند دپرمخ بېولو او ژوندي پاتې کېدو له پاره حتمي یوه ژبه په واک کې ولري.

ددې خبرې یو ډېر ښه مثال دالجزایر هېواد دی. کوم وخت چې الجزایر فرانسویانو لاندې کړ نو دنورواک ترڅنګ یې دا هم وکړل چې فرانسوي ژبه یې په کې حاکمه کړه او عربي ژبه یې شاته کړه. دوخت په تېرېدو سره په الجزایر کې یوه داسې لویه ستونزه را پیدا شوه چې خلک یې په اسانۍ سره په خپله ژبه نه پوهېدل. مطلب دادی، چې یوه ژبه هسې نه مري اونه داسمان څخه کومه ټکه پرې غورځي. دژبې دله منځه تللو او مړینې ټول عوامل او سببونه په ټولنه کې نغښتي دي.

Download from: https://liyanamiri.com

دالجزایر هېواد دازادي تر اخیستلو وروسته دخپلې نیمژواندې ژبې دبیا ژوندي کېدو تکل وکړ او دنورو عربي هېوادو په تېره بیا مصر څخه یې ژبې د زده کړې او تدریس استادان خپل هېواد ته راوستل تر څو په ښونځیو کې دعربي ژبې دزده کړې او تدریس چارې پرمخ بوځي او په دې اساس دوی وکړای شول؛ دعربي ژبې دمړینې او دله منځه تللو مخنیوی وکړي.

دژبې دبېرته راژوندي کولو ستونزه دېر ژراوګړندی نه شي ترسره کېدای. بلکې دوخت ځواکمن او تېرې کوونکي هېوادونه، لکه دمثال په ډول فرانسویانو په الجزایر کې تر سره کړل،که هغوی دا کار نه وای کړی او پردې اساس په ډېرې ژبې تراوسه پورې په هماغه پخوانۍ بڼه خوندي او ژوندۍ پاتې وای.

موږ دا ویلای شو چې په هر ډول لارو چارو چې یوه ژبه دکاراو فعالیت څخه ولوېږي او نور دا توان ونه لري چې دخلکو او ولس په منځ کې دپوهولو را پوهولوپه پروسه کې کار ورځنې واخیستل شي او دفکري فعالیت دلا ښه انسجام دیوې الې په ډول خلکو او ټولنې ته خدمت وکړي. نور نو دا ژبه ژوندۍ ژبه نه شمېرل کیږي بلکې خلک یې دمړو ژبو په لیک کې حسابوي....مونږ کولای شو چې په اوس وخت کې په اروپا ، هند اودنړۍ په نورو هېوادونو کې داسې پوهان او څېړونکي پیدا کړو چې په لاتین او سانسکرېټ باندې پوهیږي، ایا دغه پوهان به ددې توان ونه لري،چې په نومړو ژبو فکر وکړي؟

دا منلې او پر ځای خبره ده چې په داسی ژبودخلکو په منځ کې افهام او تفهیم نه شي کېداي، ځکه چې دا ژبې نورد خلکو او ولسونو په منځ کې شتون نه لري، مړې شوې دي. ددې امکان هم نشته دي چې معلومات پرې واستول شي،ځکه چې نور دپوهولو راپوهولو وسیله نه ده. او ځاي

Download from: https://liyanamiri.com

يې نورو داسې ژبو نيولې،چې خلک او ولسونه يې په خپلو منځو کې کاروي او خپلې ستونزې ورباندې حل کوي. (تڼيوال، ۱۶۵:۱۳۸۸)

لېرې که لاړ نشو زمونږ دګران هېواد لويديځ لوري ته په هرات او فراه کې پښتانه هم له دغسې بد بختۍ سره مخ دي چې اوس يې ډېر په پښتو نه پوهيږي او په خپل منځ اوځنې کورونو کې هم په هراتۍ يا فارسي خبرې کوي.

د(تيرايان او ژبه يې) اثر کې ليکوال زياته کړې او دتيرايي ژبو دمړه کېدو لاملونه يې په لاندې توګه په ګوته کړي:

-دپيرروښان له خوا په تيرايانو ظلم او زياتی کول، هغوی له خبرمې وژل اوپاتې نوردتيرا ښخه شړل اوبې ځايه کول.

-دوی دشړل کېدو له امله په وړو وړو اقليتونو باندې وېشل کېدل.

-ددوي په مينځ کې داړيکو نه درلودل،يعني يو له بل سره.(ملاتړ، ۱۳۹۴: ۹۶)

Download from: https://liyanamiri.com

## پایله

د لوی الله ج په مرسته د ګړدود پوهې مضمون مواد بشپړ شول. په دغه اثر کې د پښتو ژبې له بېلا بېلو ګړدودونو بېلګې راټولې شوي. دارنګه د ګړدود د ځانګړنو په اړه چې کوم مواد اړین وو، هغه مې په خورېيانې ګړدود کې وپلټل او دلته مې ځای پرځای کړل. په دغه برخه کې د ژبې او ګړدود په اړه پوره څرګندونې شوي او ګړدود د ژبې یو ډله ییز توپیر وښودل شو. د ګړدودونو په اړه داخلي او بهرنیو عالمانو څرګندونې کړي او د ساتنې او ارزښت په اړه یې په یوه خوله دي.

په ګړدودونو کې د خپلواکو تورو په څېر نا خپلواک توري هم یو په بل اوړي. پر داخلي لاملونو سربېره بهرني (سیاسي، ټولنیز، سوداګریز، لېږد او نور) لاملونه هم په ژبه کې د بدلون سبب ګرځي. دارنګه دژبو نه کارونه ددوی د له مینځه تللو لامل هم ګرځېدای شي. دنورو ژبو د وییونو ډېره کارونه یې هم یو دلیل دی چې ژبه خپل دریځ له لاسه ورکولی شي.

په پښتو ژبه کې ګړدودونه ډېر ډولونه لري چې کولی شو په اصلي او فرعي سرلیکونو یې سره وویشو. په ګران هېواد افغانستان کې د ګړدودونو څېړنه څه نا څه شوې خو بشپړ کار یې نه شو ګڼلی ځکه دغه کار نیمګړی پاته شوی دی.

په ژبه کې پر غړیزو بدلونونو سربېره نور بدلونونه (لیکدودي، لغوي، نحوي) توپیرونه هم باید له پامه ونه غورځول شي. لنډه دا چې ټول هغه لاملونه چې دژبې په ار سکښت او رغښت کې بدلون راولي او خلک یې د معیارې ژبې په پرتله په توپیر سره وایي نو همدغه ډله ییز یا ګروپي بدلون ته دژبې ګړدود وایو.

Download from: https://liyanamiri.com

## سرچيني


۱: اریانا دایرة المعارف، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۲: الهام،محمد رحيم.(۱۳۶۶ل). کابل مجله (عقرب ـ قوس) ګڼه: د افغانستان دعلومو اکاډمي.

۳: اورمړ،خليل الله. درسي لکچرنوټ،کابل پوهنتون.

۴: تڼيوال، مولاجان.(۱۳۸۸ل). ژبه او ټولنه،کابل: دافغانستان علومو اکاډمي.

۵: پښتو پښتو تشريحي قاموس(پنځم ټوک)،(۱۳۶۰هـ ل) کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۶: جاج پښتونزوی،حبيب الله.(۱۳۸۶ل).ځلور بحثونه،کابل: صميم ادبي ټولنه.

۷: جبارخېل،عزيزالله.(۱۳۹۴ل).دغلجايي حصارک ګړدود، ننګرهار: دمومند خپرندويه ټولنه.

۸:خويشکی،محمدصابر.(۱۳۸۶ل).پښتو غږپوهنه او ويپپوهنه، کابل: صميم ادبي ټولنه.

۹: خويشکی،محمد صابر. (۱۳۹۵ل). پښتو معاصر ګرامر،کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.

۱۰: ذاکر،طارق.(۱۳۹۴ل). روش بررسي لهجه های محلي(دماسټرۍ تيزس) ناچاپ.


Download from: https://liyanamiri.com

۱۱: رښتين،صديق الله.(۱۳۹۳ل).د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه، پېښور: د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.
۱۲: رښتين،صديق الله.(۱۳۷۲ل).پښتو ګرامر(د سيدمحی الدين هاشمي زباړه)،پېښور:يونيورسټي بک ايجنسي.
۱۳: زيار،مجاوراحمد.(چاپ کال نه لري). وييپوهنه،کابل:د لوړو او مسلکي ښوونو چاپخونه.
۱۴: زيار،مجاور احمد.(۱۳۸۴ل).پښتو پښويه،کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
۱۵: شاکر، نوراحمد.(۱۳۵۰ل). ژبنۍ څېړنې، کابل: کابل پوهنتون
۱۶: شپون،وجيه الله.(۱۳۸۹). د لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې اړيکې، جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.
۱۷: غوربندی،ميراجان.( ۱۳۹۵ ل).ګړدودپوهنه،کابل:جهان دانش خپرندويه ټولنه.
۱۸: غمجن تميل. (۱۳۸۶ل).د پشه يي خلکو محيط،ژبه او د شاعرانو معرفي،کابل:د افغانستان د قلم ټولنه.
۱۹: ملاتړ،زکريا.(۱۳۹۴ل).تيرايان او ژبه يې،کابل: د افغانستان دملي تحريک فرهنګي څانګه.
۲۰: منګل،علي محمد. (۱۳۸۱ل). پښتو لهجې،کابل: د افغانستان د علومو اکادمي.
۲۱: مياخېل، عصمت الله. (۱۳۹۵ه ل). د پوهاند رشتين د هنري نثر ژبنۍ ځانګړنې(د ماسټرۍ تيزس)، ننګرهار: ننګرهارپوهنتون.
۲۲: هوتک،محمدمعصوم. (۱۳۹۰ه.ل). پرمعياري ژبه دمعيار په ژبه يوه څېړنه،کابل: علامه رشادخپرندويه ټولنه.

Download from: https://liyanamiri.com

۲۳: یمین،محمدحسین. (۱۳۸۸). در امدی بر لهجه شناسي فارسي دری و نمونه های از لهجه این زبان، کابل: انتشارات سعید.

۲۴: یون، محمداسماعیل. (۱۳۹۴هـ.ل). د پښتوادبیاتو تاریخ (لرغوني دوره) ، کابل: د افغانستان ملي تحریک.

۲۵: شیری، علی اکبر.(؟). در امدی بر ګویش شناسی، ایران.

همدارنګه له ځینو درسي چپټرونو او ځینو نورو درسي یادابښتونو مې ځای ځای ګټه اخیستې.

Download from: https://liyanamiri.com

# Dialectology

Author: Ismatullah Maikhil

بنیاد لیان امیری
LIYAN AMIRI FOUNDATION

د دې کتاب مالي لګښت د لیان امیري بنسټ له خوا ورکول سوی دی